توري زلفي يې كمند دي دعاشق د سر زندي
دير په حسن آراسته ده راغي هرچه تاب لري
دوي يې ليخي مصري توري تل وهي د سر مري
خود پرسته پري وشه تل په زره كوي بازي
نازنينه ده دلجويه لهرچا كوي ياري
د هرچا چه مين دير وي څه وفاي له ياري

:۵. محمد حامد دورانی ( ۱۷۵۰ زېږدي، ۱۱۲۹ لېږدی. ۱۱۶۳ لېږدیز سپوږمېز)، احمد شاه دیوان، قلمي نخسه، ۵۹ چوپړي او د عبدالشکور، ۱۳۵۷لېږدی، ۹۱ چوپړي انځور.

* ما يې انځور باستلی دی، له ۸٤ يې د چوپړو(مخونو) جوسه لړ اورد دی. ( # ۴۱ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې انځور کې هم محمد حامد دوراني په خپل لاس د امپراتور احمد شاه بابا شعر د هغه په وړاندې کښلی دی. په دې اړه عبدالشکور رشاد هم په لاندې بڼه کښلي.

,, دا قلمي نسخه د تاشکند د ختیځ پېژندنې د انستېټیوت په کتابتون کې خوندي ده، لیکونکی یې محمد حامد درانی دی. دغه لړ معلومات د تاشکند د خطي کتابو د کتلاک تر ۲-۱۵۹۴ نمبر کتاب لاندې راغلی دی، د دې قلمي زیات ارزښت دا دی چې لیکونکی یې خپله د احمد شا بابا معاصر دی او دا نخسه یې په خپله د احمد شاه بابا په ژوند کې لیکلې ده. د دیوان کار یې په ۱۱۶۳هـ ق کې سرته رسیدلی دی او احمد شاه د دیوان په پای کې داسې ویلي دي.،،

,,کتاب ختم په دوشنبې
موږ به څو تاسي دلې

په وروستی ورځ د روژې
هزار صدو شصت و سې،،

(عبدالشکور، ۱۳۵۷لېږدی، ۲۵ او ۱۰۵ چوپړی)

احمد شاه بابا یوه امپراتور وو، هر انسان امپراتور جوړي دی نه شي، امپراتور الله ج موږ ته ډالۍ او رحمت را کړی وو، الله دې تل موږ ته داسې ډالۍ او رحمت را ډالۍ کړي چې له سوري لاندې یې زموږ وګړیو ته ودنه، هوسانیه، او بډاینه و کړي. دا یې زما د زړه شعر دی، بابا یوه مېړمن له هند څخه وه، که دا شعرونه نه وای موږ بې غوره به چېرته له دې خبر وای چې په ایران او هند مو نغارې وږي او زوره وره باچاهي مو پرې کړې.همدا د لرغوني پښتو شعر کښلې بڼه په لاس را کوي. بابا دلته په دې شعر کې. کره ترښتې او وی کره کښلې دي: لکه: ,, خوښ، شنه، ښامار، غاښ، شوه، ښکاره، ښو، شوه، نه شي، پښېمانه، شوه، نه شته. ،، ( محمد حامد دورانی، ۱۷۵۰ زېږدي، ۳۷ چوپړی)، (عبدالشکور، ۱۳۵۷لېږدی، ۷۱ چوپړی).

نن بیا هسې د ګلزار په ننداره څم | چې له یاره سره خوښ هم کناره څم
توري سترګې سره لبانو و شنه خالونه | ستا د لب په میو مست و مستانه څم
مسته درخته د چندن زلفې ښامار دي | رقیبان که غاښ چچي سر بریده څم
هله لاندې تر هاتي اوس یې موت یم | چې دا فتح مې روزې شوه نن ښکاره څم
چې رقیب د رقیبانو خدای پنا کړ | په تولې د ښو یارانو همواره څم
چې بر کړی مې خدای لاس پر رقیبانو | ترو به زه د هند پر لور په تما شه څم
چې د هند د ملکو فتح مې روزې شوه | نور ایران لره په توغ په نغاره څم
پر دا ګړې داد دې خدای نه شي پښېمانه | تر نګین مې ایران لاندې شاهانه څم
معشوقې د ایران ډېرې تورکې شوخې | خدای چې راکه تورکې هند ته دوباره څم
زه تسخیر د ولایت د خدای په دا کرم | په مدد د حبیب هره خوا تازه څم



٦:. محمد حامد دوراني ( ۱۷۵۰ زېږدي، ۱۱۲۹ لېږدی. ۱۱۶۳ لېږدېز سپوږمېز)، احمد شاه دیوان، قلمي نخسه، ۳۷ چوپړي، او د عبدالشکور، ۱۳۵۷لېږدی، ۷۱ چوپړي انځور.

* ما يې انځور باستلی دی، له ۸٤ یې د چوپړو(مخونو) جوسه لړ اورد دی. ( # ۴۲ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژ. د یوې بې سروبوله انګېرنې له مخې د عبدالباري جهاني ,, یوه ځل بیا د لنډیو په باره کې ،، په پورتنی ,۱۵. ، کښه څېرکي یا برخه کې د ژ(ژې) ابېڅې لیکنه کې عیبونه، تېروتنې او زما څرګندول چې رونوي کتنه داسې:**

۱۹.۱۵ سرلیک، څېره ۲. ژ عبدالباري جهاني ,, یوه ځل بیا د لنډیو په باره کې ،، په دې لیکنه کې د لنډۍ‌یو، ټپو، ټیکیو او مصرۍ‌یو کچه، ۱۳۹۵ لېږدی، ( ګڼه یې په: دانې)

زما پلټنه داسې په ډاګه شوې یا زما څېړنه داسې ښودل شوې ده، د لنډۍ‌یو، ټپو، ټیکیو او مصرۍ‌یو انګړ څېړنچوپړو یا ریسرچ پانو لومړي ټوک، ۱۹.۱۵ سرلیک او څېره ۲. ژ کې:

۱. څېره ۲. ژ عبدالباري جهاني ,, یوه ځل بیا د لنډیو په باره کې ،، په دې لیکنه کې د لنډۍ‌یو، ټپو، ټیکیو او مصرۍ‌یو کچه، ۱۳۹۵ لېږدی، ( ګڼه یې په: دانې)
۲. ګڼه: ۲۱
۳. راټولونکي / لیکونکي نوم: عبدالباري جهاني
٤. لیکی / لیکنه: یوه ځل بیا د لنډیو په باره کې
٥. چاپ کال / نا چاپ: ۱۳۹۵ لېږدی
٦. ټول ټال لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ: ٥۱
۷. لنډۍ Lánḍéy: ۲۲
۸. ټپې Ṭapé: ۱۸
۹. ټیکی Ṭikéy:
۱۰. مصرۍ Mésréy: ۱۱
۱۱. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ لنډۍ Lánḍéy: ۱۱
۱۲. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ ټپې Ṭapé: ۱۸
۱۳. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ ټیکی Ṭikéy:
۱٤. ▲ سړو ته منسوبې Related to men؛ مصرۍ Mésréy: ۱۱
۱٥. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ لنډۍ Lánḍéy: ۱۱
۱٦. ▲ ښځو ته منسوبې Related to women؛ ټپې Ṭapé: ۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷. ▲ ښځو ته منسوبې؛ Related to women؛ ټیکۍ :Tikéy

۱۸. ▲ ښځو ته منسوبې؛ Related to women؛ مصرۍ :Mésréy ۹

۱۹. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - :wanà (ځرګند واو یا وې بېواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې لنډۍ :Lánḍéy ۱

۲۰. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( ځرګنده یې یا لنډه یې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه او ینه؛ سره بشپړې شوې لنډۍ :Lánḍéy ۳

۲۱. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور ولري یا رښتې پښېلې هې ,, ه ،، ځځه مخکې ابېځه نې ,, ن ،، زور و لري) نه؛ سره بشپړې شوې لنډۍ :Lánḍéy ۱

۲۲. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ) maná منه مجهوله هې) مه؛ سره بشپړې شوې لنډۍ :Lánḍéy ۸

۲۳. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی , ه یا ـه :. xpalə, maɣolə, xwalə, tralə ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې لنډۍ :Lánḍéy

۲۴. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورواله هې (زور) , ه یا ـه :. konatawará, zargará, kaftará ará, aṛ, baxtawará (کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې لنډۍ Lánḍéy :

۲۵. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - :wanà (ځرګند واو یا وې بېواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې ټپې :Ṭapé ۶

۲۶. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( ځرګنده یې یا لنډه یې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه او ینه ؛ سره بشپړې شوې ټپې :Ṭapé ۲

۲۷. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور و لري) نه؛ سره بشپړې شوې ټپې :Ṭapé

۲۸. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ) maná منه مجهوله هې) مه؛ سره بشپړې شوې ټپې :Ṭapé ۱

۲۹. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی , ه یا ـه :. xpalə, maɣolə, xwalə, tralə ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې ټپې :Ṭapé

۳۰. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورواله هې (زور) , ه یا ـه :. konatawará, zargará, kaftará

(c) ketabton.com: The Digital Library





(کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېري لړې شتون لري؛ سره ará, aṛ, baxtawará, بشپړې شوې ټپې :Ṭapé

۳۱. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - :wanä (خرګند واو یا وې بېواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې ټیکی :Ṭikéy

۳۲. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( خرګنده يې یا لنډه يې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) يينه او ینه؛ سره بشپړې شوې ټیکی :Ṭikéy

۳۳. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور ولري) نه؛ سره بشپړې شوې ټیکی :Ṭikéy

۳۴. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ( maná منه مجهوله هې) مه؛ سره بشپړې شوې ټیکی :Ṭikéy

۳۵. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی , ه یا ـه ،: xpalə, maɣolə, xwalə, tralə ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېري لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې ټیکی :Ṭikéy

۳٦. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورواله هې (زور) , ه یا ـه ،: konatawará, zargará, kaftar (کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېري لړې شتون لري؛ سره ará, aṛ, baxtawará, بشپړې شوې ټیکی :Ṭikéy

۳۷. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - :wanä (خرګند واو یا وې بېواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې مصری :Mésréy ۲

۳۸. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( خرګنده يې یا لنډه يې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) يينه او ینه؛ سره بشپړې شوې مصری :Mésréy ۵

۳۹. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور ولري) نه؛ سره بشپړې شوې مصری :Mésréy

۴۰. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ( maná منه مجهوله هې) مه؛ سره بشپړې شوې مصری :Mésréy ۴

۴۱. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی , ه یا ـه ،: daṛə, xpalə, maɣolə, xwalə, tralə ( ترله، خوله، مغوله، خپله، دړه) ډېري لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې مصری :Mésréy

۴۲. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ؛ زورواله هې (زور) , ه یا ـه ،: konatawará, zargará, kaftará

(c) ketabton.com: The Digital Library



(کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ará, ar, baxtawará, ډیرې لړې شتون لري؛ سره بشپړې شوې مصرۍ Mésréy:

۴۳. ټول ټال د لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو د مسرو ( پټ، نیم بیتۍ، نیمه کړۍ، نیم بند یا مسره د پیلي نیمه کړۍ، نیم بند یا نیم بیت) کچه: ۱۰۲

۴۴. ټول ټال د لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو د لړونو ( چې یکړ، یوون، مفرده وۍ یې لړ یا ردیف دی؛ د هې ,, ه ،، ابېڅه ) کچه: ۵۱

۴۵. د لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو د نه ماتیدونکي پښـېله (حکمي قافیه) کچه: ۵۱

۴۶. ټول ټال د لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو د څپو ( څپیزو، څپې، سپلابو، هجاوو ,, سیلیبلس Syllables،، د ابېڅو شمېرلو) کچه: ۱۱۱۲

۴۷. ټول ټال د لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو د زورنو( خجیزو، خجونو، اکسنټو ,, لفظ، د موسیقي نوټونه: د خج نښې: د توري په سرنښې , چې د تلفظ د جګوالي او ټیټوالي زور، او ږدوالی، کیفیت ښیي،: ټینګې , لهجې ،: تاکیدي: بیلوونکی نښې: د وینا , ځانګړې، خاص او بېل ، ډولونه. :Accents, Morphemels ،،) کچه: ۲۵۵

۴۸. ټول ټال د لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو د ترنګټوک مېچې کچه: ۵۱

۴۹. ټول ټال د لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو د لوړ ترنګټوک (د پاینی مسرې پاینی څپه یا خوږه غږې اواز په لوړه وي چې ډېری یې په ینه، او نه سره راځي چارباغی لغمانی یې بولي یا د کیسو (داستاني) لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری یې بولي او پاتیشوني نورې چې وروستاړې غږ په ځوړ راځي دي ) مېچې کچه: ۱۱

۵۰. د لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو د ځوړ ترنګټوک مېچې کچه (چې ترنګټوک په کې په ځوړ یا ټېټوالي وي): ۲۱

۵۱. دیفتنګونه (غبرګغږون)، ناترویکي، ترویکي، سټربل، اوسټربل، پارنویکي، بلنویکي، اندیښني او هیېجاني چغې لکه: وی، وه!، وا، نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه! ... . :

۵۲. کره شوې Action Req'ed ( ویار (عیبونه) او تېروتنې سمې شوې) ■ : ۶۴۲

۵۳. خبرداری (Caution) ● : ۳۷

۵۴. کنټرول کې (In control) ✓ : ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٦. په بشپړولو يې اثر

د غوښتنو تول تال ګڼه او کچه يې نېغه اړېکه له ارزښت سره لري.

د لنډۍ يو، ټپو، ټيکۍ يو او مصرۍ يو د غوښتنو ډېروالی: د دوی د ارزښت ټاکلي ګڼه يې د غوښتنو د کچې ډېروالی دی.

بېلګه يې داسې په پوښ کې کېږي او زما څرګندول چې روښوي کتنه داسې:

۱. د لنډۍ يو، ټپو، ټيکۍ يو او مصرۍ يو د يادونکو او ويونکو د شمېر ډېر والی د دې سبب ګرځي چې د لنډۍ يو، ټپو، ټيکۍ يو او مصرۍ يو په غوښتنو کې هم ډېروالی راځي او په بشپړولو يې اثر غورځوي.

۲. د وګړو مينه او خوښونه له لنډۍ يو، ټپو، ټيکۍ يو او مصرۍ يو سره د پښتو ژبې له شعرونو په غوښتنو کې ډېر والی راولي.

۳. د لنډۍ يو، ټپو، ټيکۍ يو او مصرۍ يو يادول او کښل په وګړو کې د زده کړې او ليک د چټک پوهاوي سبب کېږي.

٤. د لنډۍ يو، ټپو، ټيکۍ يو او مصرۍ يو يادول او کښل په وګړو کې د خپلې مورنۍ ژبې د ودې او پرديو ژبې مخ ډېکولو لمن غوړوي.

٥. لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ چې خوک ښه ليکي او د پښتون پښت، اوبپانو، ليکيتون او يا برېښليک ليکيتون ته يې رسوي. ډېر ښه کار کوي؛ زموږ وګړي ترې ګټنې اخستلی شي؛ د ليد او لرليد د بريا جوګه يې ګرځي؛ که جغات په يوې کره پښتو و شي؛ ډېر به غوره او يېبره يا ثمره به يې هم ډېره وي؛ په دې کې زموږ ژبې يوې کره لارې په لور مزل وهي؛ او نېغ د بريالتوبونو په فضايي ستيشن لوري ته ورځي او خپل تمځای يې جوړوي.

٦. ناکره کښل، ليکل، ويار (عيبونه) او تېروتنې په پښتو کښلو ( لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ) په بشپړولو يې ناوړه اثر غورځوي. ويار (عيبونه) او تېروتنې له هر انسان څخه کېږي، انسان په آر کې نيمګړی دی، هر تن چې څه کړي دي او کوي يې، ويار (عيبونه) او تېروتنې لري، خو ليکنې او ليکي يې کښلي دي چې ويار (عيبونه) او تېروتنې لري، که ليکنې يا کښلي يې نه وی نو هېڅ به نه وو، موږ به داسې په پوخ کې کړي شيان نه درلودل. ځکه وايم چې څه يې کښلي دي چې څه په کې شته دې که هېڅ يې کښلي نه وی، نو بيا به هېڅ نه وو، د هېڅ څخه خو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښل غوره دي، بابېزه (نا ځېزه) ده چې ویار (عیبونه) او تېروتنې لري، کوم بوژن (وهشت) نه زوکړه کوي. خو ځینې بیا د یوې پښتو د نوي لیک دود، دود ته بوژن کېږي او د نوي پښتو کړی په خوله تنګه او په کښلو راکړی کوي.

۷. په نوي عصر کې که کښلې ویار (عیبونه) او تېروتنې و لري او په غاړه یې واخلي او د کره کولو لور ته یې رټ لنډېږي ګامونه پورته کړي، نو د بریا او پرمختګ پیله به یې یېبره (بې ثمره) نه وي. ځکه په تېره کې به د تېرې کړنلارې او کړنو څخه ګټنې اخېستل کېدلې، خو اوسمهاله نوې ټکنالوژۍ په نویو کړنلارو سره ترې ګټنې اخېستل کېږي.

د ۷ اووه واړو د غوښتنو کرښه ښی لورې ته ځای بدلوي.

ځېره ۶. ۲ الف د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو د غوښتنو د بشپړلو د اثر کرښه ښی لوري ته ځای بدلوي. کچه ( ګڼه یې په: دانې)




ځېره ۲.۶ الف د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو د غوښتنو د بشپړلو د اثر کرښه ښی لوري ته ځای بدلوي. کچه (ګڼه یې په: دانې)

د غوښتنو تول تال ګڼه او کچه یې نیغه اړیکه له ارزښت سره لري.

د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو د غوښتنو کمښت او کمتون: د دوی د ارزښت ټاکلي ګڼه یې د غوښتنو د کچې ډېروالی مخالف یا برعکس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هره بڼه چې د پښتو ژبې سره تمبلي، سوپې زده کړې، بې غوري، بې پامي او ناګڼليتوب په غوښتنه کې کمښت او کمتون راولي په دې خاطر چې د پښتون پښت هر دښن د پښتو ژبې د تم کولو او د خپلې ژبې را زوکړه کول کوي.




ښېره ۳.٦ ب د لنډی‌یو، ټپو، ټیکی‌یو او مصری‌یو د غوښتنو د بشپړولو د اثر کرښه ګست لوري ته ځای بدلوي. کچه (ګڼه یې په: داني)

د ځای بدلون د غوښتنو او وراندې کولو په کرښه کې هغه څه چې موږ یې غوښتنه لرو اغېزه کوي او کې دی شي د کرښې په لورو او غوښتنو د ځای د تګ سبب شي چې په لاندې بڼه دي.

۱. د هڅو د بدلون د ښمن د ژبنی‌یو تعصبونو د سرچینو له پاره
۲. د خپلو ژبو او بېل ژبو د ګټو له پاره
۳. د ښن د ټولو ګړنو سره په ورته بڼه کړنې کول
۴. د راتلونکي پرمختګونو له پاره هېلې او غوښتنې، د وراندې کوونکو ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷. تاثیر نه شمېرل کېدونکی

د پښتو لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ۷. تاثیر نه شمېرل کېدونکی سر لیکه د دې پېله ساده برابروي دا چې د پښتو لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه د نورو ژبو په ژباړنې کې نه شته. او نه په نورو ژبو کې د پښتو ژبې په شان خوندور خوږوالی لري.

لکه: الله ج د نوم غونډلې سبحان الله، الحمد الله، الله اکبر، عظیم، عزیز، رحیم، رحمن، .... چې په پښتو ژبه یا بلې هرې ژبه کې یې ژباړه راوړو لکه:. پاک دی الله، ستاینې الله لره دي، الله لوی دی، ستر، قوي، رحم کوونکی، رحم لرروونکی، ... . دا پښتو ژبې ته مې ژباړلې نومونه دومره وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه نه لري او په نورو ژبو کې هم نه شته. لکه څنګه چې په خپله په دې سبحان الله، الحمد الله، الله اکبر، عظیم، عزیز، رحیم، رحمن، ... عربي نومونو کې وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه شتون لري خو پرته د خپلې ژبې په ژباړه یې پوهېدل هېڅ دي، ځکه بر پرې پوهېږي.

دا ځانته الهامي مانا او په رازونو پوهېدونکې او له هغه سره په اړیکه کې، پرې انسان پوهیدلی شي. د اصلي غونډلې غښتلی روح پېژني، هر انسان چې هغې پوهې ته ورسېږي چې ټول سره په پاینې فکر کې یوه تمځای باندې ګډېږي. بیا د دې نومونو وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه چې د پینې ژوې یې په لنډ لیدی مومي او څنګل ورته سروېږدی کوي.

د پوهاوي او مطلب رسونې له پاره نورو ژبو ته یې ژباړه زه بې کچې لېیلم چې ګټنې لري. خو خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه نه لري، تر څوپورې چې ورته پښتو ژبه زده کړي، بیا به د پښتو لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو په خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه پوی شي.

دا نور هر یوی پرې تاثیر نه شمېرل کېدونکی دی. د نورو ژبو ژباړه او په هغو ژبو کې مانا، نه خوندور خوږوالی، نه وزن، نه لفظي او معنوي مانا، نه دروندوالی او نه اغېزه، د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو تاثیر نه شمېرل کېدونکی دی.لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. ,, نخواهم مرک، چشمم باز بکذارید، ای مردم! * که روحم انتظار دیدن آن بیوفا دارد.،، ( محمد رحیم، ۲۰۰۰ زېږدی، ۷۲ چوپړی)

۲. ,, اګر خود عاشقی ز آتش نمیبود* در آتش پس چرا پروانه میسوخت؟ ،،
( محمد رحیم، ۲۰۰۰ زېږدی، ۷۲ چوپړی)

۳. محبوبم در زین بسویم خم شد، بر نوک پنجه ایستاده با و بوسه میدهم.

My beloved bent himself down to me from the saddle; I will give him a kiss on tiptoe.

(عبدالروف،۱۳۳۷لېږدی، ۱۴ چوپړی)

۴. ,, میرے هاتھ سآ پهول پانی میں بہہ گیا
اے غم شریک یار پنگھٹ کے کنارے هی ڈیره ڈال دو،،

(عبدالروف، ۱۳۸۷ لېږدی، ۷۶ چوپړی.)
او داسې نور.....

الف.
ستړګې مې مه پټوئ، خلکو!
روح مې معطل دی، بېوفا جانان راځینه.
ب.
که مینتوب له اوره نه وی،
پتنګ به ولې شیرین ځان په اور سواځنه؟
پ.
جانان په ځین کې راته کوږ شو
د جستو څوکې لکوم خوله ورکومه
ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ګل مې له لاسه اوبو در ووړ
په غم شریک لالیه نیسه ګودرونه

د ډانګ پیلی وینا خاوند په شان دا په سپینه وایم او کره یې بوروم چې هېڅ کله به پورتنې ګڼې ۱.، ۲.، ۳.، او ۴. چې د الف، ب، پ، ت ابېڅې ټپې او لنډیو ژباړه ده هېڅ خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه نه لري، لکه: د الف. ټپه او د ب، پ او ت ابېڅې لنډی چې ښه خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه لري. په کې ډېرې اسانتیاوې شته دي چې وکتل شي ورته چې یوه څه شته دی چې د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو باندې تاثیر نه شمېرل کېدونکی دی. که د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د ژباړې غونډله خپله د ژباړن مورنی ژبه او یا علمي مسلکي ژبه هم وي. خو خپله چې خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا، څپېزې او زورنې مېچه، دنی سکالو، ترنګتوک، دروندوالی او اغېزه چې په خپله پښتو ژبه کې شتون لري، دا اصل چې هر څومره پرې نږوال ادیبان وکښي د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو ژباړې غونډلې په لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو تاثیر نه شمېرل کېدونکی دی.

۱. لکه څنګه چې پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام وایي ,, زه ادعا نه لرم چې د ژباړنې له عهدې نه پوره بریمن راوتلی یم. زه د ژبپوهنې او ادبپوهنې د یوه دقیق او کنجکاو زده کوونکي. په توګه د خپل کار په نیمګړتیا وو پوهېږم. ما په ژباړنه کې، تر هغه چې مې کولی شول، د مطلب روح خوندي ساتلي دي، خو د هر بیت وزن د رعایت کولو له پاره لفظي او معنوي کموالې او زیاتوالې په هره پارچه کې څرګند دی... ،، ( محمد رحیم، ۲۰۰۰ زېږدی، ننتوزي ی چوپړی )

د پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام په اند کې د هرې لنډی، ټپې، ټیکی او مصری ژباړه کړې، د مطلب روح یې خوندي ساتلی او د هرې مسرې وزن د رعایت کولو له پاره لفظي او معنوي کموالې او زیاتوالې په هره پارچه کې څرګند کړی دی.

دا کړنه یې ډېره د ستایلو ده چې څه خو یې کړي دي که هېڅ څه یې کړې نه وی نو هېڅ به د پښتون پښت د بېل ژبو له پاره شتون نه درلودل. د پښتون پښت د بېل ژبو له پاره د هغوی په ژبه کې ژباړه د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو اصلي روح نه شي په ډاګه کولی، مګر د پوهاوي او مطلب رسونې له پاره نورو ژبو ته یې ژباړه زه بې کچې لېیلم چې ګټنې لري. خو خوندور خوږوالی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزن، لفظي او معنوي مانا، څېړنې او زورنې مېچه، دننی سکالو، ترنګتوک، دروندوالی او اغېزه نه لري، تر څوپورې چې ورته پښتو ژبه زده کړي، بیا به د پښتو لنډۍ‌یو، ټپو، ټیکۍ‌یو او مصرۍ‌یو په خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه پوی شي.

زه پوره لېیلم چې د پښتنون پښت ببل ژبې ځښي ګویا ډېرې یې له پښتو ژبې سره تربګنی او دښمنی لري، چې ما یې پورته په خلورو ګنو کې غونډلې کښلي دي، د پوهاوي او مطلب رسونې مانا را اخلې او د اصلي روح سپېڅلتیا او غښتلتیا یې بولې او ارزښت ورته ورکوي. د ببل ژبو ارزښت یا هره بنه لړلی ارزښت یې د لنډۍ‌یو، ټپو، ټیکۍ‌یو او مصرۍ‌یو باندې تاثیر نه شمېرل کېدونکی دی.

په لنډېۍ‌یو کې یې وکځۍ!!

په زړه مې ستا د مینې داغ دی،
داغ مې څراغ دی رڼایي راته کوینه.

دلم ای دلبر از ګرمی عشقت شده داغ * روشنایی دهد آن داغ مرا مثل چراغ.

اوښکې ناولې دي که ولې،
زما په خیرې ګریوان ځې لمونځ پرې کومه.

من ندانم اشک من نا پاک باشد یا پاک* ازګریبانم فرو ریزد بر آن خوانم نماز.

د لیرې مرم د نېږدې سوځم،
زه لیونی طاقت د دواړو نه لرمه.

میمیرم از فراق تو، میسوزم از وصال* دیوانه ام، توان خود از دست داده ام.

له پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام سره سم. لکه څنګه چې راپور شوي د هغه په واسطه چې د ژور پام کونکي په بڼه هغه د لیک دود نخښې لکه: د لنډۍ‌یو، ټپو، ټیکۍ‌یو او مصرۍ‌یو په هره مسره کې د چپه پېښ ,, ، ,,؛ ندایه ,, ! ,,؛ پوښتنې نخښه ,, ؟,,؛ او ټکی ,, . ,, کارونه اړینه بولې او په خپل لیکي کې کښلي دي. ما هم پرې سرخوځولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته په دې سپړنه کې تر ټولو ستر نادره او هېښونکي راته په لنډۍیو، تپو، ټیکۍیو او مصرۍیو په هره مسره کې لیک نخښې( Punctuation)

بې له تورو نه یوه شمېر علامې، ټکي او نښې شته، چې د لنډۍیو، تپو، ټیکۍیو او مصرۍیو په لوستلو کې دخل لري او هرې مسرې یوه جمله یا کلمه د اشتباه او ابهام څخه ژغوري.

یانې د دغو نښو اوټکو په لیکلو سرې پوهېږي، چې په کوم ټکي باید ودرېږي او کومه جمله یا کلمه په بلې پورې و تړي. د تعجب، نوا، پوښتنې، خطاب او نورو کیفیاتو څرګندونه په همدغو نخښو اوټکیو کېږي. چې د لنډۍیو، تپو، ټیکۍیو او مصرۍیو په لیکلو کې ډېر غوره والی لري.

د دې له پاره، چې د لوستونکي سره د لیکنې په برخه کې پوره مرسته شوې وي، د لنډۍیو، تپو، ټیکۍیو او مصرۍیو د هرې مسرې د اواز ټېټوالی او لوړوالی په لومړي ټوک ۱۱. سر لیک کې و ګورئ. په لومړي ټوک ۱۲. دفتنګونو په مخ لیک کې ما لیک نخښې له پخوا کارولي وي چې له دسره مې پردې کښلې سر وخوروو.

ما د ده لیکی څېړلی سپړلی دی، لنډۍ ها (پښتو لنډۍ او د هغو فارسي ژباړه،۴۰۷ لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ټولې سره ګډې دي، چې وطن په اړه یې ۲۶، پردیسي ۱۸، بېلتون ۲۲، دیدار ۲۲، پخلاینه ۱۴، مینه ۵۲، غېږ ۱۲ ، زلفې او اوربل ۱۰ ، زړه او سترګې ۴۲، خندا او خولګۍ ۵۲، وير ۱۳ ، تومت ۱۰ ، وفا ۷، ګلونه ۴۰، ګودر ۶، راز، راز ۶۱ راټولې کړې)، د اریک سیار کتابتون اداره له چاپه رمټ تېر کړی دی، مسلسله ګڼه یې ۴۳، د عامه کتابتون کې د موندلو ګڼه ۳۹۸/۲ ل ۳۸ الف، ۱۶. (۱۳۷۹ لېږدی) دی.

په دې سر لیکنه کې یې ما په ټوله کې همداسې د راټولو کړل شوې بڼې و کښلې چې زما هم ډېرې خوښې شوې او دا لاندېنۍ مې پرته له ژباړې وکښلې تر څو د پښتو لنډۍیو، تپو، ټیکۍیو او مصرۍیو په خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه پوی شئ!

▲ کابل زما، زه د کابل یم،

که سر مې لاړ شي، کابل نه پرېږدم مینه!

▲ کابل ته مه وایه چې وران شي،

په کې پراته دي پښتانه د ننګ مېړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ کابل د ښو ځوانانو ځای دی،
ما د نیستۍ د لاسه پرېښو ده، مینه.

▲ کابل د ګلو ډک دی، خدایه،
زما یا دېرې د لغمان شینکي باغونه.

▲ تا د سفر موزې په پښو کړې،
د ژېړو ګلو باغ په چا سپارې مینه؟

▲ جانانه، څه الله دې مل شه!
زه پښتنه یم، ستا پر پټ به ناسته یمه.

▲ د لوې لارې مسافره،
په دیدن موړ شوې، که مخ بیا دروړومه؟

دا یې د لیکي انځور دی.


پرلوره وخبږه، ځار وکړه،
چې د پردیسو کډې چېرې اړوینه.
فرازتپه برآی وبه گرد قافله بین، *که رخت میفگنند این مسافران به کجا؟
* * *
تا د سفر موزې په پښو کړې،
د ژېړو ګلو باغ په چاسپارې مینه؟
موزه بهر سفر به پا کردی، * چی شود سرنوشت این گل زرد؟
* * *
جانان چې ځې مخ ته دې ښه شي!
زړه یې زما په زلفو بند دی، رابه شینه.
میروی یارم، خدا باشد نگهدارش! مگر* بازمی آید، دلش در بند زلفان من است.
* * *
جانانه، څه الله دې مل شه!
زه پښتنه یم، ستا پرپټ به ناسته یمه.
برو، جانا، خدا یادت نگهدار!*من افغانم، به نامت مینشینم.
* * *
جدایي راغله، لارې دوې شوې،
مرګ مې قبول دی، جدایي نه قبلومه.
راه ما از هم جدا شد، وقت هجران دررسید*مرگ را دارم قبول، اما جدایی مشکل است.
* * *
د لوېې لارې مسافره،
په دیدن موړ شوې، که مخ بیا دروړومه؟
ای مسافر، سیرشد چشمانت از دیدارمن؟*بیا بگردانم به سویت باز روی خویش را؟

۸

د نیمو شپو سندرې خوند کړي،
څوک به مین وي، څوک به ورک وي له وطنه.
دلنشین باشد سرودنیمه شبگاهان، که هست * نغمه، عاشق، وبا گمگشته، دور از وطن.
* * *
د هندوستان سفر دې زار شه!
زما په تور اوربل کې سپین ولګېدنه.
زهر بادت سفر هندوستان!*مشکسان کاکل من گشت سفید.
* * *
زلفې مې تاو کړې کړې نه شوې،
د مسافر آشنا په سر دې خیر وینه!
زلفان من چرا نپذیرفت پیچ وتاب؟* یارم مسافر است به دور از گز ندبادا!
* * *
زما د لیرې وطن یاره!،
رنګ مې دې هېر دي، په نامه دې ناسته یمه.
زیشم رفتی و دور از وطن گشتی، کجاهستی!* به نامت میشینم، گرچه رنگت رفته ازیادم.
* * *
سبا به بیا کډې، بار یږي،
د دښت ګلان به ستا لمنې بویوینه.
باز میبندند فردا کوچیان بارسفر،*بوی خواهد کرد دامانِ تراگلهای دشت.
* * *
سبا به کاڼي بوټي ژاړي،
چې یو آشنا له بله اخلي رخصتونه.
گریه خواهد کرد فردا سنگ کوه وخاردشت،*عاشقان مهر پرور میکنند از هم وداع.

۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷:. پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام،(۱۳۷۹ لېږدی)، لنډی ها ( پښتو لنډی او د هغو فارسي ژباړه)، د اریک سیار کتابتون اداره او مسلسله ګڼه یې ۴۳، د عامه کتابتون کې د مونډلو ګڼه ۲/ ۳۹۸ ل ۳۸ الف، ۸ او ۹ چوپړي انځور.

* ما یې انځور باستلی دی، له A٤ یې د چوپړو(مخونو) جوسه نیم برابر دی. ( # ۴۳ انځور)

۲. د عبدالروف بېنوا په لیکي لنډۍ چاڼ کوونکی او فارسي مترجم عبدالروف بېنوا انګرېزي ژباړه یې محمد ابراهیم شریفي کړې، پښتو ټولنه، ۱۳۳۷لېږدي کې د کابل عسکري مطبعې ( د ملي دفاع وزارت مطبعه) څخه له چاپه تېره شوې ټولګه ده، په عامه کتابتون کې یې د مونډنې ګڼه ۳۹۸/۲ ل ۴۵ ب کې زده کړه داسې ښه یې، ما څېړلې سپړلې، د پوهاوي او مطلب رسونې له پاره نورو ژبو ته یې ژباړه زه یې کښې لیېلم چې ګټنې لري.

خو خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه نه لري، تر څوپورې چې ورته پښتو ژبه زده کړي، بیا به د پښتو لنډۍ یو، ټپو، ټیکی یو او مصری یو په خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه پوی شي.

دا نور هر یوی پرې تاثیر نه شمېرل کېدونکی دی. ور وګرځئ مل شوي ۷. څېړکي ته.

,, سپوږمیه سر وهه راخېژه

زما لالی د لویو غرو مزل کوینه ،،

ای مهتاب! بشتاب و برآی،

محبوب من بشب های تار درکوهای بلند سفر می کند.

O, Moon! Hurry and arise; my beloved is travelling through lofty mountains.

( عبدالروف، ۱۳۳۷، ۵۳ چوپړی)، ( محمد رحیم،۱۳۷۹ لېږدی، ۱۰۲ چوپړی )

لانديې ټپه او لنډۍ یې زما په زړه پورې دي. د عیبونو او تېروتنو له پاره یې مل شوي لېکه په ۶. څېرکي کې و ګورئ.

نو زړه قاضي شو وېش یې و کړه

د مینې غم دی په تقسیم به یې کالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که په میوند کې شهید نه شوې
زما لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

د عبدالروف بېنوا د ليکي انځورونه ما په خپله پرې کړي دي او لاندې يې د ۳۵، ۱۶۶ او ۱۶۷ چوپړي انځورونه کټ مټ وګورئ.


که په میوند کی شهید نشوي
زما لالیه بی ننګی ته دی ساتینه
ترجمه :
اگر درمیوند شهید نشدی ،
محبوب من زمانه ترا برای بی ننگی نگاه میدارد .
*If you do not fall a martyr in the Battle of Maiwand;*
*Then Darling the times preserve you for future disgrace.*
-۳۵-

۸:. لنډۍ چاڼ کوونکی او فارسي مترجم عبدالروف بېنوا، انګرېزي ژباړه يې محمد ابراهيم شريفي کړې، پښتو ټولنه، ۱۳۳۷لېږدي، کابل عسکري مطبعې ( د ملي دفاع وزارت مطبعه) څخه له چاپه تېره شوې ټولګه ده، په عامه کتابتون کې يې د موندني ګڼه ۳۹۸/۲ ل ۴۵ ب، ۳۵چوپړي انځور.
* ما يې انځور باستلی دی، له A٤ يې د چوپړو(مخونو) جوسه نيم برابر دی. ( # ۴۴ انځور)


که می تهروغ لیونی نهکړی
نورمی دبنګو پیاله مه بوله مینه
ترجمه :
اگر ترادرست دیوانه نساختم ای محبوب من !
پس مرا پیاله بنگ خطاب مکن .
*If I dont maks you frensied with love;*
*Don,t call me the cup af lenbane.*
-۱۶۶-

چه زه کورنه یمه را مه شې
تاله به کور په بانو خوک جاروکوینه
ترجمه :
من که درخانه نباشم نیایی ای محبوب من !
ورنه خانه را برای تو کی بجاروب مژگان پاك خواهد کرد ؟
*Do not come when I am not home my darling;*
*Because who will sweep the house clean with his eyelashes if I am absent.*
-۱۶۷-

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹:. عبدالروف بېنوا د لنډۍ چاڼ کوونکی او فارسي مترجم، انګرېزي ژباړه يې محمد ابراهیم شریفي کړې، پښتو ټولنه، ۱۳۳۷لېږدي، کابل عسکري مطبعې ( د ملي دفاع وزارت مطبعه) څخه له چاپه ټېره شوي ټولګه ده، په عامه کتابتون کې يې د موندنې ګڼه ۳۹۸/۲ ل ۴۵ ب، ۱۶۶ او ۱۶۷ چوپړي انځور.

* ما يې انځور باستلی دی، له A٤ يې د چوپړو(مخونو) جوسه نیم برابر دی. ( # ۴۵ انځور)

د عبدالروف بېنوا پورتنی لنډۍ نومي لیکی زموږ وطندار ملکري اسدالله دانش په زیار، د دانش خپرندویه ټولنې مشر په زورنه، د نوې زیاتونې د اردو ژبې له ژباړې سره پښتو لنډۍ لیکی په کال ۱۳۸۷ لېږدي کې له چاپه سلامت تېر کړه او د کندوز ولایت د ربدي ګل مشاعري په ویاړ د چاپ په پساله پسولې.

د عبدالروف بېنوا د لیکي دوېیم چاپ انځور ما په خپله پرې کړی دی او لاندې يې د ۷۶ او ۷۷ چوپړي انځورونه کټ مټ وګورئ. چې درې واړه ژباړې يې په اصلي لنډۍ روح سپینې ته باستلی، د هرې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ژباړه يې کړې، د مطلب روح يې خوندي ساتلی او د هرې مسرې وزن د رعایت کولو له پاره يې لفظي او معنوي کموالی او زیاتوالی په هره پارچه کې څرګند کړی دی.

دا کره بوږوم چې هېڅ کله به لاندینۍ ۷۶ او ۷۷ چوپړي لنډۍ‌یو ژباړه ده هېڅ خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه نه لري.

لکه: نوموړي چوپړي لنډۍ چې ښه خوندور خوږوالی، وزن، لفظي او معنوي مانا دروندوالی او اغېزه لري. په کې ډېرې اسانتیاوې شته دي چې وکتل شي ورته چې یوه څه شته دی چې د لنډۍ‌یو، ټپو، ټیکۍ‌یو او مصرۍ‌یو باندې تاثیر نه شمېرل کېدونکی دی.




۱۰:. دانش خپرندویه ټولنه، پښتو لنډۍ، عبدالروف بېنوا د لنډۍ چاڼ کوونکی او فارسي مترجم، انګرېزي ژباړه يې محمد ابراهیم شریفي کړې او تاج الدین يې اوردو ژباړه کړې، ۱۳۸۷ لېږدی) له چاپه ټېره شوې ټولګه ده، په عامه کتابتون کې يې د موندنې ګڼه ۳۹۸/۲ پ ۴۵ ب، ۷۶ چوپړي انځور.

* ما يې انځور باستلی دی، له A٤ يې د چوپړو(مخونو) جوسه نیم برابر دی. ( # ۴۶ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, په تاريخي بنه چي زموږ په لاس کي راغلي دي. هغه په دوېيمه ګڼه د جنګي او سرلوړی ( حماست و افتخار) شعرونه دي چي د يوولسم لېږدېز پېړی څخه وراندې چي له هغې ورسته پټه خازنه زموږ لاسته په ليکلي بنه راغلي، له ۱۱۰۰ لېږدي څخه وراندي هغه د امير کروړ جهان جنګي شېر او د بابا هوتک جنګي شېر چي مېړانه او ملي قوت قوه په کي په پوره بنه شتون لري، په همدې بنه زموږ په ولس کي له لرغونو وختونو څخه سرخندنه، مېړانه او ملاتړ د پهلوانانو، د وګړو د غرور او لويي وو، له ملي شعرونو سره، د ځوانانو مېړانه او غيرت تل مېرمنو ستايلی دی او د دوی په ځوانی يي غرور کړی دی.

په دي ملي لنډی کي خومره هڅونه شتون لري. لاندېنی کښلي او انځور يي وګورئ.

جانان مې تپ پر تېر و خوړ
په جګ مغزی د کلو پېغلو کي ګرځمه

له سپيني توري نه دي ترپلود
پر بېګانی در کړي خوله پښېمانه يمه ،،

( عبدالحی حبيبي، ۱۳۳۹لېږدی، ۲۷۶ چوپړی)


جـانان مې تپ پر تېر و خوړ
په جګ مغزی دکلو پېغلو کي ګرزمه
لـه سپيني توري نـه دي ترپلود
پر بيګانی در کړي خوله پښېمانه يمه

۱۱:. عبدالحی. حبيبي. (۱۳۳۹لېږدي)، پټه خزانه، دوېيم چاپ ۲۷۶ چوپړي انځور. په ۱۳۲۲ لېږدي د اصلي پټې خزانې يوه نخسه د پښتو ټولنې لاس ته راغله او هغه يې استاد عبدالحی حبيبي ته د ډېرې شننې او دري ژبې شرحې او ژباړې له پاره په لاس کې ورکړه، نوموړی کار حبيبي په کابل، خوابګاه کې په ۱۳۲۳ لېږدي کې بشپړ کړه. او دوېيم وار چاپ ته يې د دري ژبې شرحې او ژباړې سره چمتو کړ، دوېيم چاپ يې په ۱۳۳۹لېږدي کې د پوهنې وزارت د دارالتاليف رياست کې د تذکرة الشعراء ,, پټه خزانه،، ۵۰۰۰ ټوکه له چاپه سالامت تېر کړي دي.

* ما يې انځور باستلی دی، له A٤ يې د چوپړو(مخونو) جوسه لړ اورېد دی. ( # ۴۷ انځور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د افغانستان په ټولو خوندي ځایونو یا ساتنځاینو، موزیم، یا ملي ارشیف کې د ساتلو شوو کښلو او لیکو زېرمه ځکه دومره شتون نه لري، یا هېڅ نه شته. ځکه چې زموږ په تاټوبي باندې مېرڅمنو، دښنو په وار، وار تړاکې، شخړې او جګړې مخزېږدي څخه وراندې راوړي هر څخه یې تالا، ورک او سوزولې دي. ځکه مو په لیکیتونو کې خپل کتابونه شتون نه لري هغه لیکي چې زموږ خپل دي او زموږ د وګړو له آر پورې تړلې دي. چې د پردی‌یو له ناوړه نیتونو او دسیسو څخه پاک دي چې له موږ سره تاریخې تربګنی لري. که هغه پر موږ پښتنو پورې تومبونی هم کړي هغه زموږ کیدلی نه شي. ځکه چې څوک له موږ سره دښمنی لري هغه زموږ ښه چېرته وایي.

د هغوی جغات (کوښښ ) دا دی چې موږ په پښتو ژبه رسمي لوست، رسمي لیک او رسمي یادول و نه کړو، د هغوی ژبې یادې او ورته درناوی و کړو، د هغوی د ژبې ویکي یا لغاتونه په خپله ژبه کې و کاروو. دري ژبې په دي جغات دي چې لغاتونه، نومونه، پیخلیک، اثار، رسمي څېړنې، سپړنې، لیک، لوست، د پوهنتونونو ژبه او لیکونه (مکتوبونه) دې په دري ژبه وي.

عربي ژبې په دي جغات دي چې لغاتونه، نومونه، پیخلیک، اثار، رسمي څېړنې، سپړنې، لیک، لوست، د پوهنتونونو ژبه او لیکونه (مکتوبونه) دې په عربي ژبه وي دومره د ژبې شرک دي پښتنو کې پیدا کړي، چې الله مه کړه داسې پام کوي چې د پښتنو بر رب په پښتو ژبه نه پوهېږي او یوازې په عربي ژبه الله علم لري او پوهېږي. همدا سبب دی چې د لیکلو دود یې له پښتنو څخه اخستی دی او له یاده د یادولو نغوتنه او تمبونه ورته کوي. چې په دین او پښتو به سر ماتي وي، خو یوه ایت او یوه کره پښتو غونډله به نه شي لیکلی. تا پاتیشونې پوهه تېر رښتنی اسلامي واکمنی چې له عربو موږ لورې راغله نو یهودیانو چې له عربستان سره ۴۲ کیلومتره نږدې ګاونډیتوب سرحدي پوله لري. ورته یادونه و نه وکړه چې اسلام مو له متیو لاړه د اجمو شو، پوهنتونونه د هغوی شو، ځمکپېژندنې هغوی وکړي، ریاضي او فزیک او پوهې لاس برې شو، د واکمنۍ دود او عادلنه وګړو پندونه یې خپله کړې ده، تاسو هغوی په دین لیکلو، پوهولو او ابېځو په لیکلو پوهه ورکړه. د دوی ټولنه پوهګړې شو په دین له تاسو څخه او تاسو ته بداینه او ځواک په لاس نه درځي د اسلام. نو عربانو ورته و ویل چې موږ څه و کړو، یهودیانو ورته و ویل. چې د اسلام لیکلو پوهه ترې واخلئ، د الله کتاب ورته وایئ چې لیکي دې نه یادې دي یاد وي، د الله کتاب لیکلو پوهه دې په کوشنی‌یو کوشنی‌یو برخو و ویشئ، چې په یادو یادولو سره د لیکلو پوهه له منځه ځي او تش په پټو سترګو یادول دوی هېڅ بداېه پوهګړي کېږي نه. اسلامي پوهان یې و وژنی، کتابونه او لیکنې یې و سوزوئ، په منځ کې یې ببلوالی پیدا کړئ، تیل موږ ته را کړئ او بیت الله ودانی درته موږ ودانه وو.

د الله کتاب راتللو په پېر د الله د کتاب لیکلو پوهه او امر د هغه استازي کړی و، خو اوس په بېلیونونو ټوکه له چاپه سلامت تېرېږي، له یادو ( په پټو سترګو لوستل یې هېڅ ګټنه نه لري) چې پرې لیکلو یې پوی نه شي پرې نه پوهېږي. په ورته بڼه د پښتو کړنې پېیلې لیکل هم همداسې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸. د پښتو ژبې لهجه

پښتو ژبه يوه ده، او په يوه بنه کښل کېږي، ,, نن ورځ کې زما ژبه ۳۱ يوه ديرشتمه ليکه کې دی. او د نړی په ټولو (۶،۵۰۰) ژبو کې يوديرشتم روڼ ځای لري، چې له دې ټولو ژبو څخه (۲،۰۰۰) ژبې داسې دې، چې له (۱۰۰۰) څخه لږ کسان پرې خبرې کوي، دا هم په څرګنده ټول په علمې بنه د نړی ژبپوهانو څېړلي دي، ۶۰ مېليونه وګړي پرې خبرې کوي او ۶۰۰،۰۰۰ شپږ سوه زره وييکي لري ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لېږدی ، ۶۲ چوپړی)

ليکوال ټول افغانستان خو واري لېدلی، د روشن مخابراتي شبکې اسانتياوې مې په لومړيو شيبو کې له ښارونونه نيولې تر درزنی سيمو پوري برابر ولې او له سپين ږيرو او مشرانو سره به مې د مخابراتي شبکې ځای پر ځای کولو کې د شخړو په لمنځه وړلو کې هم ګډون کوو.

چې د پښتون پښت ببلا ببلو ټبرونو او وګړو د پښتو ژبې لهجه کې ځېنې پښتو ابېځې بل د پښتو ابېځې ته اړوي، د بلې ژبې وی خپل پر پښتو ابېځې راتپې او په پښتو کې د کانسونينټو کلسټرونه په ببلا ببلو بڼو هم په کې ماتوي.

له نوي ليکدودي سمون سره، سره بيا هم لوستونکی اړوځې، د وړاندې وروسته توکيو له مخې يې سم ولوستلی شي. لکه: شو او شول، د سو او سول په لړ کې چې د ويونکيو د ډېري د آر پر بنسټ د سو او سول په واړاندې کره ارزول کېږي، او د وې ,, و ،، ابېځی يې، يې ,, ي،، ابېځې ته اړوي، اي ,, ا، الف،، ابېځی يې، يې ,, ې،، ابېځې ته اړوي، او وايي يې مګر ليکي يې په کره بڼه.

اوړون ، اوړ + کېدل + اوړېدل دلته هم د ون توکی لوېږي. ناکره بڼه يې
يېړېن، يېړ + کېدل + يېړېدل دلته هم د ون توکی لوېږي.

زما خپله مصرۍ چې له خپل ليکي څخه مې راخستې، ا. کره بڼه يې دا ده.

▲ ,, ستا له اوبښتو سترګو ځار شم
په دا زرغونه سېمه يې ساری نه وينمه ،،

(صفی الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۲۴ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. نا کره بڼه يې دا ده.

▲ ستا له اوبشتو سترګو جار سم
په دا زرغونه سېمه يې سارى نه وينمه

۳. نا کره بڼه يې دا ده.

▲ ستي له يېبشتو سترګي ځير شم
په دي زرغېنه سېمه يې سيرى نه يېنمه

که چېري تاسو په کره بڼه په زېر سره هر يوه ويکي ته غور شئ چې په لحجو کې اوړي دا لاندې بڼې يې په پام کې ونېسئ، د يوې بې سروبوله انګېرنې له مخې به په کې توپيرونه و مومئ ولې په کره بڼه کې کره راځي. بېځايه بدلونونه په کې نه راځي، ولې تاسو ببا په ټولو لحجو باندې سره پوره خلاصېږي او سر ور ته په لېځې سروېږدی کوئ.

### ۱. لومړی:. الينګاري

شي (ش)، سي (س) لولي
وشو ته وايي، و سو
ښه شو ته وايي، ښه سو.
ک ته ق وايي
شيرين کندان، سيرين قندان
ځ ته چ وايي
ځخه، چخه اړوي.
ځوکۍ ته چوکۍ وايي، ځاروکي ته چاروکۍ وايې، ځارې ته چارې، ځځبک، ځ ادغم کړې يا لنډه ببا يې چَبک وايي.
زه به ستا ځاره و کړم، زه به ستا چاره و کړم.
همداسې په سې در واخله نور، په لنډۍيو، ټپو، ټيکۍ يو او مصرۍ يو کې يې کښې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. دوېیم:. کاپیساوال

ړې (ړ) ته رې (ر) وایي
کره بڼه د یوه بند
واوړه را واوړه ځولۍ دې ګلو راوړه، ګلو کې دې شپه وه تا تشه لمن راوړه

نا کره بڼه د یوه بند (کاپیساوال داسې وایي)
واوره را واوره ځولۍ دې ګلو راوره ، ګلو کې دې شپه وه تا تشه لمن راوره

ناوړه ته ناوره وایي
زړه ته زره وایي
ړوند سړی، سړی په زړه وینځ، روند سری، سری په زره ویني.
همداسې په سې در واخله نور، په لنډۍیو، ټپو، تیکۍ یو او مصرۍ یو کې یې کښې.

## ۳. درېیم:. لوګریان

ژې (ژ) ته زې (ز) وایي
ژړیو ته زړې وایي . ژړ ته زړ وایي، ژبې ته زبې وایي،
ژر ژر راښه ته زر زر راشه وایي.
همداسې په سې در واخله نور، په لنډۍیو، ټپو، تیکۍ یو او مصرۍ یو کې یې کښې.

## ٤. څلورم:. کندهاریان

ښې (ښ) ته شې (ش) یا غټ شین یا شې وایي خو لیکي یې هم داسې ښې(ښ) وایي او د ستونې په تالو کې اداکوي. ښار ته ښار وایي خو شار یې تلفظ ( له خولې یې اواز اوباسي) کوي، ښه ته ښه وایي خو شه یې تلفظ کوي.
اوبښ ته اوش وایي.
پښتو ته پشتو وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې ټپې ډېرې خوښوي، شځې ټپې ډېرې خوشوي.

ږې (ږ) ته اوږده ږې(ږ) وايي او داسې ژې (ژ) يې تلفظ ( له خولې يې اواز اوباسي) کوي.

ږېره ته ژېره وايي.

کوږ ته کوژ وايي.

موږ ته موژ وايي.

کوښښ ته کوشش وايي.

ښه راغلاست ته شه راغلاست وايي.

موږ غږ نه کوو، موژ غژ يا ژغ نه پورته کوو،

زموږ د ږېرې لاندې په خره څور تېرېږي، زموژ د ژېرې لاندې په خره څور تېرېژي.

ږوب ته ژوب وايي.

پښتو زموږ ژبه ده، پشتو زموژ ژبه ده.

پښتو د سړي پخښتی کړی، پشتو د سړي پشتی کژی؛ چې سول شتی پې پوی شي.

,, ښ : دا توری ځینې پښتانه لکه (خ) یا (خ) ته نږدې تلفظ کوي او ځینې پښتانه يې د (ش) غوندې ادا کوي. نو د غه دوه يا درې مختلف غږونه چې يوه ځای او بل ځای د لهجې د اختلاف په وجه د ځينو لغاتو په تلفظ کې شته، په لیک کې د دغه توري په لیکلو دغه اختلاف له منځه تللی او د ليک يوه راز والی يې ساتلی دی.

دا توری په داسې لغاتو کې ليکل کېږي. لکه: ( ښه، لوښی، اوښ) چې څوک يې يوه راز او څوک يې بل راز تلفظ کوي.

کومه کلمه، چې يوازې د ( خ) يا يوازې د ( ش) اواز راغلی وي، هلته دغه توري نه لیکل کېږي، لکه (ختـه، خاوره، شکه، شولې ...) په دغه اساس بايد (خندل) چې د (خنديدن) په مانا دي په ( خ) ، او (شيندل) د پاشيدن په مانا په ( ش ) و لیکو. او (ښندل) چې د قربانولو او سرورکولو په مانا سره په پښتو (ښ) و لیکل شي، چې د درې واړه کلمو مانا ګانې و ساتو.

ږ:- د پښتو دا خاص توری هم ځینې پښتانه لکه (ژ) او ځینې يې لکه (ګ) اداکوي، نو ځکه په هغو کلمو کې لیکل کېږي، چې د لهجو د اختلاف په وجه دغه دوه آوازونه ولري. لکه : (ږلی، لږ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوړ) دغه توري هم په پښتو املا کې د لهجو د اختلاف مخه نيولې ده او د ليک يووالی يې ساتلی دی.

کومې کلمې چې يوازې د (ګ) يا يوازې د (ژ) اواز لري هلته دا توری نه ليکل کېږي او هماغه (ګ) يا (ژ) ليکي. لکه : (مالګه، ګوړه، ژبه، ژرنده، ژوند ...)،،
ملنه يا معروفه (ی) ,, ملنه يا معروفه (ی) هغه ساکنه (ی) چې د مخه توری يې زور و لري او نرم ويل کېږي. لکه سړی، ليونی، منګی، دی ،،
په فعلي يا همزه لرونکي (ئ) ,, فعلي يا همزه لرونکي (ئ) : د مخاطب افعالو په پای کې راځي، لکه : خورئ، وړئ) د امر په ډول (و خورئ، مه ژاړئ )،، غوندې وايي.

که دا ياګانې په ليکلو کې فرق و نلري نو (وړی) د (پشم ) په مانا او (وړئ) د وړلو به مانا به يوه راز ليکو موږ چې دوی په لاندې ټپه کې دی،
دئ وايې چې له وړی کې چې د لکی دارې يې يا (ی) کوم اواز دی له هغې څخه چې په وړئ کې د (ئ) اواز دی ورته ډېر ورته دی.

په هر پښتون اړينه ده، ګڼلې ده، فرض ده چې د خپل د ژبې ابېڅې زده او ياد کړي، لکه موږ د عربي ژبې ابېڅې يادوو، د انګلېسي ژبې ابېڅې يادو وو، د روسي ژبې ابېڅې يادوو  او د بلې هرې ژبې له وينګونو ( غږونو)  سره. زموږ د خپلې پښتو ژبې ليکلو، لوستلو، روزلو او ښوولو له پاره اړينه ده چې ابېڅې يې زده کړو، تر ټولو ناوړه يې داده چې کره پښتو يا يوه پښتو يا سوچه پښتو چې په کومه بڼه ويل کېږي يا غږ ورکوي ابېڅې نه وايو. چې دا ټول په لاندې بڼه دي، اړين يې بايد زده کړو لکه:.

▲ صورت زما واک يې د بل دی
خدايه نور واخلې دا بې واکه صورتونه

▲ صورت زما واک يې د بل دئ
خدايه نور واخلې دا بې واکه صورتونه

▲ خاونده بيا دې ماخوستن کړ
د نارضا کټ نه مې ربړدي اندامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاونده بیا دې ماخوستن کړ
د نارضا کټ نه مې رېژدي اندامونه

:قې ,, ق ،، ته کې ,, ک ،، وايي او کې,, ک،، ته قې ,, ق ،، وايي.
کره بڼه: کلم (لیکاڼی) په کندهار کې کښل کېږي
ناکره بڼه: قلم (پرې) په قندهار کې کښل کېږي.
کره بڼه: شیرین کندان تا و خوږه او کاب (نالبکی) دې پر ما تاوان کړه؟
ناکره بڼه: سیرین قندان تا و خوږه او قاب دې پر ما تاوان کړه؟
کره بڼه ټپه:.

د کندهار انار پاخه شو
د ثمرکند توتیان راځي شیرې یې خورینه

ناکره بڼه ټپه:.

د قندهار انار پاخه سو
د ثمرقند طوطیان راځي شیرې یې خورینه

### ۵. بټیکوټ او ترې لاندې دېری سیمې تر پېښوره بیا

حې (ح) ته بې تکې خې (خ) وايي یا خې ,, خ ،، ته حې ,, ح ،، وايي..

کره بڼه یې:. پلار یې زوی ته په غوصه و ویل :- زه تا ته خر ښکارېږم چې خبره مې نه منې، یخې یخې مالټې خورې بیا نو ټوله شپه ټوخه، ټوخه ټوخېږې!!؟
ناکره بڼه یې:. پلار یې زوی ته په غوصه و ویل:- زه تا ته حر ښکارېږم چې حبره مې نه منې؛ یحې، یحې مالټې حورې بیا نو ټوله شپه ټوحه، ټوحه ټوحېږې!!؟
زبیح الله حلوا په سې مسجد ته لاړه خو په برخه یې نه وه.
زبیخ الله خلوا په سې مسجد ته لاړه حو په برحه یې نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ صورت زما واک یې د بل دی

خدایه نور واخلې دا بې واکه صورتونه

▲ صورت زما واک یې د بل دی

حدایه نور واحلې دا بې واکه صورتونه

### ٦. خوستیان :

وې ( و یا واو) ته یې (ې) وایي.
خوست ته خېست وایي.

د خوست پوهنتون بنسټ د تاریخ ډاکټر پوهاند شهسوار سنګروال نیازي په پېښور کې د افغان پوهنتون په نوم جوړ کړی وو.
د خېست پې هنتېن بنسټ د تېریخ ډېکټر پېهېند شهسېېر سنګرېیل نیېزي په پېښېر کې د یفغان پې هنتېن په نیم جېړ کړی یې.

کور ته کېر (کېر ویل هېڅ باکه نه لري. ځکه د پښتو ژبې ویکی دی، په دري ژبه کې غینړ یا د نر زردکه، د نر سامان یا د تناسلي اله ته وایي خو دري بیله ژبه ده. داسې ډېر ویکي د بیلو ژبو شته چې په نورو ژبو کې بیلا،بیلې مانا وې ورکوي. ځکه زمونږ په ژبه کې هېڅ باکه نه لري ) وایي.

کور پر کور به دې و ګرځوم، که چا ډوډۍ درنه کړه په خپل کور کې به دې کېښنوم،
کېر په کېر به دې بګرځېم، که چې ډې ډی درنه کړه په خپل کېر کې به دې کېښنیم .
کسه دا وکځه :- کسه دا بکځه

محمودا! توت لوند ده وروندہ ورونډ شي، محمېدا! تبت لېند ده برېنده برېند شي.
کسه د پاکستان یې!!؟، کسه د پېکستېن یې!!؟

لکڼ ته خو په ۲۰۰۶ زېږدي کال راغلی وي لغمانیه!!
لکڼ ته خې په ۲۰۰۶ زېږدي کال رېغلی یې لغمېنیه!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ شپک یې مه بولی عالمه

اسمان زما په ژړا اوښکې تویوینه

▲ شفق یې مه ببلی عیلمه

بسمېن زمې په ژړي ښکې تیبیینه

په لاندې بڼه د پښتو فعلونو وېش هم په لهجو کې د پام لاندې نېول په کار دي چې د روسي او انګرېزي ژبې په شان په کې غلي ابېڅې شته چې نه لوستل کېږي او یا له وۍ څخه غورځول کېږي.

بېښکې = ښکې
تیبیینه= تیبینه
وېلې – ویل کېدل = ویلیدل،
ځوړند ځوړ+ کېډل = ځوړېدل په ځینو لهجو کې ځوړندېدل هم راځي دواړه بڼې دود دي،
اوړون ، اوړ + کېدل + اوړېدل دلته هم د ون توکی لوېږي.
مسکا: مسک + کېدل = مسکېدل
ژړا: ژړ + کېدل = ژړېدل
پړسوب : پړس + کېدل= پړسوب
کوڼ + کېدل= کڼېدل
لوند + کېدل = لندېدل
زوړ + کېدل = زړېدل
خاځکی : ځاڅ + کېدل = څڅېدل ،

په دې ببلګه کې هم وینو چې له ځاځکي څخه سر بېره پر ورستی برخه (کې) د پاتې برخې د منځ واول هم په زور بدلېږي او څڅېدل په بڼه پاتې کېږي.

همدا د ژبې پنځې (طبیعي) حالت دی چې ځینې یې بدلون مومي او ځیني نور په خپل حالت پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، پوهنیاره آریانا حقپال، د پښتو فعلونو وېش،۱۳۹۳ لېږدېز لمریز کال۲۱۲.۲۰۹
په پښتو کې د کانسونینټو کلسټرونه په بېلا بېلو بنو ماتېږي چې پورته ورته په لنډېز ډول نغوته و شوه، کانسونینټ د حذف په واسطه دا ستونځه تر ډېره حده اوارېږي. په ځانګړې توګه د دریېمې ډلې فعلونه په برخه کې چې ترکیبي فعالونه دي، په دې اړه فونالوژي د اوستاد پوهنمل جمعه ګل لورین ژباړنه، د اوستاد لورین او اوستاد اڅک دواړو په ګډه داسې ترتیب کړي دي.
،، .... په هغه مرکبو فعلونو کې چې لومړیجز یې ( لغوي عنصر ) یې یوه اسم یا صفت وي او دوېیم جز یې د ( کول – کېدل ) کومکي فعل وي.
( د پښتو فعلونو دریېمه ډله ) قاعده داسې ده چې که د دغه مرکب فعل لومړیجز ( لغوي عنصر ) په تم کانسونینټ مختوم وي نو د ( کول ) د کمکي فعل لومړی کانسونینټ (ک) غورځېږي (حذ فېږي) او په دې توګه د کانسونینټونو کلسټر مات او مغولق هجایي جوړښت په ساده هجایي جوړښت په ساده هجایي جوړښت بدلېږي لکه:- پاک + کېدل = پاکېدل...،،

ما + ښېسی، زرکې، مرغۍ، او کفترې + پاخه + کړل
فاعل+ مفعول + فعل + مرستیال فعل
مرکې زه، ته، دی، موږ، تاسې، دوی خپل کړو.

▲ ما ته دې نه راکوي خیر دی
په لیونی دې راته نه کوي ظلمونه

▲ مې ته دې نه راکې خیر دی
په لیبنی دې راته نه کې ظلمېنه

رسپیا ( شورویان )
د دوی ټول لاس لاندې بیا هې ( ه) ، حې ( ح) ته خې (خ) وایې.
مهترلام ته مخترلام وایي.
هاروون ته خارون وایي
زبیح الله ته زبیخ الله وایي

غې (غ) ته ړې (ړ) تلفظ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان ته افرانستان وايي. له ټولو انګریزان سره او په هغو سیمو کې چې د پښتون پښت د دوي له اغېزې لاندې راغلي وي همدا دودی پرې ټومبونی شوی دی.

## ۷. هراتیان

قې (ق) ته غې (غ) وايي:

معلم کمبر (قمبر)، د کمبر (قمبر) په خلور لاره کې ژوندګړ دی، او پلار یې د ظفر کول (قول) اردو کومندان (قومندان) دی.

معلم غمبر، د غمبر په خلور لاره کې ژوندګړ دی، او پلار یې د ظفر غول اردو غومندان دی.

زما له لیکي څخه د ټیکی کره بڼه او کښلې بڼه یې. کدم (قدم) ته غدم وايي، کتار (قطار) ته غطار وايي په لاندې بڼه.

ناوی رو، رو قدم اخله
د ولس پیغلې په قطار درسره ځینه

زما د ټیکی ناکربڼه یې یا د لهجې د ویلوبڼه یې.

ناوی رو رو غدم اخله
د ولس پیغلې په غطار درسره ځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دي له پاره دا سپينې ته راباسم له خپل ليکي څخه د لنډۍيو کره بنه او کښلي بنه يې راخلم چي پښتو ژبه يوه ده، او په يوه بنه کښل کيږي.

▲ ,, وطن تم تول کافران راغله

ژر را پاځيږه چي جوړه جهاد له ځونه

▲ د بوست له ور به زه درتيږشم

غاړه غړی دي له کاله راځه مينه،،

(صفی الله، ۱۳۸۸، ۲۲۶ چوپړی)

زما د لنډۍيو ناکربنه يې يا د لهجې د ويلو بنه يې.

▲ ,, وطن تم تول کافران راغله

ژر را پاځيږه چي جوړه جهاد له ځونه

▲ د بُست له ور به زه درتيږسم

غاړه غړی دي له کاله راځه مينه،،

د دي له پاره داسي په پوخ کي کيږي چي په ۷. د پښتو ژبي لهجه يوه ده، همغه ده چي کښل کيږي او د لهجو اختلافات له منځه وړي او د لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو يوه رازوالی ساتي.

په پورتنۍ لومړی غونډلي، ويکي، فالونه او وينک د لنډۍ، ټپي، ټيکۍ او مصرۍ چي کښلي شوي دي کره بڼي يې دي، دوييمي غونډلي، ويکي، فالونه، لنډۍ، ټپي، ټيکۍ او مصرۍ چي کښلي شوي دي ناکره بڼي يې دي. د پښتو ژبي لهجه کره همغه ده چي د لهجو اختلافات له منځه وړي، يوه راز والی يې ساتي، څه چي وايو همغه کښو (ليکو) او څه چي کښل شوي وي همغه لولو؛ پرته د لهجو له دودو، رښتو او بدلونو څخه. همدا د پښتو ژبي تاپن رښت (قانون، دودی) دی زما له پامه چي يوه پښتو کره پښتو پنځي بداڼه کوي او اوږدپيری ژوند ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹. د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ژبه

,, د باندېنۍیو او کورنۍیو ژېپوهانو د پلټنو او څېړنو په ترڅ کې دا جوته شوې چې پښتون د آریاني قوم یوه څانګه ده او دا هغه آریاني پښت دی چې څلور زره کاله پخوا په بلخ، بخدي او آمو سیند په غاړو او شاوخوا کې اوسیدل، پښتو د همدې خلکو ژبه وه.

ځینو پښتو له سامي ژبو څخه یوه ژبه بللې ده. په دې اړوند یوه باندیني پروفیسور د روسیې د اکاډمی غړی چې , کلاپورت ، نومېږي داسې ویلي دي:
,, چې ځینو خلکو پښتو سامي بللې ده. خو زما په اند پښتو یوه خالصه هندو آرین ژبه ده. ځکه چې دغه ژبه نه د الفاظو، لغاتو او نه د ګرامر له مخې سامي ژبو سره کومه اړیکه لري.،،

د کلاپورت نظر د پښتو ژبې په اړوند نورو ډېرو بهرنۍیو پوهانو هم تایید کړی دی، او داخلي پوهان هم دا نظر تاییدوي یا مني.

ځکه چې پښتو ژبه، د الفاظو، ترکیبونو او ګرامر له مخې د عبراني او سامي ژبو سره هېڅ اړیکه او ورته والی نه لري. نو پښتو یوه لرغوني او تاریخي ژبه ده، چې د نسبتي , و، په یوه ځای کېدو سره د ویدي عصر مشهورې قبیلې , پښت = پکهت، ته منسوبېږي.

د پکهت کبیله د آریاني لسو کبیلو له ډلې څخه ده، چې د ریګویدا په کتاب کې یې څو ځایه نوم یاد شوی دی.

د ,, پښت ،، کبیله د وخت په تېرېدو سره د , ون، د روستاړي په یوه ځای کېدو سره د ,, پښتون ،، په بڼه اوښتې ده.

په هر صورت دغه ملت د لرغوني اریانا په خاوره کې د پامیر، هندوکش، سپین غر، کسی غر په لمنو او د آمو، هلمند، آباسیند او نورو سیندونو په غاړو کې روښانه او ویاړلی تاریخ لري. د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ژبه پښتو ده، وګړي یې پښتانه دي، ژونکي یې اریاني دي او ټاټوبی یې افغانستان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱.۹ ژبه

ژبه په عام ډول سره د پوهولو او را پوهولو يا افهام اوتفهيم وسيله ده، په خاص ډول ژبه د غږيزو، او ريزو او سيمبولونو (نښو) يوه داسې کسبي او اتفاقي سيستم دی، چې د يوې ټولنې وګړي يې يوه له بله د پوهولو او راپوهولو له پاره پر ژبه راوړي او يوبل ته يې اوروي.
يا په بله وينا: ژبه په خاص ډول هغه اوازونه دي، چې انسانان يې د خپلو افکارو او خيالاتو د څرګندولو په غرض تريو ځانګړي نظم او سيستم لاندې د غږيزو غړو په وسيله له خولې څخه راباسي او په دې توګه يوه له بله سره اړيکه ټينګوي، ياني يوه بل پوهوي او راپوهوي.

دا چې ژبه لومړی ځل څنګه منځ ته راغلې ده ؟

په دې باب د علمانو تر منځ مختلف نظريات اقامه شوي دي چې د ټولو راوړل يې دلته لازم نه دي خو په لنډ ډول داسې ويلی شو چې:
ژبه له ټولنيز ژوند سره سمه منځ ته راغلې ده، داسې چې د ټولنيز کار په بهير کې لومړی د نغوتو، اشارو او ورپسې د جړوپړو او هيجاني غږونو په بڼه غږېدا پيداشوې او بيا له هغو څخه د پرله پسې ټولنيزې اړتيا په توګه ژبه منځ ته راغلې ده.

د ژبې د پيدايښت تاريخ د انسانانو د پيدايښت د تاريخ سره ټينګې اړيکې لري. او د انساني ټولنې د تاريخ د تکامل او پرمختګ سره يې سم تکامل موندلی دی او په نتيجه کې يې دغه اوسنۍ بڼه غوره کړې ده.

دا خو څرګنده خبره ده، چې لومړني انسان د پيدايښت په لومړي وخت ژبه نه درلوده، خو کله چې يې د دې ضرورت احساس کړ خپلې غوښتنې، افکار او خيالات نورو ته انتقال کړي نو د ستونزو او مشکلاتو سره، سره يې ژبه منځ ته راوړه او د ژبې د پيدايښت دغه پيښه ډېره پېچلې، د تحول او تکامل ډېره اوږده دوره يې تېره کړې ده.

څرنګه چې ژبه په تاريخي ډول پيدا شوې او د انسانانو ترمنځ د ګډون يوه پېچلې وسيله ده. ياني هغه وخت، چې انسانانو ته دا احتياج پيدا شوی، چې يوه بل ته څه و وايي د دغه احتياج له مخې غږيزو غړو , صوتي اعضأ ، پراختيا و موندله، چې په تدريج سره دغه پراختيا او برياليتوبونه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ ولاړل، چې بالاخره د خبروکولو ننی نړی منځ ته راغله، چې دغه اوسنی بڼه او شکل د ټولنیز ژوند د اوښتون او پرمختګ ښه پایله ده، چې ژبې هم ورسره په خپل وار اوښتون او پرمختګ کړی دی.،، ( محمد آقا شېرزاد او جمشېد رشیدي ، ۱۳۸۵ل کال، بېلا بېل چوپړي).
همدا زموږ د پښتو ژبې د رغښت پل وندی دی.

## ۲.۹ د پښتو اصل او ریښه

کله چې سړی هغه روایات او نظریات راسپړي چې د پښتو د اصل او ریښې په باره کې په مختلفو آثارو کې راغلي دي، نو له راورتي سره دا خبره هرو مرو مني چې ,, د پښتنو د ژبې د اصل او ریښې په باره کې هم د نظر اختلاف تر هغه نه کم نه دی، لکه خپله د پښتنو د اصل او نسب په باره کې چې دی.،، (هنري، پښتو ګرامر، ۱۷ چوپړی).

پښتو چا د دېوانو ژبه بللې ده، چا سامي طبو ته ورکش کړې ده او چا په هندو ایراني طبو پورې تړلې ده. چا د هندو ایراني ژبو د سترې ونې په ندي ښانګه پورې مربوط ګڼلې ده او چا یې په ایراني ښانګه پورې. چا بیا پښتو اصلاً، د ساکانو پاسیتیانو ژبه بللې ده او چا د هندو ایراني ژبو تر منځ یوه مستقله ژبه او د اتصال کړی ګڼلې ده.

د تذکرة الملوک ( تذکرة الملوک د پښتنو تاریخ دی او راورتي د خپل ګرامر په مقدمه کې معرفي کړی دی.) مؤلف وایي چې ځینې روایتونه پښتو د دېوانو ژبه بولي. دی لیکي: ,, ځینې روایتونه وایي چې افغانانو خپله ژبه له دېوانو زده کړه،
ځینې نور بیا وایي دا د کسې د غره د اوسېدونکو ژبه ده، د افغانانو دا عادت وو، چې د دغو خلکو ښځې او لونې به یې ترې بوولې او ودونه به یې ورسره کول او ځکه یې نو پښتو طبه ورنه زده کړه او خپله طبه یې چې ابراهیمی (عبري) وه، هېره کړه.،، (هنري ،پښتو ګرامر، ۸ چوپړی).

کوم مطالب چې د پښتو د اصالت په باره کې ځینې غربي مؤلفینو لیکلي دي، په هغو کې هم بعضې د تذکرة الملوک له افسانوي روایت نه وروسته نه پاتې کېږي. هنري راورتي لیکي: ,, د پښتو ژبې افعالو او ضمایر له خصوصیاتو او ځینو نورو مشخصاتو نه داسې ښکاري چې دا یوه عجیبه او لرغونې ژبه او له هرې معلومې طبې نه متفاوته ده.،، (هنري ، پښتو ډکشنري، ۱۲ چوپړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, هنري راورټي وايي د دې خبرې دليل دا دی چې پښتانه اصلاً د يهودو د لسو ورکو شوو کبېلو (قبېلو ) پاتېشوني (بکايا يا بقايا ) دي. دی وايي کوم وخت چې دا کبيلې (قبيلې) د فلسطين په يهوديه کې اوسدې هلته يې ژبه د يوه شمېر نورو کبايلو (قبايلو) له لهجو سره ګډه شوه.

کله چې دا کبيلې (قبيلې) له خپل اصلي ملکه د هغوی دا اوسني ملک، افغانستان ته رواني وې، په لاره کې يې ژبه د ډېرو نورو ملکونو له ژبو سره هم ګډه شوه. څرنګه چې په داسې ورو، ورو کومونو (قومونو) وېل شوي وو چې له بهر سره يې رابطه او مخابره نه لرله. ځکه يې نو د هر کوم (قوم) ژبې له نورو طبو سره ببخي توپير لاره. راورټي په پای کې ليکي څرنګه چې د پښتو ژبې اساس همدغه ګډه وډه ژبه جوړوي نو له دې امله دا يوه عجيبه او له نورو نه متفاوته ژبه ده،، (هنري، پښتو ډکشنري، ۱۲ چوپړی).

,, کله چې راورټی د خپل ګرامر په مقدمه کې د پښتو او نورو ژبو په ارتباط غږېږي، د هغو کسانو نظريات ردوي چې وايی پښتو يوه آرياني ژبه ده او وايي چې , پښتو زما په خيال د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري.، په دې پسې هنري راورټی کوشش کوي دا وښيي چې پښتو هم په صوتي، هم په صرفي او هم په نحوي لحاظ له له عربي او عبراني ژبو سره تولې ده.،، (هنري، پښتو ګرامر،۲۲-۲۳ چوپړی).

راورټی يوه ځيرک او د ډېرې وسيعې مطالعې خاوند د انګليس سوسيس محقق و او له زړه ايراني ژبو په تېره بيا زند سره يې د پښتو نږدې ارتباط درک کړی و. مثلاً يوه ځای ليکی:

,, نن له اباسيند نه سمدستي لويديځ پلوته داسې يوه ژبه ويل کېږي چې د عباراتو او ساختمان په لحاظ له هرې معاصرې ژبې نه ببخي فرق لري او په غالب ګومان له زند، پهلوي او عبري نه راوتې ده او دا ژبه پښتو......ده ،، (هنري ، پښتو ګرامر، ۴ چوپړی.)

خو څرنګه چې د راورټي مطالعه په زړو فارسي او پښتو آثارو کې ډېره پراخه وه او په دغو اثارو کې، چې راورټی په ډېر زيات اهميت ورته قايل و، پښتانه په مکرر او متواتر ډول بني اسرائيل بلل وي وو او خپله پښتنو هم دا روايت تائيدا وه، نو له دې امله دی تر پايه له سامي ژبو په تېره بيا عبري سره د پښتو د اصل اوريښې په نږدې ارتباط کلک ودريد او ورنه تېرنه شو. سروليم جونز، د بنګال د شاهنشايي اسيايي ټولنې د موسسې رئيس، له راورټي نه پخوا پښتو له سامي ژبو سره ورته بللې وه. جونز د بنګال د اسيايي ټولنې په مجله کې په هغې يوې لنډکی او بې درنګه تبصره کې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې تاریخي لیکنې په ارتباط يې وکړه، و ویل چې ,, پښتو کلداني ژبې ته ډېره زیاته ورته ده ،، (ویلیم، اسیایي مطالعات، ټوک۲، ۱۷۶ چوپړی).

مګر د پښتنو د تاریخ او ژبې یوه شمېر څېړونکو او د ژبنیو مطالعاتو مقتدرو پوهانو له کلداني او نورو سامي ژبو سره د پښتو ارتباط په قاطعیت رد کړ او وې ویل چې پښتو له اصله یوه آریاني ژبه ده.

کلاپروت لومړنی وتلی مستشرق و، چې په کال. ۱۸۱۰ کې يې داسیایي ادبیاتو د ارشیف په اول ټوک کې دا نظریه په صراحت رد کړه چې ګوندې پښتو له سامي ژبو سره تړلې ده. ده ولیکل چې ,, د پښتو او سامي ژبو ترمنځ نه په کلماتو کې اندکترین شباهت شته او نه په ګرامري جوړښت کې.،، (هنري، پشتو ګرامر، مقدمه، ۱۷ چوپړی).

منستو ارت الفنستن، چې د پښتنو د ټولنې او تاریخ د مطالعې په برخه کې د ډېرو وچ صلاحیت خاوند و، په کال ۱۸۱۴ کې د پښتو او کلداني ژبې د ورته والي په باره کې د ویلیم جونز خبره رد کړه او وېي لیکل چې ده دوه سوه او اتلس پښتو کلمې د یوه شمېر نورو ژبو له معادلو کلمو سره مقایسه کړې. خو : ,, له دې وونه یوې هم له عبراني او یا کلداني سره اندکترین شباهت نه لاره.،، (الفنستن، چوپړی ۱۹۰-۱۹۱).

یوه بل انګریز مولف، جان ملکم، هم د فارس په تاریخ کې الفنستن ته ورته نظر څرګند کړ او وې لیکل چې ,, د عبري او پښتو یا د افغانانو د معاصرې ژبې ترمنځ د نږدېوالي هېڅ څرک نه لګېږي،، (جان، ۵۹۷ چوپړی). او د ,, برنارد ۶۵ چوپړی.،، (ډورن، ۲ چوپړی).

په یوه بل اثر کې هم چې د هرې څمکې انجیل نومېږي او په کال ۱۸۴۸ کې ببګسټر خپور کړی دی، د پښتو د سامیت نظریه په قاطع ډول رد شوې او لیکل شوي دي چې پښتو ,, د سامي ژبو هېڅ خصوصیات نه لري،، (ایسیدور، زېږدی، ۳۲۵ چوپړی).

البته یوه زیات شمېر غربي مؤلفینو او د ژبنیو مطالعاتو پوهانو نه یوازې دا چې له ډېر پخوانه د پښتو د سامیت نظریه رد کړې، بلکه دا يې هم په ډاګه کړې ده چې پښتو یوه هندو اروپایي ژبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا هم کلاپروت لومړنی غربي محقق دی چې پښتو يې يوه آرياني ژبه وبلله او دا عقيده يې په ډېره کلکه په ډاکه کړه چې ,, پښتو بې شکه د هندو، جرمانيک طبو د ستري ډلې يوه څانګه ده.،، (هنري، ۱۷ چوپړی).

د ژبنۍيو مطالعاتو ډېر لوی عالم پاټ هم پښتو په قاطع ډول آرياني ژبه وبلله. لوونتال په دې ارتباط داسې ليکي:

,, پاټ چې بل د ده په سويه ستر دفق اللغه عالم نه دی تېر شوی، يوه شيبه هم په دې صرفه نه کوي چې پښتو د هندو اروپايي ژبو په کتار کې ودروي.،، (ايسيدور ، ۳۲۵ چوپړی).

ډورن هم د پښتو منتخباتو په مقدمه کې پښتو يوه سوچه آرياني ژبه وبلله او وېې ليکل چې ,, پښتو د هندو فارسی ژبو په لويه کورنۍ پورې مربوطه ده.،، (ډورن، پښتو منتخبات، مقدمه، ۲ چوپړی).

اما هر څومره چې د ژبې تاريخي مقايسوي څېړنې زياتره د علم حيثيت غوره کوه، د ژبو په باره کې لوستې (مطالعه) هم هغومره دکېکه (دقيقه) کېدله. د پښتو په برخه کې هم پوهانو يوازې په دې کناعت (قناعت) ونه کړ چې د هندو- ايراني ژبو په کورنۍ پورې مربوطه آرياني ژبه يې و بولي، بلکه غوښتل يې دا هم معلومه کړي چې د دغې لويې کورنۍ له کومې څانګې سره خاص ارتباط لري.

څرنګه چې په پښتو کې د هندو ايراني ژبې د لويې کورنۍ د دواړو ډلو خصوصيات د ورايه او په وفرت موجود دي، نو په اول کې چا پښتو په هندي ډلې پورې و تړله او چا په ايراني ډلې پورې.

کوم غربي ليکوال چې پښتو يې لومړی ځل د هندو ايراني ژبو له هندي ډلې سره مربوطه و ګڼله هغه رابرټ ليچ دی. ليچ په کال ۱۸۳۹ کې د بنګال د اسيايي ټولنې په مجله کې د پښتو ګرامر په باره کې يوه مضمون ,, چې په حقيقت کې په لويديځ کې د پښتو ګرامر لومړنی برخه ده. خپور کړ او د هغه په مقدمه کې يې د پښتو او سنسکرت د اصول ښيې چې پښتو په قاطع ډول د سنسکرت بڼه لري،، (رابرټ، ۱۸۳۸ زيږدی، ۱ چوپړی).

اما چا چې پښتو د هندي ژبو د يوې ښايسته وسيعې تاريخي- مقايسوي مطالعې په نتيجه کې د هندو ايراني ژبو له هندې څانګې سره مربوط و ګڼله هغه رودولف هورنل دی. هورنل په خپل هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثر کې چې د ګادي ژبو مقایسوی ګرامر نومېږي، لیکي چې د هند شمال غربي سرحد ترنهايي حدودو پورې پراکرت ژبې ویل کېږي. (خوله دې ځای نه ها خوا پښتو او کافري ژبې پرتې دي.) دی خبرې ته دوام ورکوي او لیکي: ,, ټرومپ په خپلو هغو مقالو کې چې د پښتو او کافري ژبو په باره کې یې لیکلې دي، له ګادي سره د دغو دوو ژبو نږدېوالی ته توجه ور اړولې ده........مګر خبره له دې نه وړاندې ځي او (دغه ژبې) خصوصاً پښتو د مګادي پراکرت ژبې مسلم خصوصیات لري.،، (رودولف،۳۳ چوپړی).

هورنل په دې په سې له ځینو ګادي ژبو سره د پښتو او نورستاني ژبو یوه شمېر ګډ خصوصات او ممیزات په ګوته کوي او په پای کې لیکي چې ,, له دې نه څرګندېږي چې مګادي پراکرت او پښتو او کافري ژبې په لرغونې زمانه کې بېخي سره نږدې وې او حتا یوه ژبه یې جوړوله. وروسته سور اسیني ژبې د مګادي او دغو ژبو تر منځ واقع شوې او مګادي ژبه یې ورو، ورو د شرق په لور بېخي لرې تېل وهله.،، (رودولف،۳۴ چوپړی).

په پښتو کې د هندي آریاني ژبو خصوصیات دومره بارز وو چې حتا فرانسوي لوی ختیځ پوه جېمز ډار مستتر هم په اول سر کې په خپل هغه اثر کې چې هند ته د فلالوجیکو مطالعاتو د سفر رپوټ نومېږي او په کال ۱۸۸۷م کې خپور شوی دی ,,  د هندو ایراني طبو په هندي ډله پورې مربوط و ګڼله.،،  (جورج ، ۹ چوپړی).

اما چا چې پښتو اول وار د هندو ایراني ژبو دونې له ایراني څانګې سره و تړله هغه شیلې ډیور دی. ده په خپل هغه اثر کې چې (د مقایسوي فلالوژي اجمال) نومېږي او په کال ۱۸۵۳ کې خپور شوی دی، پښتو، اساساً، د ایراني ژبو په کتار کې ودرو له خو په عین وخت کې یې و ویل چې پښتو ځانته خاص موقعیت لري. دی د ایراني ژبو په بحث کې لیکي چې د افغانستان ژبه یاني پښتو هم په همدې څانګه پورې ارتباط لري خو ,, ځانته یې په یوه خاصه او ابتکاري طریقه انکشاف ورکړی دی.،، (شیلی، ۲۹۹ چوپړی).

د ژبنۍیو مطالعاتو لوی عالم ماکس میولر هم پښتو له ایراني ژبو سره مربوطه و ګڼله. ده په خپل هغه اثر کې چې عنوان یې ( په شرق کې د جګړې د مرکز ژبې) دي او په کال ۱۸۵۵م کې خپور شو، و لیکل: ,, افغاني یا د پښتنو ژبه.......د خپل ګرامر په لحاظ  د فارس د ژبو له ډلې سره تړلې ده.،،  (مکس، ۳۲ چوپړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, مکس وروسته په خپل یوه بل اثر (د افغانانو ژبه) کې چې په کال ۱۸٦۲م کې خپور شو، خپله خبره نوره هم تصریح کړه او پښتو یې د ایراني ژبو په شرقي ډله پورې مربوطه و ګڼله او په دې ترتیب یې له (زند) سره ونښلوله.،، (جورج، ټوک ۱۰، ۹چوپړی).

,, پاټ په کال ۱۸۳۳م کې اروپایي ژبې په پېنځو کورنیو وې او پښتو او فارسي دواړه یې په دوېیمه کورنۍ پورې مربوطې ګڼې.،، (ایسیدور، ۳۲۵چوپړی)

اما ځینو پوهانو بیا پښتو د هندي او ایراني ژبنۍیو ډلو ترمنځ یوه ځانته او مستقله ژبه بللې ده.

ډاکتر ارنست ټرومپ چې د خپلو ډېرو وسیعو ژبنۍیو مطالعاتو او څېړنو په لړ کې یې پښتو ګرامر هم لیکلی دی، پښتو د هندي او ایراني ژبو ترمنځ یوه اتصال کړی بولي او لیکي: ,, پښتو کلیمات مستقیماً له ګاونډۍیو پراکرت لهجو، په تېره بیا پنجابي او سندهي نه مشتق شوي دي، د صرف او ترکیب د عملیې د ساختمان له نظره سندهي ته ببخې زیاته ورته ده: پښتو په تېره زمانه کې د متعدي افعالو له نظره له سندهي سره کامل مطابقت لري او یوازې د سندهي ژبې پر اساس تشریح کېدلی شي. مګر پښتو په هېڅ صورت کومه د پراکرت لهجه نه ده، بلکه یوه زړه مستقله ژبه ده چې له هندي آریاني ژبو نه د ایراني ژبو کورنۍ ته د بدلون لومړنۍ مرحله ښه یې او ځکه نو د دواړو خصوصیات او ممیزات په کې څرګند دي، خو بیا هم د پراکرت خصوصیات زیاتره په کې بارز دي. د پښتو دا خصوصیت د هغې له جغرافیایي موقعیت سره هم اړخ لګوي.،، (ارنسټ، ۱۲چوپړی).

,, پروفیسور اډلنګ Ad lung هم پښتو یوه ځانته مستقله او خاصه ژبه وبلله. ,, هنري، ۱۸ چوپړی).

او شیلی ډیور هم، لکه څنګه چې وړاندې و ویل شول، وایي چې ,, پښتو ځانته په یوه خاصه او ابتکاري طریقه انکشاف ورکړی دی.،، (شیلی، ۲۲۹ چوپړی).

ډورن خپله د پښتنو په باره کې هم همدا نظر لري او ,, وایي چې پښتانه نه د ایرانیانو له پښته دي او نه د هندیانو، بلکه دا د دغو دواړو سترو ولسونو تر منځ یوه مستقل قوم دی.،، (ډورن، ۷۲چوپړی (انګریزی)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان ملکم هم په دې برخه کې ډورن ته ورته نظر لري او ليکي چې ,, پښتانه له فارسيانو او هنديانو نه متفاوت خلک دي.،، (جان، ټوک۱، ۵۹۷ چوپړى).

اما د چا خبره چې د پښتنو د ژبې د ريښې او اصالت د ټاکلو په برخه کې د کاڼي کرښه شوه، هغه فرانسوي لوى عالم او ستر مستشرق جېمز ډار مېټر و.

ده د خپل هغه درانه او ستر اثر په اوله برخه کې چې د افغانانو ولسي سندرې نومېږي نو پښتو او زند په پوره تفصيل او ډېر دقت سره مقايسه کړې او په پاى کې دې نتيجې ته ورسېد چې ,, پښتو له زند سره دومره نږدې ارتباط لري، لکه نوې فارسي يې چې له زړې فارسي سره لري. په دې ډول ډار مېټر د يوه واقعي طالب العلم په حيث پخوانۍ نظريه د نويو حقايقو په رڼا کې بدله کړه او پښتو يې په قاطع ډول د هندو ايراني ژبو د لويې ډلې د ايراني ډلې په شرقي ډلګۍ پورې مربوطه و ګڼله او په ډاګه يې کړه چې پښتو زند ته بېخي نږدې يوه بله ژبه ده. خو پښتو د شمالي هندي ژبو عناصر هم په بېخي خلاص لاس او پراخه پيمانه کسب کړي دي،، (ګريرسن، ټوک۱۰، ۹ چوپړى).

جورج مارګنسټرن چې د پښتو ژبې په تېره بيا د هغې د تاريخي- مقايسوي څېړنې په برخه کې له ډار مېټر نه راوروسته د ډېر اوچت صلاحيت خاوند دى ,, د ډار مېټر نظر کاملاً تائيدوي. خو په عين وخت کې پښتو په شرقي ايراني ژبو کې د ساکانو لرغونې ژبې ته دومره ورنږدې بولي چې وايي پښتو له اصله، غالباً، يوه د ساکا لهجه ده. دى خبرې ته دوام ورکوي او وايي البته د دې امکان نه شته چې سرى دې د دغو دوو ژبو ډېرې نږدې اړيکې تثبيت کړي.،، (جورج، ټوک۱، ۲۲ چوپړى).

,, د مار ګنسټرن خبره ځينې نور مؤلفين هم، اساساً، تائيدوي.،، (اولاف کرو، ۶۶-۶۸ چوپړى).

که سړى د مارګنسټرن نظريه منې او پښتو د ساکايوه لهجه ګڼې، نو مانا به يې دا وي چې پښتو لږ تر لږه دوه زره کاله پخوا معموله وه. ځکه د ساکانو مشران ل ميلاد نه تخمين سل کاله د مخه ياني د (۹۷ ق.م.) په شا او خوا کې، په ننۍ
پښتونخوا کې مسلط شول او په پينځم ميلادي کال کې يې سلطه پاى ته ورسيده او په دې پسې يې ژبه هم لادر که شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس سوال دا دی چې پښتو او ساکا خو، اساساً د ایراني ژبو په شرقي ډله پورې مربوطې ژبې دي، نو پښتو دا دومره قوي د هندي ژبو خصوصیات له کومه کړل؟ دا سوال دوه احتمالي ځوابونه لرلی شي. یوه دا چې پښتو له اصله یوه ایراني ژبه وه او هندي ژبو ډېر زیات عناصر، لکه څنګه چې ډار مستېتر او نور وایي، وروسته ور داخل شوي دي. بل دا چې پښتو له اول سرنه داسې یوه ژبه وه چې هم یې د هندي ژبو خصوصیات لرل او هم د ایراني ژبو. راځئ چې لومړی دا اول احتمال وڅېړو.

د یوه قوم ژبې ته د یوه بل قوم د ژبې په ډېره وسیعه پیمانه خصوصیات، معمولاً، هغه وخت ور داخلیدلی شی چې لومړی قوم د دوېیم قوم تر ډېرې قوي او اوږدې سیاسي او ثقافتي سلطې لاندې راغلی وي. خو تاریخ شاهد دی چې د پښتو ملک په اسلامي عصر کې هېڅکله هم د هندستان تر دغه راز سلطې لاندې نه دی راغلی، بلکه په دې دوره کې ډېر ځله هندستان د افغانانو او پښتنو تر سیاسي سلطې لاندې راغلی او اساساً همدا کار په هند کې د اسلام او اسلامي ثقافت د خپرېدو سبب ګرځېدلی دی. اما له اسلام نه وراندې داسې یوه دوره تېره شوې چې په هغې کې د پښتنو ملک د هندستان تر یوې قوي او طولاني سیاسي او ثقافتي سلطې لاندې راغلی و. دا دوره د موریا د کورنۍ د واکدارۍ عصر دی چې د چندراګوپتا د واکدارۍ له سرنه (۳۲۳ق.م.) پیل شوی او د آشوکا په مرګ (۲۲۷ ق.م.) پای ته رسېدلې ده او نږدې سل کاله یې دوام کړی دی.

په واقعیت کې همدا یوازېنۍ دوره ده چې کې دی شی پښتو ته هندي ژبو خصوصیات په دومره وسعت او قوت ور ننوتي وي او که دا خبره داسې وي نو پښتو به لږ تر لږه یوه دوه نیم زره کلنه او حتا تر هغه نه هم زړه به وي. اما کله که سړی هغه اول احتمال وپني او داسې و ګڼي چې په پښتو کې د هندي او ایراني ژبو خصوصیات ان د اول سرنه موجود وو، هلته نو بیا د ټرومپ نظریه تقویه کېږي او پښتو د هندي او ایراني ژبو تر منځ یوه ډېره لرغونې د اتصال کړۍ یا په بل عبارت د دغو دوو کورنۍ یو د یوه شمېر ژبو د انشعاب منشأ ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې څېړکې په مخلیک کې مې ورته په لنډو نغوته وکړه، او ورسته مې د ټولو وګړو او باندنیو ژبپوهانو اند او پند چې زموږ د ژبې ل پاره لره ستاسو پام و څرخاووه، زه دا کره بوږوم او سپینې ته یې راباسم چې زموږ د ټولو مېرڅمنو پند زموږ ژبې ته یو دی، پند مې ځکه له اند څخه ورسته تر څېړنې لاندې ونیوه، چې دا د هر دښمن کانه ده چې پر بل دښمن یې کوي، او خپلو لړلیو موخو ته پرې ځان رسوي، راوړتي اېنګلېس په اتلسمه پېړۍ کې چې د اېنګلېسانو د ځواکمن کېدو پېړۍ وه، او غوښتل یې چې له اروپا څخه اسیا ته خپله پوزه را اوږده کړي.

زموږ هېواد او اسیا خپل نوکر او پنډې جوړ کې او د هېواد سرمایه مو تالا کړي او دوی پرې مزې او چړچې وکوي، راوړتي که له یوه لورې د پښتو پخویه لیکلي وه، هغه یې هم د ډیفارمنټ او یوې پروژې په بنه د پښتنو پوهانو په متبه کړي وو، خو خپله موخه یې چې ده د اېنګلېسانو د بریا ل پاره کوو هغه باندې پوره کړ شوی او بریالی شوی وو، او همدوی ته ورته نور اېنګلسې پوهانو همدا کنې کړي دي، بېلګه یې زموږ وګړي یې په دې مصروف ساتل چې د پښتنو زهن د جګړې لورې څخه وګرځېږي، پام یې ټول د خپل اصل او آر مندلو کې شي، بېلګه یې همداسې ده چې زموږ پښتون پښت تر ټولو ډېر اصل او کم اصل پسې ګرځې چې د باکې او بې باکې غښتلی ار زښت ورته ور کوي.

راوړتي د پښتو ژبه د دیوانو ژبه وګڼله او وې ویل چې پښتون هغه قوم دی چې ښځې، خویندې، میندې او لوڼې به ترې د کېسې په غره کې چې د دې قوم (پښتنو) لومړی ځای دی، دیوانو بېولې او ودونه به یې ورسره کول، نو ځکه پښتنو له دیوانو څخه ژبه زده کړه چې د دوی ښځو، خویندو، میندو او لوڼو مېرونه وو او د یوان د دوی زومان راتلل، له دیوانو څخه دوی دا ژبه زده کړه چې دې ژبې ته پښتو وایې.

دومره بې باک او سپک اند د یوه قوم یا افغانانو له پاره ښه نه دی، خو دې ته ورته زموږ هر دښمن په هر ډګر کې حتا د ادب او مډیا په ډګر کې زموږ مېړانې، سرلوړی، سرخندنې او ځېږ توب ته په درنده سترګه نه ګوري. دوی زموږ دښمنان دي، زموږ دښمن زموږ ښه هېڅ کله نه وایې، بلکې په ورانه، ناګڼلې، رټلې، او سپکه مو وایې او دا تله درنده کوي.
ځکه موږ د دوی یواځې په یوې جګړه کې له کابله تر ننګرهاره ۶۰۰۰ شپږ زره په ښو وسلو تورو او سپرو سمبل ځواکونه مردار کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هسې په خوله یادېږي، په هوا کې نه دې وژل شوي، له کابله تر ننګرهاره په همدې لاره کې وژل شوي،!!!؟

راوړتې ته چې د اینکلېسانو د ځانګړو خدمتونو تن دی، او ژېږوه دی، موړ دېوان، سخت زړي، نه ماتېدونکي، وهشي، بلواګر، تراککر او قوي ښکاریړو، ځکه خو موړ دیوان ګڼې په دې به زموږ له کتابه لرې وګرې کله پوهېده چې د دوی په رازونو پوی شي، په رازونو پوهېدونکي هغه دې چې په حقیقي لاره یې مزل کړی وي او پرې پوهېږي. راوړتې ځکه د کسې غر ته نغوته کوي. چې غرغښت بابا، بیټ نیکه یا شیخ بیټنی د هغې سمې پورې اړوندی، پښتانه ورته ډېر درناوی لري، او د سلیمان ع د بېړی د ناستې بلی او د بیټ نیکه قبر هم د کسې په غره کې دی.
او د پښتنو په لرغونو اوسېدنځایونو کې یوه ډېره مشهوره تاریخي سیمه د سلیمان د غرونو لمنې دي. دغه د سلیمان غرونه په ځینو کتابونو او تاریخي اثارو کې د (کسې غره) په نامه هم راغلي دي.
د کسې د غره په لمنو کې د روزل شویو شاعرانو په ډله کې ترټولو معلوم پخوانی سړی غرغښت بابا، بیټ نیکه یا شیخ بیټنی دی، چې د ژوند زمانه یې د درېیمې هجري پېړی شا او خوا ټاکل کېدای شي او کېدای شي د (۳۵۰ لېږدي) کال په شا او خوا کې مړ وي.

د غرغښت بابا، بیټ نیکه یا شیخ بیټنی یو مناجات سلیمان ماکو په تذکرة الاولیاء کې راوړی دی. زه یې کاکړی غاړې بولم چې ټول خوند، اهنګ او تول تال یې د کاکړی دی. چې د پښتو د زړو اشعارو په لړ کې ډېر مهم شعر دی. بېلګه یې:

لویه خدایه لویه خدایه ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کې ټوله ژوي په زاری کې



۱۳:. د غر غښت بابا یا شیخ بیټنی یا بیټ نیکه د قبر انځور، الله بخښلی په ۳۵۰ لېږدي شا او خوا خاورته سپارل شوي، د سرې تمبرل شوي بیرغ ونې ببخ ته د کسې په غره کې.



۱۲:. د کسې د غره انځور چې د سلیمان ع د هوایي بېړی د کېناستو بلی ځای دی یا د سلیمان د غرو لمنې. د بیټ نیکه د قبر د ځای انځور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هره بنه چې څېړني کوي زموږ د پښتو دښن هېڅ باکه نه کوي، ځکه دېرې خپروني صحت او حقیقت نه لري، رښتیا او رښتنوالي د مېرځمنو په خپرونو کې شتون نه لري.

په لاندې عصري فن SmaertArt کې د مراتبو سلسله یا د واړ لړۍ Hierarchy یا د Organization Chart ادرې چارټ کې د پښتو ژبې ځای پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار هم په یو لړ شننو کې د سیویسزرلاند په پوهنتون کې دا په ډاګه کړې او په دې یې سر خوځولی دی. او په آریاني ژبو کې د پښتو تاریخي – جغرافیایي دریځ یې په دې بنه په ډاګه کړی دي.

چې پښتو ژبې ځای دا سې دی: آریاني ← باکتري ,, افغانستان ،، ← شمال ختیځ لړۍ ← ساکي زږه پښتو او زړې پامېرۍ ژبې ← منځنۍ پښتو ← پښتو.




څېره ٤.٩ په آریاني ژبو کې د پښتو تاریخي – جغرافیایي دریځ جوړښت یا (هېرارچي)

( Hierarchy د مراتبو سلسله، د روحانیونو سلسله، د روحانیونو حکومت، هغه حکومت چې د مرتبو سلسله د حاکمیت له مخې په کې کلکه وي)

زه کره کاږم نه هغه سې او نه داسې، زما خپله نظریه داسې ده چې زه یوه پښتون یم؛ مور او پلار مې هم پښتانه دي؛ د پښتنو له پښته یم؛ نو له ما څخه ډېر زما په پښتو ژبه باندې، باندنې پوهان او له موخو سره رالېږل شوي ژبپوهان ډېره پوهه له کوم ځایه ډېره لري.

هغوی چې له ما څخه پوهه دي زه هم ترې پوهه یم.

د ژبو د کورنۍ ونه چې په نړۍ کې سرغندوي او منل شوي نخښه ده، ترې ښه څرګنده ده چې د ژبې بیخ ډډ له ایندو- اروپایي ډډ څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل یوه ستر ښاخ یې یا کیڼ ښاخ ,, ښي ښاخ،، یې اروپايي دی، بل ستر ښاخ ګست ښاخ ,, چپه ښاخ ،، یې اینډو- ایراني ,, اینډو – آریاني ،، دی، او د ونې ملې یا د ملې پورته شوی ښاخ یې یورولیک دی.

که چېرې ښه ځېر شو دا به کره ومومو چې تر ټول نږدې او ټیټ د ژبې ښاخ چې انسان پرې د ژبو نورو ښاخونو ته ختلی یا پورته کېدی شي هغه ایرانی د ژبې ښاخ دی، چې پرې ودرېږي یا کېښني نو مخې ته دې د پښتو ژبې ښاخ دي څېړل، سپړل، لیدل او کتل یې اسانه دي. او ایرانی د ژبې ښاخ چې پرې ودرېږي یا کېښني چې لاندې پارسي ژبې خاښ دی چې څېړل، سپړل، لیدل او کتل یې سخته او ګران کار دی.

بل لورې ته دانو داسې ورته نه شو ویلی چې پښتو دې فارسي ژبه وي. یا دې پښتو ایراني ژبه وي او یا دې ترې اخېستل شوې یا زوکړه شوې وي. ځکه فارسي ژبه هم د ایراني ښاخ پورې تړل شوې او اینډو- ایراني ,, اینډو – آریاني ،، ښاخ له لارې، اینډو- اروپايي ډډ پورې تړل کېږي. فارسي د ایران میلي ژبه ده خو د فارسي د ایراني ښاخ پورې تړلې او هندي ژبه له اینډو ښاخ پورې تړلې او دې خاښ پورې نورې ډېرې ژبې تړلې دي چې ټولې په اینډو- ایراني ,, اینډو – آریاني ،، او د نړۍ ټولې ۶۵۰۰ ژبې په اینډو- اروپايي ډډ پورې تړل شوې او ترې خړوب کېږي. او په پینیواله کچه ,, پښتو ژبه په ټولو ژبو کې ۳۱ لیکه کې ځای لري.،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۷۲ چوپړی)

,, له ۵۰۰۰ مخزېږدي څخه یې شتون په نړوالو ژبو کې ځرګند دی،

په لومړي وختونو کې چې ۴۰۰۰ مخزېږدي کې په مصر کې له مسو څخه ګڼې واخېستل شوې، په همدې کلونو کې د سامیران متحده ښار دور دی، او په همدې کلونو کې په هند کې پیلنی وګړو ژوند پېژندل شوي. په ۳۵۰۰ مخزېږدي کې په مصر کې د ابېڅو پرمختګ لړۍ کړی دی، او په ۲۵۰۰ مخزېږدي کې لوړ پرمختللی ژوند وګړو د هند د سیندونو په غاړو کې کوو، چې په دې موده کې په اروپا او چین کې هېڅ نه وو، او ۲۰۰۰ مخزېږدي کې د اوبو او وچې لارې څخه اروپا او یونان ته لاړل.،، (من اینډ نیشن، ۱۱ چوپړی)

ادم ع یا ابوالبشر د سرلنکا په سراندیب غرونو کې له اسمانه راښکته شوی دی په ۵،۵۸۵ مخزېږدي کې. ۵،۵۸۵ کاله له میلاد وړاندې په ټوله ځمکه کې دوې تنه وه، یو د ټولو انسانانو پلار حضرت ادم ع او بله یې مېرمن بی بی حوا. او ژبه یې عربي وه، او د الله ج نوم چې هم عربي دی، په ټولو مخلوقاتو کې ځای ځای ځرګند وي، په طبیعي ډبرو کې په وریځو کې، په مېوو کې، په حیواناتو کې فطرتي ,, الله ،، کښل شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسانانو پوهه هلته رسېږي چې د هوښیارۍ اخېري تم ځای ته ورسېږي او په یو الله ایمان راوړي او مسلمان شي. د ژبو په کهول یا کورنۍ کې عربې ژبه د ژبو د کورنۍ په بېخ او رښتینو ملو کې ده.

او زموږ د ژبې ځای د ژبو په کورنۍ کې چې ما په لاندې انځور کې ترې سره کړی تاوه کړې ده شتون لري.

د پښتو ژبې ځای د ژبو په کورنۍ کې دا سې دی:: ایندو- اروپایي ← ایندو- ایراني ,, ایندو – آریاني ،، ← ایراني ,, آریاني ،، ← پښتو.

Pakhto Language Place in The Language Families:
INDO - EUROPEAN→ INDO - IRANIAN " INDO - ARYAN " → IRANIAN → PAKHTO.




۱٤:. د ایندو- اروپایي او یورالیک د ژبو کورنۍ ، یا د ژبو د کورنۍ ونه.
د پښتو ژبې ځای یا اصل یې ما په انځور کې په سره کرښه کړی کړی دی. په لاندې بڼه دی.
ایندو- اروپایي ← ایندو- ایراني ,, ایندو – آریاني ،، ← ایراني ,, آریاني ،، ← پښتو.

Pakhto Language Place in The Language Families:
INDO - EUROPEAN⟶ INDO - IRANIAN " INDO - ARYAN " ⟶ IRANIAN ⟶ PAKHTO

(c) ketabton.com: The Digital Library






١٦:. انځور کې د اسيايي ژبو په کورنۍ کې د پښتو ژبه د ايندو ايراني او تورکي په منځ کې ځای لري.




١٥:. د پيښوالو ژبو انځور چې پښتو په مرکزي ايراني، او بيا په ايندو ايراني او ايندو اروپايي کرښې سره ګډېږي چې عمر يې ٥٠٠٠ مخزېږدي ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






۱۷:. د زړي دنيا نخشه چې د اليګزندر يا ماکيدانسکي يا اسکندر مقدوني ۳۲۶ مخزېږدي کې د هند د سيندونو غاړو ته راتک کړی دي، او هغه ويلې دي چې زه د جنګونو په لړۍ کې داسې ځای ته ورسېدم چې نوم يې لمپاکا ,, لغمان ،، وو، دلته دا سپنې ته راوځي چې د دنيا له زړې نخشې څخه وړاندې پښتانه يا آرياني له هندوکش د غرونو له لړيو څخه تللي دي او د امو له سيند څخه تېر شوي دي. داسې نه ده چې آرياني دي يا پښتانه دي د امو سيند له لارې دې خواته راغلي وي. تمدن او د وګړو ژوند له بلخ وتلی هېند ته تللی دی. ېبرته له هېنده د لمپاکا له لارې تېر شوی دی پنج سيند تېر او اروپا ته په ۲۰۰۰ مخزېږدي کې او په ۳۲۵ مخزېږدي کې بېرته آرياني د هند تر سيندونو پوري راغلي دي. په پيل د نړۍ ۴۰۰۰ مخزېږدي کې مصريان وو، چې له مسو څخه يې کټنې واخېستې، او ايرانيانو په ۵۲۵ مخزېږدي کې په مصريانو برى وموندە، موږ څو وارې په ايران برى مندلی دی، لکه په ۱۷۱۰زېږدي کې د مېرويس خان، بيا د ده زوی شاه حسين هوتک، احمدشاه شاه بابا تر ۱۷۷۳ زېږدي پورې په ايران برى مندلی وو او واکمني يې پرې کوله، تر ۸۰۰ کلونو پورې پښتنو په هېندستان واکمني کړې ده.خو زموږ پښتنو يا زړو ايندو آروپايانو چې له لمپاکا څخه د غرب په لور تللي وو، په ۲۰۰۰ مخزېږدي کې يې په ايران کې شخړې اوارولې، ترې يې ترلې، جرګې او ختک، خټک پرېکړې يې کولې لغمانی فارسي هم له دې ځايه تېته شوې. په اصل کې پښتانه ايرانيان او اېندوان نه دي، د اېندو ژبې ښاخ پورې تړل شوې او د وګړو او ژبو دا ښاخ له پښتنو څخه ايران ته تللی دی. خو په پيل کې مدنيت يا ښاري ژوند له بلخ، هېند بيا اغيور څخه پيل شوی دی او ګردې نړۍ ته تللی دی، چې ټول انسانان د يوه پلار حضرت ادم صفي الله زوزات دی، هغه ابوالبشر دی او په ۱۰۰۰ ژبو باندې زده کړه ورته الله ج ورکړي وه، زوزان يې په هره سېمه کې اوسېدل او نورو ځايونو ته به تله راتلل؛ په ځينو سېمو کې به يې د ژوند کولو له پاره خپل زوزان پرېښول، سېمو پرې خپل د هواوېچې تاثيرات پرېښول ژبې او څېرو به يې هم بدلون کا وو. چې ځينې زامن به يې له نېغې لارې څخه ابلېس لرې کول او د اسلام څخه به يې په کفر کې کېول. د نېکونو او پلارونو څېرې به يې پرې جوړې کړې او بيا به يې د هغه نه منونکی درناوی کو. څڅلې به يې دې څېرو ته کولې، چې کله داسې کانې يې ډېرې شوې. الله ج د نوح ع په دوران کې ټول ورک کړه، ټوله نړۍ مسلمانان وو، د وخت اسلام شتون در لود، بيا پرې ابلېس همداشان کانې شروع کړې، بې دينه يې بيا ترې جوړ کړه، بودا يې هم په ۵۶۳ مخزېږدي کې زوکړه کړه، په لمپاکا کې د نوح ع پلار مهترلامک او د وخت اسلام شتون درلود، بدايزم هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو ژبې ویکیو ,, ویبي،، اړیکه له نورو اریاني ژبو سره.

د دې له پاره چې کره په ډاګه کړم. ,, زه غواړم چې دغه اشتراک په څو حسابي اعدادو کې او څو نورو لغتونو کې،، (نورمحمد،۱۳۸٦ لیږدی ۳ چوپړی)، (محمد صفر، ۷۸ تر ۸۹ چوپړی).

د پښتو ژبې اړیکه له نورو آریاني ژبو سره په لاندې لښتیلیک یا جدول کې سپڼي ته راباسم.

| کڼه | پښتو | پشه یي | دري | بلوڅي | نورستاني | شغني | پراچي | ارمړي | پنجابي | روسي | انګریزي | فرانسوي | جرمني | سانسکریت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | یوه | اې | یک | یکې | ایو | ییو | زو | ښې | اک | ادین | ون | ان | ایس | ایک |
| ۲ | دوې | دو، ده | دو | ده | دیو | زي اون | دې | دو | دو | دوه | ټو | دو | سوی | دوا |
| ۳ | درې | ترې | سه | سې | تره | آرې | ښې | یته | ترې | ترې | ترې | تروه | درې | ترې |
| ٤ | څلور | چار | چار | چار | شتوا | څوار | څور | څار | چار | چیټیري | فور | کاتر | فیر | چتوار |
| ٥ | پینځه | پنځ | پنځ | پنځ | پوځ | پنځ | پونځ | پلنځ | پنځ | پیاسټ | فایف | سنک | فونت | پنځ |
| ٦ | شپږ | ښې | شش | شش | شو | غوځ | خې | خه | چهې | شیست | سکس | سیس | ذکس | ششت |
| ۷ | اووه | سَت | هفت | اپت | سُت | اوود | هوت | اوه | ست | سِم | سیون | سَت | زیبن | سِپت |
| ۸ | اته | اشټ | هست | اشت | وشت | ویښت | اوښت | آنخت | اټه | وسیم | ایټ | ویت | اخت | اشت |
| ۹ | نه | نو | نو | نو | نو | ناد | نو | نه | نون | دویات | ناین | نف | نوین | نو |
| ۱۰ | لس | دې | ده | ده | دوځ | جیلسي | دوس | دسی | دس | دسیا | ټن | دیس | سیبن | دش |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کڼه | پښتو | پشه یي | دري | بلوڅي | نورستاني | شغني | پراچي | ارمړي | پنجابي | روسي | انګرېزي | فرانسوي | جرمني | سانسکریت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | میاشت | مای | مهتاب | چن | ماه | ماس | میسته | ماهتاوی | ماهو که | مون | لونه | موند | لون | ماس |
| ۲ | لمر | سُر | آفتاب | سورج | دچه | سو | خبر | توده | دوچه | سن | سونځه | زنی | سولای | سوریه |
| ۳ | ستوری | ستارا | ستاره | تاره | استار | شتا | سیتیز | ستاره | استیجه | ستار | زویزد | شترن | اتوال | ستارا |
| ۴ | غر | دار | کوه | پهاړ | کوه | دا | دهار | ګری | دهار | مونتین | ګوره | ګبیرکه | مانتاني | ګیری |
| ۵ | واوره | ائیم | برف | برف | برف | زیم | ژبنج | غویبش | غرب | سنو | سنک | شني | نیژ | هم |
| ۶ | اور | انګار | آتش | آک | آجشي | انګاڼ | یاخ | رون | رمني | فائیر | اګوڼ | فویر | فو | ګنی |
| ۷ | سپي | شوړنګ | سګ | کتا | کجک | کوي | کهدمه | سپوک | اسپو | ډاګ | سوبګه | هوند | شیان | سوان |
| ۸ | اوښ | شتور | شتر | اوته | اشتر | شتیور | ښتر | شتر | شتر | کیمل | ویربلوت | ګمل | شامو | اشتر |
| ۹ | ولي | کیاندي | چرا | کیون | پچه | که | چیزره | که | چګن | وای | پوچیو | واروم | پورکو | کم |
| ۱۰ | کله | کودن | کی | کدون | کوي | کوئي | څه وخت | کان | کبهي | وِن | ککده | وان | کان | کدا |

۱.۹ لښتیلیک :. د پښتو ژبې اړیکه له نورو آریاني ژبو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۱۰. د ولس بدلون

زه داسې بورووم چې ځینې وخت بدلون ګټور وي، په پیله کې ښې پیلې لري. د دې له پاره چې د پایلې شننه یې له وړاندې ارزول شوې وي. که بدلون ګټور نه برېښې خو بدلون نه ورکوي، او که ګټور برېښېده نو بیا بدلون ور کوي.

د وکړیو د اند لید لوري د خپلې ژبې ادب لوري ته بدلول زرینې ګټنې لري.

د څېړنې دا چوپړي ساده برابروي دا:.

۱. چې د خپلې ژبې له ادبیاتو څخه په هره برخه کې چې وي ساتنه ( دفاع) وکړو هر کله چې پردي ژبې زموږ په ادبیاتو یوه ټکی یرغل هم کوي. ور ته نېغ چمتو ودرېږي او ورته درانه، روغ، رټ، رټلي ځوابونه په هر پېر ( وخت یا حالت) او په هر ځای کې چې موږ یو. د خپلې ژبې مېرڅمنو ته ورکړو.

۲. لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ زموږ د پلارو او میندو د خوږې ژبې اصیل شېرونه (پېیلې، شعرونه) دي. لکه څنګه چې پلارونه او میندې پر موږ ګران او درانه دي همداسې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ګرانې او درنې دي. وایو یې هم!!! یادوو یې هم !!! لیک او لوست یې هم وکړو!!!.

۳. د پښتو ژبې او ادب پرمختګ له پاره د وګړو پام د دې ریسرچ پانې غتو ټکیو ته چې له د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو بېلوالي څخه پیل او په یېبره پای کېږي. په ځغلنده نظر مطالعه کړي چې د خپلې زده کړې روزنې ته یې زورنه شي.

٤. لنډۍیو، ټپې، ټیکۍیو او مصرۍیو هر اړخېزه خپرول، عملي کول، لل (لېبل)، تبیل، زده کړه کول، تدریسول او نورو ژبو سره یې اړیکه په ډاګه کول. زموږ د ژبې سرغندوي کول دي. چې د ټاټوبي، ولسونو او د پېنۍ د بېلا بېلو ټبرونو د دود پېژندنې سبب کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری د پښتو ژبې ښکاروندي ( کودونه، نښان، سټنډرډ) لکه :. زده کړه، ننګ، پښتونولي، پښتونواله، اړې، یووالی، مېلمپاله، جغات، هڅهونه، ملاتړ، سرخندنه، هېښول، غیرت، عفه، سرلوړي، درناوي، جرګه، انشر، تره، توري او سپړې، ننواتي، پګړۍ، پیغور، تړاکه، نادوده، مرچل، چېغې، ژبه یا لوز کول... . تازه او روغ ساتي او ښکارندوی کوي یې.

ولس هغه وخت ولس کېږي چې د , و، چنګوالي او کوږوالي یې سم شي، څکه واو , و ، خپله چنګ او کوږ دی، لس نو بشپړ ته وایي. د واو ترښتی چې له لس , ۱۰، سره ترښتی شي. نو ولس تري نه جوړېږي. د وګړیو یوالی او د خپلې ژبې ښکاروندي ښکارندویه وساتي. دا بدلون د ولس بدلون دی. په دې سره به ولس روغ ملګنی شي او ولس به په دې بدلون سره مانېز شي.
لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری د پښتو ژبې ښکاروندي ( کودونه، نښان، سټنډرډ) لکه :. ننګ، پښتونولي، پښتونواله، اړې، یووالی، مېلمپاله، جغات، هڅهونه، ملاتړ، سرخندنه، هېښول، غیرت، عفه، سرلوړي، درناوي، جرګه، انشر، تره، توري او سپړې، ننواتي، پګړۍ، پیغور، تړاکه، نادوده، مرچل، چېغې، ژبه یا لوز کول... . تازه او روغ ساتي او ښکارندوی کوي یې. له پوهنیار عبدالرسول امین سره سم چې د هغه څرګندول چې روڼوي کتنه داسې.

,, د اسلام د راتګ تر مخه پښتنو د خپل قبیلوي اجتماعي ژوند د تنظیم له پاره د خپلې سیمې د پرمختللي امتزاج په بڼه ځینې خپل اریاني کوډ درلود.
اسلام د خپلې سیمې پر مختللي امتزاج څه وخت چې اسلام پښتنو په ځینو برخو کې ورته والی موجود وو، د اسلام د منلو وروسته پښتنو د خپلو اجتماعي موسسو په چوکاټ او فعالیتونو کې اسلامي عقاید و منل، په ډېرو برخو کې اسلامي عقاید او پښتنو د کوډ پښتنولي د یوه بل ممد دي او په ځینو برخو کې اسلامي عقاید او پښتولي کوډ اریاني خصوصیات ساتلي دي دلته د ډېرو مشابهتونو او جلاوالي نه یوه څو مثالونه وړاندې کېږي.
په ټولو قومي جرګو کې د کبیلو (قبیلو) له مشرانو سره مذهبي روحانیون ګډون کوي چې په جرګو کې دوی اساسي غړي وي. د پښتنو د هېواد پالنې روحیه د اسلام له خوا هم تقویه کېږي وایې:
پښتونولي:.
خاونده سل څله ژوند راکړې
چې د وطن په مینه سل څله مړ شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذهب:.

▲ د خپل وطن په مینه مړ شه

چې جنازه دې د اسمان ملکې وړینه

پښتانه: ملي جګړو ته ننګ وايي او اسلام ورته د غزا نوم ورکړی وايي:

ننګ:.

▲ یوه خواته ننګ بل خوا ته مرګ دی

مرګ مې قبول دی بې ننګي نه قبلومه

غزا:

▲ غزا ته لاړ شه چې غازي شې

د نغري غاړه کې نه شته جنتونه

پښتانه د ننګ په ډګر کې زلمو ته توریالي او په ننګ کې مړو ته اتل وايي. چې اسلام ژوندي ته غازي او مړ ته د شهید مقام ورکوي، وايي:

سرلوړي:

▲ جانان مې جنګ کې سر ور کړی

ځکه همزولو کې سرلوړې ناسته یمه

شهادت:

▲ بیرغ مې سور په قبر هسک کړئ

په شهادت د خپل وطن جنت له ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتونولي لوز ساتل او مېلمه پالنه د اسلام د وعدي، وفا او سخاوت سره يوه مانا لري، د مقالې په ډېرو برخو کې د مذهب او پښتونولي ګډو خصوصیاتو ته اشارې شوي.
له بلې خوا اسلام د طلاقولو اجازه ورکړې او تېريدو يا عفوې له پاره يې ډېر ثوابونه ښودلي. اما پښتانه د پښتونولي کوډ له مخې د ښځې پرېښودل لوی شرم او د بدل نه اخېستل لوی پېغور ګڼي او داسې نور.

په مجموعي ډول د پښتنو په قبيلوي ژوند کې داسې بنيادي بدلون نه دی راغلی چې د دوی قبيلوي اجتماعي شرايطو راوبطو او موسسو ته خاتمه ورکړي. او د دوی روابط د پرمختللی اقتصاد په بنياد ودروي، ځينې قبېلې چې ښار ته نږدې دي يا په ښار کې ژوند کوي. د ښاري ژوند د تاثير په وجه د دوی قبيلوي روابطو لږ ډېر تغېر موندلی او د دوی د ژوند ډېره برخه د معاصرو مفکرو او موسسو له خوا راهنمايي کېږي.

د معاصر ښاري ژوند خصوصيات د نه شته والي په وجه د ډېرو پښتنو اجتماعي موسسې او فعاليتونه د پښتونولي د کوډ په اساس چلېږي. چې پښتانه د پښتونولي کوډ د قبيلوي ژوند د شرايطو او پلار واکه پښتني ټولنې د ضرورت په وجه منځ ته راغلې چې تر اوسه دغه کوډ په پښتني جامعه کې د تطابق او مفيديت په لحاظ پاتې شوي دي. دې کوډونو د پښتنو قبيلوي چوکاټ او فعاليتونو ته مشخص خصوصيات ورکړي. د اخلاقي کوډونو بر سېره د پښتونولي ځينې کوډونه د مقننې، قضايي، او اجرايي خصوصيات لري. چې ښه مثال يې د پښتو جرګه ده چې د موضع په ټولو اړخونو بحث کوي، د بحث په دوران کې د جرګې ټول غړي او مخالفې ډلې د خبرو د ازادۍ او رايي حق لري ( دا برخه مقننې سره ارتباط نيسي) جرګه د غور نه ورسته د مختلفو ډلو په رضايت فيصله صادر وي، ( دا برخه يې قضايي خصوصيات لري). د پرېکړې نه ورسته دواړه مخالفې ډلې مکلف دي چې د دواړه مخالفې ډلې مکلف دي چې د جرګې پرېکړه و مني او عملي يې کړي که يوه ډله د جرګې پرېکړه ماته کړي جرګه د نامنونکي ډلې نه ناغه اخلي ( د جرګې د فيصلې عملي کول او ناغه اجرايوي بڼه لري) د پښتونولي مختلف کوډونه د دوی اجتماعي ژوند ته تنظيم ور کوي.... ،، (پښتو ټولنه، ۱۳۵۴ لېږدی، ۱۶۰ چوپړی)
زده کړه:

غښتلې زدهکړې ته زور ورکړه

د ناپوهۍ پېره دې تور دوزخ ته وړينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱. په پښتو علمي ادب کې د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو ځای

### ۱.۱۱ ولسي (فولکلوري) ادبیات

د ادب یا ادبیاتو په یوې پېژندنه کې لولو چې: ,, د یوې ژبې ټول لیکلي (تحریري) او نالیکي (شفاهي) منظوم او منثور هنري آثار ادبیات ګڼل کېږي.،،
همدې پېژندنې ته په پاملرنې ولسي، عامیانه یا فولکلوري ادبیات د هر ملت او ولس په ادبي تاریخ کې ارزښتمنه ونډه لري او د هغو له یادونې پر ته د یوې ژبې د ادبیانو مطالعه نیمګړې برېښي، نو دمخه تر دې چې د ولسي ادبیاتو په ډولونو او ځانګړنو څه و وایو د ,, فولکلور،، د کلمې په لغوي او اصطلاحي پېژندنه، چې په نړیواله سطحه د دغه ډول ادبیاتو له پاره استعمالېږي، د خپل بحث لړی پیل کوو.

### ۱.۱.۱۱ لغوي او اصطلاحي پېژندنه:

فولکلور، فرانسوي کلمه ده، لغوي مانا یې فرهنګونو: د خلکو ادبیات، ولسي پوهه او زده کړه راخیستې ده او په اصطلاح کې د کولتور هغه څانګه ده چې د انساني مشخصو، ډلو، عنعنې، دودونه، نکلونه او انساني ارزښتونه، انګېرنې، شګومونه، اعتقادات او داسې نور په کې شامل دي.

فولکلور د محتوا له نظره درې برخې لري:۱. شفاهي فولکلور،۲. غیرشفاهي فولکلور ۳. نیم شفاهي فولکلور.

په شفاهي فولکلور کې: محاورې، متلونه، سندرې، چیستانونه، ټوکې ټکالې (فکاهیات)، دودونه او ولسي قوانین او نور شامل دي.

په غیر شفاهي فولکلور کې: سیمه ییز هنرونه، موسیقي (ټنګټکور، ساز او اواز)، سیمه ییز خواړه او سیمه اداب شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نیمه شفاهي فولکلور کې: خرافاتي عقیدې، سیمه ییزي لوبې، نڅاوې او نور راځي. په یوه بل پېژندنه کې لولو:

د فولکلور اصطلاح له دوو کلمو څخه جوړه ده: ،،فولک،، (folk) وګړي یا خلک او،،لور،، (lore) ادبیات یا زده کړې ته وایي. چې له دواړو څخه ولسي پوهه، د خلکو زده کړه یا د خلکو ادبیات جوړېږي. دا کلمه د لومړي ځل له پاره په ۱۸۴۶م کال انګلیسي پوه ټامس استعمال کړه.

ځینو فولکلور څېړونکو د فو لکلور له پاره پېنځه ځانګړنې ښودلې دي:
۱.په شفاهي توګه موجود وي، ۲.په عنعنوي او دودیزه توګه موجود وي، ۳.منظومه یا منثوره بڼه لري، ۴.جوړونکي یا رامینځته کونکي یې معمولاً معلوم نه دي، ۵.د کولتور د جز په توګه په هر کولتور کې شته.

اوس چې مو فولکلور په لغوی او اصطلاحي لحاظ و پېژاند، د بحث اصلي موضوع ته راځو او په ولسي یا عامیانه (فولکلور، ګړنې) ادبیاتو بحث کوو:

لکه چې د مخه مو یادونه وکړه ولسي ادبیات د هر ولس، د ټولنې او ملت په ادبي تاریخ کې ارزښتمنه ونډه لري او د هغې له یادونې او ورته پاملرنې پرته د هغه ولس او خلکو ادبي تاریخ نیمګړی ګڼل کېږي.

ولسي ادبیات معمولاً شفاهي بڼه لري او په هغو ټولنو او ولسونو کې زیات پیاوړي وي چې د لیک لوست (سواد) خپریدنه په کې ډېره نه وي عامه شوي او وګړي یې له دغه نعمت څخه بې برخې وي.

زموږ هېواد او ټولنه هم د ځانګړو سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او جغرافیوي عواملو له امله د دغسې ټولنو او ولسونو د کتار په سر کې راځي، نو ځکه په کې د لیکلو ادبیاتو په پرتله د دغه ډول ادبیاتو پانګه درنه او شتمنه ده.

زموږ زیاتر وګړو د پېړۍ یو په پوړیو او اوږده تاریخي بهیر کې خپلې هیلې، ارمانونه، غوښتنې، خوښۍ، غمونه، رنځونه، مینې او لنډه دا چې د ټولنیز ژوند ټول کړه وړه په دغو ډول ادبیاتو کې منعکس کړي او په شفاهي توګه یې له یوه نسل څخه بل ته لېږدولي دي. د لېږدوني په دغه بهیر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو ادبیاتو زیاته برخه هېره شوې او ورکه شوې ده او یا په بله وینا: زیاتره د راویاتو په له منځه تللو سره دغه وخت په وخت د ایجاد شوي ادبیات هم له منځه تللي دي او لکه صحرايي پخپله راټوکیدلي ګلان ورو، ورو مړاوي او پانې، پانې شوي دي.

له همدې امله موږ د دغو ادبیاتو ډېرې لرغونې بېلګې په لاس کې نه لرو. خو بیا هم هغه ډېره لږه برخه چې پاتې ده د هغې بېلابېلو انواعو او ډولونو ته په کتنې موږ په ډاډ او باور سره دا ویلی شو چې: زموږ عامو ولسي وګړو که لیک لوست نه شو کولی او د سواد له نعمت څخه بې برخې وو، خو پیاوړی هنري ذوق او احساس یې درلود، چې هغه یې د دغو ادبیاتو په بېلا بېلو کالیونو کې ځای کړی او په ډېره په زړه پورې بڼه بیان کړي دي.

دلته د دې خبرې یادونه ضروري ده چې زمونږ د هېواد د استوګنو بېلا بېلو قومونو او ولسونو د شفاهي یا نا لیکلیو ادبیاتو خومره والی او څرنګوالی سره توپیر لري. په دې لنډ تنګ لیکنې چوکاټ کې پر هغو هر اړخیزه څېړنه او د ټولو بېلا بېلو منظومو او منثورو ډولونو ښودنه ناشونې کار برېښي، نو اړ یو چې یوازې په عامه توګه د ولسي ادبیاتو د منظومو او منثور ډولونو چې په پښتو او دري ادبیاتو کې یې بېلګې او نمونې لرو، نومونه واخلو او بیا د ولسي او فولکلوري ادبیاتو د ډېرو عامو ځانګړنو یادونه و کړو.

## ۲.۱.۱۱ د ولسي ادبیاتو وېش او ډلبندي:

## ۳.۱.۱۱ الف: منظوم او ولسي ادبیات

## ب: نثري (منثور) ولسي ادبیات

منظوم ولسي ادبیات په عامه توګه دا لاندې ډولونه لري:

**لومړی:** عامي ولسي سندرې یا شعرونه (شېرونه، اشلوک، پېړان یا پیبلې).
**دویم :** خاصې ولسي سندرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱.۳.۱.۱۱ ۱ لومړی: عامې ولسي سندرې یا شعرونه (شېرونه، اشلوک، پېړان یا پیبلې).:

عام ولسي شعرونه هغه دي چې ویناوال یا شاعر یې نه وي معلوم، لکه: ۱. د میندو سندرې چې خپلو ماشومانو ته یې وایي، ۲. د ماشومانو سندرې چې د لوبو په مهال او یا په خپل منځ کې د مشاعرې په بڼه وایي، ۳. منظوم چیستانونه، ۴. لنډۍ ، ۵. سروکې، ۶. د اتڼ نارې، ۷. دنکلونو نارې، ۸. غاړې (کاکړی غاړې)، ۹. تاریخی نارې چې د پښتو ولس ادب مهمې برخې دي، ۱۰. دوبیتي او چهاربیتي (دري ولسي ادب کې شته )، ۱۱. منظوم فالونه، ۱۲. منظوم متلونه، ۱۳. د ښځو ځینې سندرې چې په بېلا بېلو مراسمو کې ویل کېږي او داسې نور.

## ۱.۳.۱.۱۱ ۲ دویم: خاص ولسي سندرې یا شعرونه:

خاص ولسي شعرونه یا سندرې هغه دي چې ویناوال شاعران یې معلوم او ولس پېژندل شوي خلک دي، دا لاندې ډولونه لري: ۱. رباعي (مقام)، ۲. غزل، ۳. چاربیته، ۴. لوبه، ۵. بګتۍ (دا وروستي درې یوازې په پښتو ولسي ادب پورې اړه لري)، ۶. داستانونه او نور.

د یادونې وړ ده چې د ولسي منظوم ادب پورتني ډولونه نالوستو او بې سواد شاعرانو نه دي را منځ ته کړي، بلکې زمونږ ډېرو مشهورو شاعرانو هم په ولسي اوزانو او کالبونو شعرونه ویلي دي.

## ۱.۳.۱.۱۱ ۳ ب: منثور یا نثري ولسي ادبیات

ولسي نثرونه هغه اوږدې او لنډې خوږې او پخې ویناوې دي چې د ولس په زړه کې رامنځ ته شوي، ویناوال یا اصلی رامنځته کونکي یې نه دي معلوم او د ټول ولس ګډمال دی، خوله په خوله او سینه په سینه له یوه نسل څخه بل ته نقل شوي دي دا لاندې ډولونه لري:

۱. ولسي نکلونه او حکایتونه، ۲. وړې کیسې، ۳. متلونه، ۴. اصطلاحي او محاورې، ۵. تشبهات او استعارې، ۶. چستانونه، ۷. تکیه کلامونه، ۸. رمزونه یا کنایې، ۹. دعاوې او ښېراوې، ۱۰. سترې مه شي، ۱۱. ټوکې او ټکالې (فکاهیات) ، ۱۲. روایات، ۱۳. القاب او صفتونه، ۱۵. د ماشومانو له پاره کیسې او نکلونه (چې زیاتره ,, ښه سلوک هڅونې،، (اخلاقي انتباهي) بڼه لري).

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ٤.۱.۱۱ د فولکلوري ادب راټولونې اهمیت:

د ولسي منظومو او منثورو ادبیاتو راټولولو، لیکلو او په دې وسیله خوندي کولو له پاره تر یوې یا یوې نیمې پیړۍ مخکې زماني پورې ځانګړې پاملرنه نه کېدله، په اروپا کې نولسمې پېړۍ په منځنۍ یو کلونو کې د څېړونکو او ادب پوهانو پاملرنه د ادب دغې ارزښتناکې برخې ته وا وښتله، د هغې په راټولولو او کتابي بڼه خپرولو یې لاس پورې کړ. دغو پوهانو نه یوازې دا چې د خپلو هېوادو او ولسونو، بلکې د ختیځو هېوادونو د میشتو قومونو او ولسونو د ولسي ادبیاتو په راټولونه او خپرونه یې پیل وکړ او دغسې یې د ولسی ادب یوه برخه له هېرولو او ورکېدلو څخه و ژغورله. د بېلګې په توګه د دغو پوهانو له ډلې څخه فرانسوي ختیځ پوه جمیز ډار مستټر (۱۸٤۹ .۱۸۹٤م) یادونه کولی شو چې د پښتو ولسي شعرونو بېلابېل ډولونه یې په یوې مجموعه کې راټول او په (۱۸۸۸م) کال یې په پاریس کې د ,, پښتونخوا شعر هار او بهار،، په نوم خپره کړه.

وروسته بیا کله چې زموږ په هېواد کې مطبوعات رامنځته او عام شول ځینو لیکوالو د فولکلور راټولونې ته هم پاملرنه و کړه او په سراج الاخبار بیا نورو خپرونو کې زموږ د دغو ادبیاتو یوه نیمه بېلګه خپره شوه. د رواني لېږدیزي لمریزي (هجري لمریزي) پېړۍ په لومړۍ یو کې (۱۳۰۸ه ش) انجمن ادبي کابل، د کندهار ادبي انجمن (۱۳۱۱) پښتو ټولنه (۱۳۱٦) او دغسې نور فرهنګي مرکزونه جوړ او خپرونې رامنځته شوې، ډېرو لیکوالو ته د فولکلوریکو څېړنو او خپرونو لارې چارې برابرې شوې. په دې لړ کې د متلونو، لنډۍ یو او نورو ولسي شعرونو او کیسو مجموعې چاپ او خپرې شوې. د فولکلوریکو څېړونو سمپوزیمونه او سیمینارونه جوړ او په دې ډګر کې ارزښتمن کارونه ترسره شول.

### ۵.۱.۱۱ د ولسي ادبیاتو ځانګړنې:

۱. ولسي منظوم ادب د عربي عروضو او اوزانو تابع نه دي، خپل ملي ولسي وزنونه لري، په هجاء او سیلاب د تقطیع وړ دي.

۲. ولسي ادبیات موضوع په لحاظ د ولسي او کلیوالي ټولنیزو، اقتصادي او کولتوري اړیکو ځرګندونکي دي، کلیوال چاپېریال او د خلکو ژوند په کې منعکس کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. ژبه يې ساده، سوچه او د خلکو یا ولس له ورځنۍ محاورې سره برابر ده.

۴. ډېره مبالغه او له حقیقته لرې خبرې او تصنع په کې نه لیدل کېږي.

۵. د پردۍ یو ژبو اغېزه په دې ادبیاتو کې کمه او په نشت شمېر ده.

۶. دا چې د دغو ادبیاتو زیاته برخه د نالوستو او بېسوادو وګړو د ذهن او فکر محصول ده، او رامنځته کوونکې یې په ولس کې اوسېږي د ولس د ټولو مسلطو کولتوري او ټولنیزو ارزښتونو او روابطو تابع دي.

۷. ادبي لفظي او معنوي صنایع، تشبیهات او استعارات په کې له عقل او پوهې نه وتلي او غیر طبیعي نه دي.

۸. د ادبیات د اجتماعي ارزښتونو په لړلو سره بېره له لوړو هنري ارزښتونو څخه هم برخمن دي، چې زموږ د ولس د لوړ هنري او ادبي ذوق، ښه څرګندويي او استازيتوب (نماينده ګي) کولې شي.

۹. په دې ادبیاتو کې د پښتو بهیر او د ژوند څېرې کټ مټ انعکاس مومي.

۱۱. په ولسي ادبیاتو کې ښکلا، اسانتیا او رښتیا یا په بله ژبه ښکلی والی، اسانوالی او رښتیاوالی په ښه بڼه ځان ښکاره کوي.،، ( سید محی الدین ۱۳۸۶ لېږدی، ۱۰۴ چوپړی).

ارستالیس یا ارسطو پر۴۴ کلنۍ کې ۳۴۰ مخزېږدي کال لمپاکا ته له سکندر مقدوني سره راغلی و او زموږ له هواویچې، سبمې، جګړې او جرګې یې پند اخستي و، نوموړی د لرغوني یونان درې ګونو فیلسوفانو څخه وو، نوموړی د اریستو کلس افلاتون زده کوونکی دی، او اریستو کلس بیا د سقراط حکیم زده کوونکی دی. ارسطو د سکندر مقدوني ښوونکی دی. ارسطو د فزیک، شعر، ټولنپوهنې، منطق، بیان، سیاست، دولت، او اخلاقو په اړه یې ډېرې څېړنې کړي دي.

,, المیه شاعري : د ارسطو په نظر په کومه شاعرۍ کې چې انساني کردارونه د خپل چاپېریال له عامو وګړو څخه ډېر ښایسته، خوندور، او په غوره خویونو موصوف وښودلی شي، په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صورت کې په اشعار المیه بڼه خپلوي.،، ( محمد ابراهیم، ۱۳۹۳لیږدی، ۱۹۰ چوپړی) زه دلته دا رونوم چې.

په ټولنېزه کره کتنې پام له مخې، پښت، چارپېریال، او زمانه اړین توکي دي، زما د ملګري ورور پوهندوی محمد براهیم همکار په خپل لیکي ادبي کره کتنه کې کښلي دي، چې د اینګلېستان ادب کې په شین اسمان، او سور لمر ستایل کېږي او زموږ په ادب کې یخې ولې سورې، ستایل کېږي، او یوه مصرۍ یې داسې لیکلي.

▲ ګل د ګلاب بوی د سنځلې

سورې د ولې د غېږ د یار مزه کوینه

او کېسه داسې کوي چې ,, یوه ورځ مې اوستاد له خولې د یوه چیني سیلاني او اروپایي سیلاني نظرونه واورېدل؛ چینایي سیلاني چې کله اروپا ته تللی و، د هغه ځای د خلکو د ښکلا ستاینه یې کړې وه، مګر په مخ کې یې یوازې د لوړې پوزې په اړه ویلي و ,, د اروپا خلک ښکلي وو خو پوزې یې لوړې وې، چې ښکلا یې یوه څخه کمه کړې وه.،،

همدا رنګه یوه غربي سیلانی چین ته تلی و هغه د سیمې د خلکو د ښکلا په اړه ویلي وو؛ ,, د چین خلک ښکلي وو خو یوازې د پوزې پیتوالي یې ښکلا ته یوه څه زیان رسولی وو.،، له پورته څرګندونو څخه دا پایله لاس ته راځي، چې په یوه ټولنه کې لوړه پوزه د ښکلا معیار و او په بله ټولنه کې پیټه پوزه د ښکلا معیار و.،، (محمد ابراهیم، ۱۳۹۳ لیږدی، ۱۲۷ چوپړی).

,, د شیانو او حالاتو په اړه چې څرنګه خبرې کېږي یا فکر کېږي: انسان د ځینو شیانو په اړه فکر کوي، یا خبرې کوي نو په همغه بڼه یې په شعر کې را وړي لانديې لنډۍ د هغو فکر زېږنده ده، چې د لیلا او مجنون د کیسې په ورستی پیغام رښتینوالي د اوریدونکو په ذهن کې کښېنوي.

▲ اسمان ته لار د ختو نه شته

لیلا مجنون په عاشقۍ ختلي دینه.،

(محمد ابراهیم، ۱۳۹۳ لیږدی، ۱۲۷ چوپړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶.۱.۱۱ اخلاقي کره کتنه

پخوا د ادب موخه د یوه شي ښه والی او بد والی څرګندول و. د دې خبرې یا نظریې په رڼا کې ځینو کره کتونکو دا ویل، چې ځینې شعرونه ډرامې داسې دي، چې هېڅ مقصد نه لري نو دارنګه نظمونه او ادب ښه کار نه دی او هسې بې ځایه خوارې ده، افلاتون په همدې وجه هم له خپل دربار څخه د شاعر مقام ورک کړ.

همدا رنګه د وخت په تېرېدو سره داسې ادب منځ ته راغی چې شوندې، زلفې وستایل شوې، د دارنګه شعرونو په اړه کرکتونکو پرېکړه وکړه.

چې ادب د اخلاقو په معیار تلو، یعنې د هر ادبي اثر د پای ټکی به اخلاق وي او په همدې ارزښتونو به کتل کېږي. که چېرته د اخلاقو تله یې درنه نه وي نو د داسې ادب لوستل او رواجول په کار نه دي. اوس دوه پوښتنې رامنځته کېږي:

۱. په یوه ټولنه کې د اخلاقو معیار څه دی؟
۲. د اخلاقو معیار څنګه په کار دی ؟

د لومړۍ پوښتنې په اړه باید و وایو: په ټولنه کې اخلاقو معیار ټاکل ګران کار دی. په یوه ټولنه کې د اخلاقو معیار یوه ډول اوپه بله ټولنه کې بل شان دی. دا چې په ګڼو ټولنو کې د اخلاقو معیار یوه شان نه دی نو ویلی شو، چې اشرف مفتون، غني خان، د فارسي حافظ، سعدي، که زموږ د ټولنیز اخلاقي معیار له مخې وڅېړل شي نو ډېری شعرونه به یې د اخلاقو په تله پوره ونه خېږي، مګر کې دی شي په ځینو ټولنو کې نوموړو شاعرانو اشعار د اوچتې پوړۍ شاعري وي.
پایله دا شوه، چې د یوه ادبي اثر د کره والي معیار دې اخلاق ونه ګڼل شي.

د دوېیمې پوښتنې په اړه باید و وایو، چې د اخلاقو معیار هم ګران کار دی. د ادب ډېری داسې برخې شته چې بې له تفریح یې بل مقصد نه وي، لکه:.

- تر نیمو شپو راتګ دې ځار شم
لکه ګیدړ چې کوړکې چرګې ته ورځینه،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمید مومند بیا یوازې تفریح او د ذوقونو روزل یې موخه کوي. د پورتنۍ یو خبرو نتیجه دا شوه چې اخلاقي کره کتنه کې د کره کتنې هغه ټولې خوا وې په پام کې نه نیول کېږي نو ځکه یوازې ځان د یوه ادبي اثر د کره والي له پاره پوره نه ګڼو، بلکې د دې ترڅنګ نور معیارونه هم په پام کې نیول په کار دي او هم ډېری کتابونه موږ د کره کتنې په اخلاقي نظرې نه شو کتلی.

ډاکټر زرینکوب لیکي:- ځینو اخلاقي ارزښتونه د کره کتنې اصل ګڼل دي، هر هغه شعر او خبره، چې حکمت او اخلاقو ته نږدې او ورسره برابره وي، خوښوي اوستایي یې او هره هغه څه، چې اخلاقو او حکمت خلاف وي، غندي او ردوي یې، په دې وجهې له ډېرې پخوا زمانې څخه اخلاق د کره کتنې له ارزښتونو څخه ګڼل شوي دي.،، (محمد ابراهیم، ۱۳۹۳ لیږدی، ۱۲۷ چوپړی).

پر ټولنه او ژبه د خرابې شاعری اغېز: شاعر د خپلې ټولنې له پاره د رښتینولۍ نښه ده او سپېڅلتیا سمبول دی. که شاعر په خپلو شعرونو کې دروغو او مبالغې دود جاري کوي، چې په دې سره بیا قوم او ولس خوار او ذلیل شي، ترټولو لا دا چې د شاعر شعر په واسطه داسې ترکیبونه او جملې مخې ته راشي، چې محض تر فحشا پرته بله موخه نه لري، چې په دې سره ټولنه بدو نه بدې خوا ته مخه کړي، داسې شاعري بیا د ولس له پاره پرته له دې، چې زهر وبلل شي او په لوی لاس د خپل ولس وژل شي نور څه نه ترې جوړېږي. په ناوړه چې وي هغه ټولنې ته مسول دي او ځوان نسل بدبختۍ یو پره هم پرداسې شاعرانو وي چې فحشا، دروغو او مبالغې پرته په خپل شعر کې بل څه ته ځای نه ورکوي، او پام کوي چې شهرت او پیسو ګټلو همدا لاره ده، دوی په خطا دي، هغه چې د ټولنپالنې، هېوادپالنې او ژبپالنې په روحیه څه کوي له دوی ډېر غوره دي. ( د محمد ابراهیم، ۱۳۹۳ ل، ۱٦۷ تر ۱۸۵ چوپړو پوري وګورئ)

درنو لوستونکو او د لغمان ولایت ډېرو ښاغلو پر دین مینو ولسونو، علمای کرامو، مشرانو، ځوانانو، کشرانو، خویندو او ورونو، هر چېرې چې یاست سلامونه او نیکي پېرزوینې مې ومنئ. ډېر د خوښۍ او خوشحالۍ ځای دی چې لغمان ولایت ته الله عظیم په خپل قدرت او عظمت یوه طبیعي ښکلا ور په برښه کړې ده. ښه هوا، زیاتې اوبه، د پښتو ژبې لرغونی لیک لوست، پښتو ژبې کښلې وګړنې زېرمه خلور نور د هغه نعمتونه دي چې الله عظیم د دې ولایت په هستوګنو پېرزو کړي دي، د طبیعي ښکلا تر څنګ د دې ولایت خلک هم په فطري توګه سوله خوښونکي دي، او جنګ او جګړې پر دوی تمبل شوي دي. رښت ته ولاړ شوي دي، غوره مشرۍ او غوره پرېکړې یې تل یې لورې په لوړ حس د ټاټوبي پالنې، نوې پېر کې د نویو سپېڅلو اندونو سره چې تل پر دې دنیا او پر هغې دنیا د بریالیتوب او بریا جوګه کېږي پرې کړ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٢ .١١ بېلګې يې

### ١.٢.١١ په لیکونو کې د لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو کارول

تر ټولو ښه لیک د افغانستان د الله بخښلو درنو درانه لیکونه چې دوستۍ او ملګرۍ یادونه تازه ساتي، هغه د وګړو تر منځ د لیکونو لېږد رالېږد دی، لړۍ ته يې په سم تیک کړی دی همدا دی، چې یوه لنډۍ يې په کې په ښه هنر کښلې ده.

,, د موسی. شفیق! له خوا راغلی ادبي لیک:
زما مشر او مهربان ورور ربښتین صیبه!
ستاسې ښکلی او رنګین لیک د وخته رارسیدلی و، ستاسې د خواږه لیک د خوږو جملو موسیقي مې هم په غوږو کې ده، ستاسې د فکر مارغه چې دلته راغی، ما په ډېرو ښکلو او ښایسته ځایونو وګرځاوه، هلته د صحرا په لمن کې د څه کم څلور زره کالو زوړ اهرام مې ورته وښود.

دا اهرام لکه د کابل د ښار د غرونو د دیواله غوندې د انسان په زرګونو سرونو اباد شوی دی، د دې ابدی قبر شاته د انسانیت یوه درد ناکه کیسه پرته ده.
داد خرافاتو ځلې چې د فراغنه و او کاهنانو د خرافې ذوق د مړولو دپاره د خوارانو او غریبانو په غوښو، وینو پورته شوی دی، د بنیادم په تاریخ کې د غلامۍ او کړ (ظلم) مناره ده. په هر حال که سړی لږ څه خپل حساسیت سوړ کړي، د عقل ځای عاطفې ته پرېږدي او د تاریخ په فلسفې په سې و نه ګرځي نو د سپوږمۍ په شپو کې د اهرام د سطحې نه د قاهرې ننداره بالکل د خیال او خوبونو په دریاب سړی لاهو کوي.

تېره ورځ د پسرلیا اختر و، د نیل د غاړې په باغونو او چمنونو کې رنګا رنګ ګلونو چې وهلې، د طبعت د دې ښایسته او پیمخو منظرو لیدل د فوټو اخیستو شوق پیداکوي،
دلته ستا دا لنډۍ را په یاد شوه؛
حاجت د بلې کمرې نه شته؛ سترګې کمره کړه په کې واخله تصویرونه
پوهاند صدیق الله. ربښتین ته
محمد موسی. شفیق! قاهره مصر ١٣٣١هـ ش ،،
(صدیق الله ١٣٦١ ل ل کال، ٣۶ چوپړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲.۲.۱۱ نه ماتېدونکې پښېله (رښتې پښېله، حکمي قافیه)

هغه پښېله(قافیه) ده چې د لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرى په پیلنۍ او پاینۍ مسرې په پاینۍ څپه باندې راځي، په لږه کچه په نهمه څپه کې او په ډېره کچه په دوېیشتمه څپه نه ماتیدونکې پښېله بلل کېږي، چې د نوموړو پېیلو ترنګتوک خوندي کوي.
له لرغوني پېر څخه پښتنو پیلنو په خپلو پېیلو کې ترې ګټنې اخستې دي، چې د هر وی په پای کې به د هې ,, ه ،، ابېځې لړ ,, ردیف ،، په بنه اړین شتون و لري.
,, دا ډول قافیه عموماً په لنډۍ یو کې مراعات کېږي، چې د هرې لنډۍ په پای کې باید د ( ه ، مه او نه ) اهنګ راشي. لکه :

▲ زما د لـرې وطن یاره
رب دې سپوږمۍ کړه چې دې و کړم دیدنونه

▲ د سحر باده رنګ دې ورک شه
زه د جانان په نم لمده وچه دې کړمه،،

( محمد ابراهیم، ۱۳۹۰ ل ل کال، ۲۸ چوپړی)

## ۳.۲.۱۱ درسي کتابونو ( TEXT لیکي) کې د لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری کارول

د TEXT ویبکی، وی یا لغات له TEXTURE څخه اخیستل شوی چې د اوبدل شوي ( اوبدل شوی) په مانا سره دی. د TEXT اصطیلاح د هغه کتابونو له پاره په کار وړل کېږي، چې په هغه کې ټولې کوشنۍ ( جزئې ) ټکي په کې د نظر لاندې نیولې وي، او د بېلا بېلو معلوماتو د رسولو او څرګندولو له پاره ترې ګټه پورته کېږي.

پورتنې بنه کښلو څخه یوازې د سید صدیق ,, فکري ،، ځنې ځینې لنډۍ، ټپې او مصرى کښنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, افسوس افسوس خپله وطنه

څه نازولی دې په غېږ کې لویدیمه

سوړ اسویلی مې خولې ته راشي

چې را په یاد شي د وطن ښایسته ګلونه

چې یوه خوا باد بل خوا باران وي

چتې بیبان وي ځوک به کومې خوا ته ځینه

د هجر اور دی چې بلېږي

دودونه یې خېږي د زړه غوښې مې سېځینه

نه مې ځوک خپل او نه خپلوان شته

په نظر هرې خوا اغیار راته راځینه

په خوب کې ګرځم چېرهار کې

کله چې ویښ شم په کوډله کې پروت یمه

خوب او خندا په بې غمي شي

د غمزده زړونو به څه خوبونه وینه

سر مې پنجابه پوري لاړو

الله د خیر کړي چې به نور کومه خوا ځمه ،،

( خان سلام، ۱۳۸۷ لیږدی، ۵۵ او ۵۶ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤.٢.١١ د پښتو ادبي لیکوالو د لیکوالو او یا د هغوی د کښلو، پېیړن ( پېیلې) اوستاد له پاره له لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری څخه په خپله لیکنې او ننتوزې پای کې ګټنې اخلي.

اې ,, الف ،،

لکه: فضل حق شیدا. چې په ١٩٧٥ زېږدي کې د سیدجمال الدین افغاني حالات او خیالات، ترجمه او تالیف کړي و، د خپلې روغه ییز سرلیک پای کې د سیدجمال الدین افغاني ستای له پاره لاندېنۍ لنډۍ بوږولې وه، چې کښلی یې د یونیور سټي بوک ایجنسي، پېښور ښار کې، درېیم ځل له چاپ څخه سلامت تېر کړي دي، چې پر له په ګڼه یې :. ٧٧٥۶.

بې ,, ب ،،

لکه: رفیع الله ستانکزي چې د لیکوال د لیکي ځلېر کې د ددو دود، د خپلې روغه ییز سرلیک پای کې آرام خو له شوره ډک انسان، ستای له پاره لاندېنۍ لنډۍ بوږولې وه، چې په نوموړي کښلي کې د مومند خپرندویه ټولنې کې د لیکوال له لورې له چاپ څخه سلامت په ١٣٨٨ لېږدي کې تېر کړي دي.

پې ,, پ ،،

لکه: ببرک میاخیل په ١٣٨٩ لېږدي چې د لیکوال پوهاند ډاکتر زیور الدین زیور ټولنیز شخصیت د نظر په پای کې د خپلې روغه ییز سرلیک پای کې نوموړي د ستای له پاره لاندېنۍ لنډۍ بوږولې وه.

▲ ستا د ښایست ګلونه ډېر دي
ځولی مې تنګه زه به کوم، کوم ټولومه

( فضل حق شیدا، ١٩٧٥ زېږدی، ۵۴ چوپړی)، (صفی الله، ١٣٨٨ لېږدی، ٣٨ چوپړی )، ,, ببرک میاخیل، ١٣٨٩ لېږدی، پوهاند ډاکتر زیور الدین زیور ټولنیز شخصیت د نظر په پای کې ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټې ,, ت ،،**

لکه: فضل حق شيدا. چې په ۱۹۷۵ زېږدي کې د سيدجمال الدين افغاني حالات او خيالات، ترجمه او تاليف کړي و، د سيدجمال الدين افغاني ستاى له پاره ورم له پاره لاندېنۍ مصری بورږولې وه، چې کښلی يې د يونيور سټي بوک ايجنسي، پېښور ښار کې، درېيم ځل له چاپ څخه سلامت تېر کړي دي، چې پر له په ګڼه يې :. ۷۷۵۶.

,, ته دې ملا وتړه لړ پاسه!

ګوره چې خدای در لره څه کوي مينه ،،

( فضل حق شيدا، ۱۹۷۵ زېږدی، ۱۹۴ چوپړی)

**ټې ,, ټ ،،**

لکه: سيد هيبت الله حسيني. چې په ۱۳۸۹ زېږدی کې د پوهنمل اوستاد ببرک مياخيل په اړه کښلي دي، او د نوموړي يادونه يې کټ مټ راخستې ,, نه يوازې زمونږ پښتو ديواني شعر د حالاتو له ناخوالو خپله لمن ډکه بلکې زمونږ ولسي شاعري په ځانګړې ډول لنډۍ هم له دې خبرو ډکه ده زه به د بېلګې په ډول دوې لنډۍ را واخلم:

بيا به د چا په کــور غوغا وي

په هوا ګرځي د روسانو جهازونه

کارمله غبرګ بچــي دې مړه شه

پيلوټ دې ومره چې کړه بمباروينه،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٥.٢.١١ متل لنډۍ، ټپې، ټيکې او مصرۍ ( Saying, Simile, Parable, Example, Model or Idiom Landay, Tapa, Tikay and Masray ):

د وی يا ويکيي له متل، مقوله، کره وينا مثال او نمونه يي لنډۍ، ټپې، ټيکې او مصرۍ ته وايې.

او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټيکې او مصرۍ دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونېږي: چې پېيلن يا پېيلنه په لنډۍ، ټپې، ټيکې او مصرۍ کې متل، مقوله، کره وينا مثال؛ تشبيه (ورته والی)؛ هغه لنډه کيسه چې د اخلاقو درس ورکوي؛ عبرت؛ نمونه، موډل، کاپي، سر مشق، ورته ( مشابه ) ، جوربښت، رغښت، هغه کره وينا مثال چې پېيلن يا پېيلنه يې له مخې پېيله کاږې، هغه سړی يا ښځه چې انځورګر يې له مخې څېره کاږي، اصطلاح، لهجه او د افادې خاص ډول وندي کوي.
چې لاندېنی لومړی يې ټپه ده چې د متل په بڼه ترې په ټولنه کې ګټنه اخلې او دوېيمه يې لنډۍ ده چې د متل په بڼه ترې په ټولنه کې ګټنه اخلې. لکه:.

- په څو ځله مې درته ويلې
چې له اشنا دښمنه ځان ساته مينه

- په پټ کې تور مصلی ښه دی
بې پته يار چې شهزاده وي ورک دي شينه

## ٦.٢.١١ ويرنه يا مرثيه، ساندې لنډۍ، ټپې، ټيکې او مصرۍ ( Elegy or Wailings Landay, Tapa, Tikay and Masray ):

لغوي معنا يې پر مړي ستاينې او ژړېدنې دي او په ادبي اصطلاح هغه لنډۍ، ټپې، ټيکې او مصرۍ دي چې پېيلنو (شاعرانو) په کې د مړي د نيکيو او ښېګڼو ستاينې کړې وي او هغه پر مړينه يې د خواشينی او خفګان ځرګندونه کړې وي.

- ځرګند د خاورو لايق نه دی
چټک دې جوړ کړي بالکی په سينګارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ که نور دي هرڅه میراتېږي
میرات دې مه شه دا د غاړې تاویزونه

▲ بې وروره خور په کوڅه راغله
ناره یې و کړه شپه به چا کړه کومه

,, … . ساندې پسې کوي او په دې مورد کې یوه پسې وایې:-

▲ چې د چا خپله ابی نه وي
د کوټ پنا ژړا به خوک په سې کوینه،،

( ګل باچا الفت، پښتني دودونه، د پښتو ټولنې ادبیاتو د څانګې له خوا، د چاپ کال تله ۱۳۳۶ لېږدی، چاپ شمېر ۱۵۰۰، پر له پسې نمبر ۱۳۰، انتساب: د اعلحضرت معظم المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه حضور ته د دوی د تولد د ۴۴ کال د جشن په مناسبت. د پښتو ټولنې له لوري. د عامه کتابتون کې د موندلو ګڼه ۳۹۰ پ ۲۵ پ ،او ۲ پ ۴۷۱ پ. (ګل باچا الفت، ۱۳۳۶ لېږدی، ۲۰ چوپړی).

## ۷.۲.۱۱ لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ژباړه نورو ژبو ته

لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ژباړه ( ترجمه یا Translation ) د وی له پامه د وی، غونډ، غونډلې، وینا، کښلي او لیکي سراسر لېږد ته وایي.
او په اصطیلاح کې د پښتو ژبې (زېږمې ژبې، اصلي ژبې یا سرچینې ژبې) څخه د هدف وړ ژبې ته د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ متن، کښنې، بوږونې د مانا کټ مټ لېږدولو او رسولو ته وایي.
په رښت کې که د پښتو ژبې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ بلې هرې ژبې ته واړول شي، نو هغه خوږوالي چې په پښتو ژبه کې شتون لري او لوړ حس د اخستنې، تاثېر، خوږلنتوب، څپېزه خجیز ټولوالي رغښت او ترنګتوک په نورو ژبو کې په ورته بڼه هېڅ شتون نه لري. بېلګې یې په لاندېنۍ دوې لنډۍ، یوه ټپه او یوې مصرۍ کې وینئ:.

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ باز مې کارغانو سره لاړه
مرداري غوښې بې خوراک شي مړ به شینه

یوو افغاني لنډۍ شعر ترجمه پشه يي زبانه پلی:.

مويي بازم کایکه پلی شاړین
موردار پي پی خوراک بی مړتيې.

ترجمه این شعر لندی ,, لنډۍ ،، پشتو در زبان دری ( تاجکی، فارسی):.

شاهین من با کلاغ ها رفت
گوشت های کثیف را می خورد و بعد از آن می میرد.

اس پشتو لنڈے ,, لنډۍ ،، نظم کا اردو زبان میں ترجمه:.

میرا بازو کووں کے ساتھ چلا گیا۔
وہ گندا گوشت کھائے گا اور اس کے بعد مر جائے گا۔

ترجمة قصيدة الباشتو اللندى ,, لنډۍ ،، با إلى اللغة العربية.:.

ذهب صقرى مع الغربان
يأكل اللحم القذر ويموت بعدها.

Это перевод стихотворения пушту лoндaе на русский язык:.

Мой ястреб пошел с воронами
он будет есть Грязное мясо и будет мертв после этого.

This Pashto Landay poem Translation in English Language:.

(c) ketabton.com: The Digital Library



My hawk went with crows
it shall be eat the Drity meats  in will dead after it.

Bu pushtu Landay she’rining o‘zbek tilidagi tarjimasi:.

Mening lochin qarg'alar bilan ketdi
Undan keyin o'lik vasiyatdagi iflos go'shtlarni yeyish kerak.

Dieses Pashto Landay Gedicht Übersetzung in deutscher Sprache:.

Mein Falke ging mit Krähen
Es soll das schmutzige Fleisch sein, das danach tot ist.

Ce poème Pashto Landay Traduction en langue française:.

Mon faucon est allé avec des corbeaux
il sera mangé les viandes sales dans la volonté morte après elle.

▲ له دېواله مې سر اوچت که
وېنم ښارو سره کارغه لوبې کوینه

یوو افغاني لنډۍ شعر ترجمه پشه يي زبانه پلی:.

دیواله دی کاپالم وډی کریمه
شارو پلی کایکه اخلتیو

ترجمه این شعر لندی ,, لنډۍ ،، پشتو در زبان دری ( تاجکی، فارسی):.

اگر سرم را از روی دیوار بلند کنم
پرنده اصلی را ببینید که در حال بازی با کلاغ است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اس پشتو لنڈے ,, لنډی ،، نظم کا اردو زبان میں ترجمه:.

اگر میں دیوار سے سر اٹھاؤں
مینا پرندے کو کوے کے ساتھ کھیلتے ہوئے دیکھیں۔

ترجمة قصيدة الباشتو اللندى ,, لنډی ،، إلى اللغة العربية.:.

إذا رفعت رأسي عن الحائط
رؤية الطائر الرئيسي يلعب اللعبة مع الغراب.

Это перевод стихотворения пушту лoндaе на русский язык:.

Если я подниму голову со стены
увидьте птицу майна, играющую в игру с вороной.

This Pashto Tapa poem Translation in English Language:.

If I lift my head off the wall
sight the maina bird playing the game with crow.

Bu pushtu tapa she'rining oʻzbek tilidagi tarjimasi:.

Boshimni devordan ko'tarsam
qarg'a bilan o'ynayotgan maina qushini ko'ring.

Dieses Pashto Tapa Gedicht Übersetzung in deutscher Sprache:.

Wenn ich meinen Kopf von der Wand hebe
Sehen Sie den Maina-Vogel, der das Spiel mit der Krähe spielt.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ce poème Pashto Tapa Traduction en langue française:.

Si je lève la tête du mur

voir l'oiseau maina jouer au jeu avec le corbeau.

▲ جانانه سمه امریکه یې

هم ملامت یې هم زارۍ درته کومه

یوو افغاني ټپه شعر ترجمه پشه یي زبانه پلی:.

انړوالم سم امریکاګوني

هم ملامت یي او هم زاري به مو کاتوم

ترجمه این شعر تپه ,, ټپه ،، پشتو در زبان دری ( تاجکی، فارسی):.

عزیزم شما هم مثل آمریکا هستید

من شما را سرزنش می کنم و از شما نیز التماس می کنم.

اس پشتو ٹپے نظم کا اردو زبان میں ترجمہ:.

پیارے تم امریکه جیسی ہو۔

میں آپ کو ملامت کرتا ہوں اور میں آپ سے بھی مانگتا ہوں۔

ترجمة قصيدة الباشتو تابا إلى اللغة العربية.:.

حبيبي أنت مثل أمريكا

ألومك وأتوسل إليك أيضًا.

Это перевод стихотворения пушту Тапа на русский язык:.

Любимая, ты такая же, как Америка

(c) ketabton.com: The Digital Library



Я виню тебя и умоляю тебя также и от тебя.

This Pashto Tapa poem Translation in English Language.

Beloved  you are same as America

I blame you and I  beg you also from you.

Bu pushtu tapa she'rining oʻzbek tilidagi tarjimasi:.

Boshimni devordan ko'tarsam

qarg'a bilan o'ynayotgan maina qushini ko'ring.

Dieses Pashto Tapa Gedicht Übersetzung in deutscher Sprache:.

Wenn ich meinen Kopf von der Wand hebe

Sehen Sie den Maina-Vogel, der das Spiel mit der Krähe spielt.

Ce poème Pashto Tapa Traduction en langue française:.

Si je lève la tête du mur

voir l'oiseau maina jouer au jeu avec le corbeau.

▲ پاس      په      کمره      ولاړې      ګلې

نصيب      د      چا      يې      اوبه      زه      در      خېږومه

يوو افغاني مصرۍ شعر ترجمه پشه يي زبانه پلی:.

کمر شرا ډکچي ګل لا يي

نصيب پی کويتي ورګه مو ډاکی توم

ترجمه اين شعر مصری ,, مصری ،، پشتو در زبان دری ( تاجکی، فارسی):.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای!؛ گل که بر دامنه کوه استاده ئی،
ابیاری شما بخش من میباشد، نمی دانم شما بخش که میشوید.

اس پشتو مصرے نظم کا اردو زبان میں ترجمہ:.

ٹیلے کے اوپر کھڑے پھول!
پانی تومیں دے ر ھا ھوں لیکن پتہ نہین تم کس کے قسمت میں ھو

ترجمة قصيدة الباشتو مصريه إلى اللغة العربية.:.

أوه ؟، زهرة التي تنمو على الجرف !،
ريك لي. ولكن لمن ستنتمي؟

Это перевод стихотворения пушту месрияа на русский язык:.

О?, Цветок, что ты растешь на Утесе!,
ваш полив принадлежит мне. Но кому бы вы принадлежали?

This Pashto Masray poem Translation in English Language:.

Oh?, Flower that you grow on the Cliff!,
your irrigating is belonging to me. But whom would you belong?

Bu pushtu Masray she’rining oʻzbek tilidagi tarjimasi:.

Oh?, Qoyada o'stirgan gul!,
Sizning sug'orishingiz menga tegishli. Lekin siz kimga tegishli bo'lardingiz?

Dieses Pashto Masray Gedicht Übersetzung in deutscher Sprache:.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Oh?, Blume, die du auf der Klippe züchtest!,

deine Bewässerung gehört mir. Aber zu wem würdest du gehören?

Ce poème Pashto Masray Traduction en langue française:.

Oh ?, Fleur que tu fais pousser sur la Falaise !,

ton irrigation m'appartient. Mais à qui appartiendriez-vous ?

,, په انګلېسي ژبه کې د ژباړې اړوند یوه اصطلاحي توپیر شته (چې هره ژبه یې نه لري) او هغه دا دی چې په انګلېسي ژبه کې لیکلې ژباړې ته د (Translating) او وګړني ژباړې یا د بېلابېلو ژبو د کاروونکو ترمنځ وګړني یا اشاروي اړیکو ته د (Interpreting) اصطلاح کارول کېږي. چې په دې ترتیب سره ژباړه (Translation) یوازې هغه پېر پیل کېږي. چې په یوه ژبه یوه شی ولیکل شي.،،
( نامیت بهاتیا، ۱۹۹۲ زېږدی، ۱ چوپړی)

,, یوه ژباړونکې او ژباړونکی تل له دې خطر سره مخامخ وي، چې په تېروتنه د زېږمې ژبې غونډلې، پښویه، یا کرېوهنه او غونډلې اوډون د بلې ژبې ته رمت ولېږد وي.
شونې ده دا ډول د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ژباړې ,,اوښتنې،، ځینې پېر د پښتو ژبې څخه داسې ګټورې ماناوې، او د پښتون پښت بډایه پښتو ژبې رښتې رښې نورو ژبو ته ولېږدوي، چې هغه پښتون پښت خپله زوکړه کړې ویکې وي، د کروندو، کرکېلې، شپنو، آس غلونې سیالیو، اوښانو، ژرندو، تورو او سپرو اسبابو له پاره ټاکلې، چې په نویو راتلونکي پېر له پاره په هرو اسبابو او توکو کې ترې ګټنې واخلي.
په ورته بڼه بلې ژبې کې کالک غونډ (Calques) او پورویونه (Loanwords) نورې ژبې لابډایه کوي.،،
(کریستېوپیر، ۱۹۸۳زېږدی، ۸۴ چوپړی)

,, د سپېڅلو (آسماني) کتابونو او متنونو د لومړنۍ یو ژباړونکو په ګډون، ټولو ژباړونکو د هغو ژبو په شکل نیونه کې مرسته کړې چې دوی ورته ژباړې کړې دي. (کریستېوپیر، ۱۹۸۳زېږدی، ۸۷ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, دا چې ژباړه یوه ستونزمن بهیر دی، نو د ۱۹۴۰ مې ز لسیزې راهیسې د ژباړې اتومات کولو یا د انساني ژباړونکي سره د میخانیکي مرستې له پاره تر یوه حده بېلابېلې بریالۍ هڅې شوې دي. په دې وروستۍ یو کې، د انټرنیټ منځته راتللو د ژباړې خدمتونو له پاره د نړۍ په کچه بازار غوړولی او د "ژبې ځایی کول یا لوکلایزېشن" یې اسانه کړي دي.،، (جان بینجامین، ۲۰۰۶ زېږدی، ۱۳۳ چوپړی)

,, په روښانه ټکو، د مېټافریز مفهوم ,, ټکي په ټکي ژباړه،، یوه نیمګړی مفهوم دی، ځکه چې ډېری پېر یوه ځانګړی غونډ په یوه ځانګړې ژبه کې له یوې څخه ډېرې مانا ګانې لري او له دې امله شونې ده چې د یوې غونډ مانا په یوه ځانګړې ژبه کې له یوې څخه په ډېرو غونډونو کې بیان شي. له دې سره سره، ,, میټافریز،، او ,, پارافرېز ،، ښایي د ژباړې د شونو تګلارو د کارولو په برخه کې د نا پېژندو ماناګانو په توګه کټور وي.

دا توپیر د انګلېسي ژبې شاعر او ژباړونکي جان ډرایډن (۱۶۳۱-۱۷۰۰ زېږدي کلونه) په کار واچاوه، جان ډرایډن ژباړه په هدف وړ ژبه کې د اصلي ژبې د کارول شویو عبارتونو د معادل او مترادف موندلو د غوراوي پر پېر د افادې او غونډله بندی د دغو دوو حالتونو د برابر جوړښت په توګه را وپېژندله.

کله چې (غونډ)... په رښیا هم ډېرې زره راښکونکې وي، نو د هغوی بدلول لیکوال ځوروي. خو هغه څه چې په یوه (ژبه) کې ښکلي وي، ډېری پېر ناسم یا نادوده او ځینې پېر بې مانا غونډ او عبارتونه لري؛ په بله وینا: دا به برابره نه وي چې یوه ژباړن د لیکوال د غونډ په کوښنۍ ټاکلي واټن کې ټاکلی کړل شي: همدومره بس ده چې ژباړن داسې عبارتونه و کاروي چې مانا او مفهوم ورخراب نه کړي.

خو ډرایډن د ,, تقلید یا ورته والي،، اړوند د عمل آزادی، لکه اقتباسي ژباړې پر خلاف خبرداری ورکړی دی او وایي: ,, کله چې یوه انځورګر ژوند کاپي کوي. د ځانګړنو او لویې بڼې یا څېرې د بدلون اجازه نه لري. ،،

د ژباړې د اصلي مانا لوی جوړښت - ورته موندل - له هماغه راهیسې مهم دی چې سیسرو او هوراس په روم ښار کې په لومړی قبل المیلاد پېړی کې وړاندیز کړی و او د ,, ټکي په ټکي،، (Verbum Pro Verb) ژباړې پر ضد یې ټینګ خبرداری ورکړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې پېر د تيوريکي پرمختګ سره، سره، د لرغونې زمانې راهيسې د ژباړې رښتنى کار ډېر لږ بدل شوى دى. د عيسى ع روح الله په لومړيو وختونو کې او د منځنيو پېړيو پر پېر د خورا سختې، ټکي په ټکي ژباړې او په بېلابېلو پېرو (په ځانګړي ډول له کلاسيک دورې وړاندې روم او په ۱۸مه پېړۍ) کې د مطابقت ورکوونکو (Adapters) څخه پرته، ژباړونکو زمينې او شرايطو ته په کتو په لويه توګه د امکان تر کچې د معادلونو ,, لغوي،، ، او د اړتيا په حالت کې د اصلي مانا او نورو مهمو ,, ارزښتونو،، د تأويل يا Periphrastic په لټه کې له احتياط څخه ډک نرمښت ښودلى دى. غوره ارزښتونه، لکه: د ټنګټکور (موسيقۍ) په ورته بڼه (همغږۍ)، يا په فلمونو کې د وينا د بياني حرکتونو سره، د سبک يا سټايل او د پيېلې خوږه بڼه ( د نظم منظومه) بڼه.

په لويه توګه ژباړونکو د مانايي يکړو (Sememes) د اصلي ترتيب او د اړتيا پر پېر- د غونډ د ترتيب د بيا رغولو له لارې، په خپله د زمينې او متن د ساتلو هڅه کړې ده، او رښتنى پښويي جوړښت يې بيا ځلي مانا او تفسير کړى دى؛ د بېلګې په توګه، له معلوم حالت (Active voice) څخه نامعلوم حالت (Passive voice) ته بدلول او برعکس. د ,,غونډ ټاکلى ترتيب لرونکو،، ژبو (لکه: انګلېسي، فرانسوي، جرمني) او ,, د غونډ آزاد ترتيب لرونکو،، ژبو (لکه: اربانی، يوناني، لاتيني، پولنډي، روسي) تر منځ پښويز توپيرونه په دې برخه کې هېڅ خنډ نه دي. د اصلي ژبې د متن ځانګړې نحوه (جملې-جوړښت) د هدف وړ ژبې د نحوي اړتياوو سره سم عيارېږي.

کله چې د هدف وړ په ژبه کې د اصلي ژبې اصطلاحګانې نه پيدا کېږي، نو ژباړونکي دغه اصطلاحګانې پور کوي او په دې توګه د هدف وړ ژبه لابډايه کوي. د ژبو تر منځ په ستره کچه د کالکونو او پوروېيونو د تبادلې او له نورو ژبو څخه د رالېږد په برکت، په عصري اروپايي ژبو کې ډېر لږ داسې ماناوې شته چې ,, نه ژباړل کېدونکي يا Untranslatable ،، دي، خو ستره ستونزه بيا له دوديز سره د تړليو اصطلاحګانو را ژباړل دي چې د هدف وړ په ژبه کې معادل نه لري. د بشپړ پوهېدو په پار، دا ډول مسئايل بايد توضيح او تفسير شي.

په رښت کې، څومره چې د دوو ژبو تر منځ يا د دوو ژبو او دريېمې ژبې ترمنځ اړيکه او راکړه ورکړه ډېره وي، همغومره د دوى تر منځ په ژباړه کې د کارېدونکي مېټافريز او پارافريز نسبت ډېر وي. خو د غونډ د ايکولوژيکي مناسب ځاى د بدلون له امله، ځينې پېر دوديزه آرپوهه (Etymology) په يوه او يا بله ژبه کې د شته مانا له پاره د يوه لارښود په توګه غلتوونکې وي. د بېلګې په توګه: د پښتو ژبې رښتى ( واقعي، رښتينى شى، رښتينى ( عجالتاً )) غونډ (کليمه) بايد، د انګلېسي ژبې Actual ,, حقيقي،، ، د فرانسوي ژبې همآرې ( Actuel ,, روان،، ، ,, اوس پېر،،)، د پولنډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبې له ( Aktualny ,, روان،، ، ,, اوس پېر،، ، ,, مسلې،، ، ,, روان پېر،، ، ,, شونې،،)، د سویډني ژبې له ( ,, مسلې،، ، ,, په اوس پېر کې غوره ،،)، د روسی ژبې له ( актуальный ,, بېړني،، ، ,, مسلې،،) او یا د هالنډی ژبې له ( Actueel,, روان پېر،،) سره ګډوډه او اشتباه نه شي. ،، (کریستوپیر، ۱۹۸۳زېږدی، ۸۳ - ۸۵ چوپړی)

د پښتو ژباړې کره بنې له پاره نوې او مېړنه پښتو لمن پراخوالی همدومره جوت دی، د پښتو ژبې ژباړه دا اړتیا اړینه ده چې باندنی تن لومړی پښتو یاده کړي، د پښتو کره لیک و کښلی شي، پښتو ژبه و لوستلی شي، پښتو ابېځې کره له یادو زده کړي، پښتونواله و کړي او په ځان کې پښتو پیدا کړي.

په پورتنۍ یو یادونو یوه پخوانی پوره تن فرانسوی ژباړن څېړونکی ډاکټر جیمز ډار میستیر ( James Darmesteter) و، په ۲۸ کلنی کې یې د ختیځ ژبو او کلتور برخه کې خپله دوکتورا په ۱۸۷۷ زېږدي کې فرانسه کې اخستې وه او د پښتو ژبې ژباړن و؛ چې د امیر عبدالرحمن خان د واکمنی په پېر یې په پېښور کې د خپل هېواد د ځانګړو خدمتونو کړنې پر مخ وړلې د اېنګلېستان په مرسته یې د ابیټ اباد لښ بیس څخه د پښتنو د لیکې شاته د پښتنو د کچې مالومولو، حجرې ( منځې) او دېرې کې د کراړې مجلس او د هره شپه ګردی (حلقې)، د لېږد را لېږد خبرو، اترو، پېیلو چې جګړې ته د هسونې جوګه کېږي لاسته راوړلو دنده په غاړه درلودله. د دندې په پایله کې یې یوه کښلې (لیکی یا کتاب) و کښله د شانټز پوپولیر دېز افغانس (Chants populaires des Afghans) ,, د افغانانو مشهورې سندرې،، چې یوه سرلیک یې د پښتونخوا د شعر هار او بهار په نوم یاد کړی دی او د پښتونخوا لیکوال یې د پښتونخوا شعر هار او بهار بولي خو په رښت کې د کښلې نوم په فرانسوي دی چې پښتو ژباړه یې ,, د افغانانو مشهورې سندرې،، دي کښلی دی.

په نوموړې کښلې کې دېری افغاني وګړنې پېیلي شتون لري، نومړي د پښتو وګړنې بېلابېلې پېیلي (شېرونه، اشلوک، پېران یا شعرونه) له پښتو ژبې څخه فرانسوي ژبې ته و ژباړل، تر دېره پورې یې ټولو هېوادونو ته چې په کې فرانسوي ژبه دود دی د افغانانو کره وړه، پښتونواله، پښتونولې، دودونه، کلتور، ژبه، پېیلې، ویناوې، لیکونه، خبرې لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصرۍ، متلونه و ژباړل او سپینې ته را و باستل.

ببل ژبو ته یې په فرانسوي ژبه د پښتو ژبې ادبي برخې دېره برخه په پوخ کې کړله چې روان پېر کې فرانسوایان هم په امریکا، مکسیکو، کاناډا، اېګلېستان، جرمني او نور هېوادونه چې فرانسوي ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایي، ځینې فرانسویان په پښتو ژبه خبرې کوي، دود او پښتونواله یې پالي او په کې څېړنې کوي چې تر ډېره د جیمز ډار میستېر پاتیشونی کوښښ پایله ده.

یوازې په دې ټولګه کې یې ۴۶ دانې لنډۍ، ۳۲ دانې ټپې، ۱ دانې ټیکۍ او ۲۸ دانې مصرۍ شتون لري، چې ټولې سره ګډې (۴۶+۳۲+۱+۲۸=۱۰۷) کېږي. د په ۱۴، ۱۰۳، ۱۰۴ او ۱۱۲ شمېرلیک کې په دې ګڼه (٤+۱۱+٤+۸۸=۱۰۷) تر مصرۍ سرلیک لاندې راوړې دي.

▲ ,, د خدای رحمت په باباجي شه
چې فرنګی په کلکته و لګونه،،

( جیمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۳۰چوپړی)

▲ ,, د صحبت خان دومره پکړی وه
چې د پلی د جینو جوړ شو رومالونه،،

( جیمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۱۹۶چوپړی)

▲ ,, ورشئ فرنګي ته هسې وایئ
په باغوانانو خانان چا وژلي دینه،،

( جیمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۱۹۶چوپړی)

" Allez chez les Firangis et dites-leur: Qui jamais a pris la vie d'un Khân pour celle de quelques paysans? " ( جیمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۱۰چوپړی)

▲ ,, د ښمن ته خانده هوسېږه
دوست ته په پټه و ژاړه چې ډوب شومه،،

( جیمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۱۳چوپړی)

" Ris devant ton ennemi et fais la vie; pleure en secret devant l'ami; je suis plongé dans la douleur." ( جیمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۲۹چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library


▲ ,, یوه مې هغه سړی دښمن دی
چې دی به پاو وي څان به سېر حسابوينه،،

( جيمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۱۳ چوپړی)

“ Cet homme-là est mon ennemi, qui n'étant qu'un pão se compte un ser”
( جيمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۲۹ چوپړی)

▲ ,, یوه خو مې دا نصیحت واوره
چې له پخلا دښمنه څان ساته مینه،،

( جيمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۱۳ چوپړی)

“ Écoute de moi ce conseil : garde-toi bien de l'ennemi récon-cilié, mon ami ”
( جيمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۲۹ چوپړی)

▲ ,, زما به خنګه رنګ تازه شي
چې اندېښني مې اغوستن خوراک غمونه،،

( جيمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۱۳ چوپړی)

“ Comment mon teint serait-il frais? les soucis sont mon réte-ment et le chagrin ma nourriture. ” ( جيمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۳۰ چوپړی)

▲ ,, د بېلتانه په مدرسه کې
واړه او لوی د جدايي سبک وايينه،،

( جيمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۱۴ چوپړی)، (حبيب الله، ۱۳۵۶ لېږدی،چوپړی ۲۱۴ چوپړی )

“ A l'école de la séparation, petits et grands répètent la leçon de l'isolement.”
( جيمز، ۱۸۸۸ زېږدی، ۲۳۰ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸ .۲.۱۱ نيمکی ( پام ، سروکه يا سروکی )

د دې له پاره زما څېړنه دا سپينې ته را اوباسي چې نيمکی لنډۍ، نيمکی ټپه، نيمکی ټيکی او نيمکی مصرۍ ( پام لنډۍ، پام ټپه، پام ټيکی او پام مصرۍ يا سروکه لنډۍ، سروکه ټپه، سروکه ټيکی او سروکه مصرۍ)، چې له څو سره لنډۍ، څو سره ټپې، څو سره (مخه) ټيکی او څو سره يا مخه مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لري. لکه:

نيمکی د لنډۍ، ټپې، ټيکی او مصرۍ له نيمې برخې څخه رغښت موندلی دی، يا به له پيلنی مسرې څخه پنځې شوې وي، يا به د پيلنی مسرې له دوېوو غبرګغونډلو څخه له پيلنی غبرګ غونډلې او يا يې له دوېيمې غبرګغونډلې څخه شوې وي، يا به د پيلنی بشپړې مسرې څخه شوې وي، ځينې وخت به همدا دوې وارې سر باري يا بېخباري او منځباري شوې وي، او يا به همدا د دوېوو ببلا ببلو مسرو په ورته مېچه شوې وي.

او يا به له پاينی مسرې څخه پنځې شوې وي، يا به د پاينی مسرې له دوېوو غبرګغونډلو څخه له پيلنی غبرګ غونډلې او يا يې له دوېيمې غبرګغونډلې څخه شوې وي، يا به د پاينی بشپړې مسرې څخه شوې وي، ځينې وخت به همدا دوې وارې سر باري يا بېخباري او منځباري شوې وي، او يا به همدا د دوېوو ببلا ببلو مسرو په ورته مېچه شوې وي، زما نظر يه داسې ده او همداسې کېږي.

په هغه وخت کې ورته پام کېږي چې د لنډۍ، ټپې، ټيکی او مصرۍ له بشپړ حالت څخه بېلوالی پيدا کوي، دا چې وګړنې پيېلې تل وګړي پېژني او روغ پېژن يې په ذهن کې شتون لري، هر کله چې له پېژندلې حالت څخه و وځي لکه دوې مسرې، لومړۍ يې ۹ او دوېيمه يې ۱۳ څخه پرته له غبرګغږونو او پارنويکو چې کله د لنډۍ، ټپې، ټيکی او مصرۍ په پيل ځينې وخت په منځ او ډېری وخت په پايل کې راځي، له دوی پرته له ځان څخه خرګندونه کوي؛ د پام لاندې راځي او پام باندې بلل کېږي، د وګړو ورته پام (Attention, Care, Heed, Watch ) وي، مور پام ته پام کوو، پام ته مو پام وي او پام پرې کوو او په پام يې پېژنو.

د دې له پاره دا يوه رښتين رښت دی چې غبرګغږونه او پارونويکې چې د لنډۍ، ټپې، ټيکی او مصرۍ سره ځينې وخت په ځينې مسرو کې راځي او ځينې وخت په ببلا ببلو کې راځي او ځينې وخت د هرې يوې سره يې سرباري کېږي يا پر له په سې له ټولو سره راځي چې ځينې يوه څپېزه، ځينې يې دوې څپېزه او ځينې يې درې څپېزه او ځينې يې څلور څپېزه وی (ويکي يا لغات)، غوند، غونډله، نوم او ستاين وي، لکه:- يه کربانه! چې څلور څپېزه غونډله ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا هو! یوه څپېزه غونډله ده او یا وی! (پارنویکی) یوه څپه لري چې کله ځای ځای او کله پر له په سې د هرې مسرې ورانديې ( پیل، اول، سر) کې، منځ کې او یا په پایل ( اخیر) کې راځي هغو ته بیا هم لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری وایو، چې له دغو څخه پرته نورې غونډلې او مسرې چې له لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری سره یوه ځای راځي، سرباري کېږي، بېخباري کېږي او پر له په سې د هرې یوې راځي ورته پام وایو.

د دې له پاره یا به یې د لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری وېشتلو، اچولو، وهلو او ویلو تسلسل کې خنډ، دمه، ودرېدوکه، بله لاره او بل لوری ته شوی وي. لکه په لرغونو وختونو کې به یې چې ځینې پښت لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری په اواز کې ویلې چې یوه درجن یا دولس دانې به پوره شوې، بیا به یې یوه بله لنډه پېیله وه یا کوم خبره، وینا او یا د پښتو په لرغوني پېیل مېچه څپېزه خجېزه ټولواله ( چې له څلورګونو څپو څخه به یې یا په هر څلور څپېز کې اوله څپه باندې زورنه وي، یا په هر څلور څپېز کې دوېیمې څپه باندې زورنه وي، یا په هر څلور څپېز کې درېیمې څپه باندې زورنه وي، یا په هر څلور څپېز کې څلورمې څپه باندې زورنه وي) په سته یوه پېیله به یې ویله بیا به بېرته په بل درځن د لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری پیل و کوه، او یا به یې په نېغه لاره ټولې ویلې، یوه درجن (Dozen, Douple)، دوې درجنه ان تر شل درجنو پورې ویلې.

چې ځینې وخت بیا په ساز کې پورتنۍ برخې د ساز اسبابو او بولل ته دا په لاس ګټنه ورکړله چې کله په کې ډول خپل فارموله او غوره حالت وړاندې کړه له یوه درځن ورسته، کله به رباب خپل فارموله او غوره حالت (کوزې او بره پردې) وړاندې کړه له یوه درځن ورسته، کله به ارمونې خپل فارموله (کوزې او بره پردې) او غوره حالت وړاندې کړه له یوه درځن ورسته، کله به تولۍ او ځینې وخت به یوې ګډې نغمې، سندرې، د موسیقی یوې پارچې، تش ساز، د دوی ټولو اسبابو په ګډه خپل وار، تېر کړه ( ځینې وخت به یوې ګډې نغمې یا سندرې یا د موسیقی یوې پارچې یا تش ساز د دوی ټولو اسبابو غږ په ګډه خپل وار تېر کړه)، په دې سره به په ساز کې خوند هم لاسته راغی او سندرغاړي یا بولل به هم دمه وکړه او بل درجن ته به چمتو شو.

لکه څنګه چې راپرو شوی د زلمي هېوادمل، اسمعیل یون، دوست محمد دوست شنواري، مجاوير احمد زيار په واسطه له بېلا بېلو ډولونو، نومونو او له بېلابېلو ياد شويو سندرو سره د ,,لنډۍ،، بېلابېل سندریز اهنګونه یا طرزونه راپېژندلي، یا په سرچپه وینا، د لنډۍ یو په تړاو یې یوه لړ سروکي له بېلابېلو اهنګونو سره راښوولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانا دا چې د سروکيو اهنګونه د لنډۍ يو له اهنګونو سره ګډ يا التباس کړي دي، خبرې يې د لنډۍ يو د اهنګونو په تړاو دي، ځنې په نومېړلي ډول همدا لنډۍ په خپلواکه او ګوښې توګه د سيمو او ګړدودو له پلوه تر شنني لاندې نيولي او هله يې د ويلو راز، راز ,,ترنمي،، طرزونه راډلبندي کړي. ځکه له سروکيو سره د لنډۍ يو په خپلواکو اهنګونو کې راوستلي، بلکې د سروکيو له خوا پرې پلي کړي.

زما څرګندول چې روښوي کتنه داسې له دوی څخه په بېل توپير رښتې ډلبندی د نيمکيو سپينې ته را او باسم. د دې له پاره چې د سروکې يوه شلخې پنځه، ديسي رغښت، بدل جوړښت، ټومبونه ګډوله، په زوره سر باري شوي اونګ د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ده. هر کله چې لرغوني او نوي پېيلن د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ په پنځه ( تخليق) او منځه ( هسته) کې نا توانه، سوېي بريالي، په زهني تسلسل په کمتون شوي، ترنګتوک د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ترې پاتې شوی، دابېڅو، ويکيو، غونډ او غونډلو په ابدنه کې له خنډ سره مخ شوي، نو بيا يې هغه برخه پرې اېڅې ده او پيېله يې نيمکۍ شوې ده، سروکې پېژن يې په دې بنه ورکړی دی، چې د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ په سر، اول، پيل کې راولي، او سر بارري، ببخ باري يا تکراري يې له هرې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ پسې راولي او په زوره نيمکۍ ته غړ جوړوي، يا يوې ګډې نغمې، سندرې، د موسيقۍ يوې پارچې، تش ساز، د غږونو ټولو اسبابو په ګډه خپل وار يا ترنګ جوړوي، ځکه له سروکيو سره د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ په خپلواکو اهنګونو کې راځي او په سروکيو باندې پلی کېږي، بلکې د سروکيو له خوا پرې نه پلي کېږي. په بدله بنه يې ورته جوړ وو. په سوي پنځې بنه سرباري کېږي.

که شاعران، ترنميان، سندربول، سندرغاړي، اوازيان، سازيان، ناين، هنرمندان يا ارکستران سروکې ته د غوره نغمې رغښت کوي، يا سندره جوړوي، يا موسيقي يوه پارچه تياروي، خوږ غږ برابر وي، د پيل؛ د سر يوه کړی؛ بند؛ يا مسرې؛ يا دوې مسرې، دوبيمې کړی چې (استايي) ورته وايي ترې رغوي او پاتې نور بندونه، نورې کړی تر پايه، يا نورې مسرې چې پورتنۍ و رسره ترېښتي کېږي يا بېخباري يا سر باري کېږي. پرې تره ( انتره) وايې چې د استايي سترګې بلل کېږي، چې ډېر زيات ورته له منځې يا څرګند سکالو( دننه نی مسلې او موضع) له اړخه نږدې وي. نه جوړ وي. يا په لنډ پېرې بنه سندره له استايي رغول کېږي له انترې نه، خو دا يوه ديسي، شلخې سوېي پنځې اصل دی. اصلي، اوريجنل، پنځې، منځې ښکاروندی دا دی چې له انترې يې سندره رغښت کېږي. ځکه موږ يې په زوره سروکې ته جوړ وو، لورا لور، سکالو، سکالو يې ور ټمبو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې مثاله به د لا پوهېدنې له پاره تاسو ته و وایم:.

لومړی مثال:. د خوږو لنډۍ یو، ټپو، ټیکۍ یو او مصرۍ یو ټاکل او په لاس راوړل که ډېرې هم دي (کره خوندي شوې ۲۱۹،۵۶۴.۰۰۰) خو بیا هم ګران دي، په ۱۰۰۰ دانو کې به د ځینو کسانو هېس خوښ رانه شي، چې لولې یې او د سروکي له سکالو، سر او سور سره برابرې وي، او که له کوم تن یې واورې که یوه دانه هم وي بیا یې ډېره خوښېږي.

په پلازمینه کې مې اورېدلې دي چې فرهاد دریا د باران د موسقۍ ډلې غږې ویلې و، له جګړو ورانډې مې د افغانستان په راډیو تلویزیون په کتابتون کې ما په ۵۸۰ پېنځه سوو او اتیا مصرو کې د بابولالې خار ناکرار کړم لېونی، وه!؛ په مین ګرانې پلو راټیټ کړه شین خالی. نیمکی له پاره دا مصرۍ : ستا د کټ کټ خندا دې زار شم - لکه ماشین چې په بخمل وچلوینه. خوښه کړه، او دا ډېر دروند کار وو ورته. چې دلته نیمکی د مصرۍ له دوېیمې مسرې سره په مصرۍ مېچه برابر ده ۱۳ څپې لرې، په دې توګه د غونډلې ببلا ببل مانیز ( بیاني، امري، پوښتني) اواز لوړوالی سره نومېږي، خو د ه ابڅې ترنګتوک نه لرې. د درنې یې (ی) ترنګتوک لرې، چې له نو څخه یې د هوا راوتو کچه ورته ده، ورته بنه خوږ غږ لرې چې ډېر نږدې دی سر، ه (ه) او ی ، دوې یمه مسره یې په دې له ظاهري بڼې پښېله ( قافیه) واله مسره ګڼو خو اواز یا اهنګ یې سره برابر دی او پورته لوړې یا په لوړ دی، په څوړ نه دی. بل لورته که د هې ابېڅې پرته مسره ترګتوک ورکوي، نو درنې یې په رښت کې ساتلی دی چې خپله غبرګغږ ابېڅې ده. دوې دانې مسرې دي، دوېیمه یې بیا یوه پارنویکی هم لرې ده ,, وه!،، په بنه، چې یوه څپه ډېره وي د نیمکی دوېیمې مسرې. ۱۴ څپې کېږي، خو دا شتون لرې، او په سکالو کې کومه باکه نه زوکړه کوي. شتون یې اړین دی، او همدا د مصرۍ یو یوه اړین او رښت توک دی. چې په لاندې بنه سروکی ترې رغښت مومي او دا شکل ځان ته غوره کوي.

ستا د کټ کټ خندا دې زار شم
بابولالې خار ناکرار کړم لېونی
وه؛ په مین ګرانې پلو راټیټ کړه شین خالی
لکه ماشین چې په بخمل و چلوینه
بابولالې خار ناکرار کړم لېونی
وه؛ په مین ګرانې پلو راټیټ کړه شین خالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوېيم مثال: په ورته وخت کې د هېواد سرغندوی، تکړه، هېښنده استاد، د افغانستان راډيو تلويزيون ښاګلي، نوموتي، خوږغږي او خوږ سندرغاړي پينده محمد منګل او د ده مېرمنې د هنر زده کوونکې اغلې ښاپيرۍ نغمې له پاره په ۹۰۰ ټپو کې يوه ټپه: زړه مې سورى باد کې لړېږي- غېښې د غم ترې تېر او بېر وتلي دينه،

د ياری وی اوو شاه لونګينه؛ ياری وی — او چاته مه وايه حالونه؛ ياری وی... نيمکۍ له پاره غوره کړې وه، هغه داسې ده.

تر ډېره پورې پېيلنې يا پيېلن روغ کوښښ کړی دی چې په سويي پنځې ډول يې يوه ټپه رغولې وی، خو په لومړۍ مسره کې يې توان نه دی رسېدلی، چې ۹ شي، او يا دوېيمه ديار لس شي، دواړه مسرې يې ۱۲ څپېزه شوي دي، که له ۱۳ څپيزې يې ترنکتوک لرې کړی دی يا ترې پاتې دی خو په ۱۲ سمه څپه يې زورنه راغلې او بل لورې ته په درنې ی ابېخې هم پای شوي چې غبرګغږونه لري او له خولې څخه په يوه اوږده ساه له نو څخه را وځي. لکه د هې يا ه بېخې ته ورته. او ترنکتوک يې برابر وي. له بل اړخه د ټپې لومړۍ مسرې ته ورته ده، چې يوه درې څپيزه د اندېښنې او درد اېرنتيا چغې، سورې نارې او اوازونه دي بلنويکي دي ,, ياری وی،، دواړه پايني ابېخې يا غبرګغږی ابېخې دی، چې ترنکتوک ساتي. او د هرې ټپې د مسرې سره سر باري کېږي او بيا د بېخباري بنه وار په وار ورسره تر پايه پالل کېږي. چې پام، نيمکۍ يا سروکۍ کوم يوه بيت ( د کور دوې پټه لرونکي ور يې)، يوه کړی ( دوې نيمې کړی)، يوه بند ( دوې نيم بندی) پيېله نه دی چې په ښېلې بنه دي وي، خو دوې مسرې لرونکې جوړ دی چې له ټپې څخه اونګ ( مکس ډيزاين، ګډوله) شوی دی.

زړه مې سورى باد کې لړېږي
ياری وی اوو شاه لونګينه؛ ياری وی
غېښې د غم ترې تېر او بېر وتلي دينه
ياری وی اوو شاه لونګينه؛ ياری وی
او چاته مه وايه حالونه؛ ياری وی

د دې له پاره چې غوره په غورو کې و مومې او د هندارو، مجلسونو او ننداړو په وړاندې د ليدونکو او اورېدونکو د تود هر کلي سبب شي، په لاسته راوړو باندې چې پېرودلي يې وي، پرې وخت يې تير کړی وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرف یې پرې شوی وي، نورو ته وړاندې کوي او خپله هم پرې هامیانی په لاسته راوړي. څکه ډېر د پلورلو وړ دي له هر اړخه. په ۲۰۱۱ لېږدي کال مې د کابل شپه میرو اکاډمی پخلنځې رغوه، نو یوه هزاره سندر غاړی و د محمد دواود هزارګي په نوم، ویل یې زه د حیات ګردیزي شاګرد یم، په همدغو پښتو شعرونو لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری زه د شپه میرو په زړونو کې ځای کړی یم او په هر مجلس کې یوه وارې ځینې وخت څوواري وایم، او زه هم پرې په اکاډمی کې پایم.

## ۱.۸.۲.۱۱ ۱ رښتې ډلبندی د نیمکی یو په لاندې بنه سپینې ته را او باسم.

۱. نیمکی لنډۍ ۲. نیمکی ټپه ۳. نیمکی ټیکی ۴. نیمکی مصری (۱. پام لنډۍ ۲. پام ټپه ۳. پام ټیکی ۴. پام مصری یا ۱. سروکه لنډۍ ۲. سروکه ټپه ۳. سروکه ټیکی ۴. سروکه مصری).
وړیهسې لومړی ډله نیمکی لنډۍ (اې، بې، پې، تې، ټې، جې، چې، ځې، څې، خې، دې، ډې، رې، ړې، زې، ژې، ږې، سې، شې، ښې)، دوبیمه ډله نیمکی ټپه (اې، بې، پې، تې، ټې، جې، چې، ځې، څې،خې، دې، ډې ... ښې)، دریمه ډله نیمکی ټیکی (اې، بې، پې، تې، ټې، جې، چې، ځې، څې،خې، دې، ډې... ښې) او څلورمه ډله نیمکی مصری په (اې، بې، پې، تې، ټې، جې، چې، ځې، څې،خې، دې، ډې، .. ښې) برخو وېشل شوي او هره یوه یې په خپل وار سره لرغونتوب او زړخت او د تېر عمر کچې مېچه لري.

## ۱۱.۲.۸.۱ ۲ لومړی ډله نیمکی لنډۍ:.

اې ,, ا ،.:. د لیکوال شپېر سره نیمکی لنډۍ دي چې سر لیک یې دی اوړی.

د سرخکان او تیرګړو له پلو ور واوړه

ماته له لغمانه اوړی راوړه

هغه چې تولونه درنه وي

ماته له لغمانه اوړی راوړه

له رنګه سره وي چې همېش مې په تن وينه

ماته له لغمانه اوړی راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږى د هر مهلت ښايسته وي
ماته له لغمانه اوږى راوړه
دا لغمانى اوږى مې ډېره ښه ايسينه
ماته له لغمانه اوږى راوړه
د سرخکان او تيرکړو له پلو ور واوړه
ماته له لغمانه اوږى راوړه

هغه چې جوړه په مشکنو
ماته له لغمانه اوږى راوړه
هغه له ځنو سره لا مزه کوينه
ماته له لغمانه اوږى راوړه
د سرخکان او تيرکړو له پلو ور واوړه
ماته له لغمانه اوږى راوړه

ما ستا د څنډو غاړه و کړه
ماته له لغمانه اوږى راوړه
فردوسه! ژر به دې پر تن باندې کومه
ماته له لغمانه اوږى راوړه
د سرخکان او تيرکړو له پلو ور واوړه
ماته له لغمانه اوږى راوړه

د فراه وطن ولسوالى، اوږى د زمري مياشت ۱۰، ۲۰۰۶ زېږدى، ورسته له وخته ۳ بجې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳.۸.۲.۱۱ د نیمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) تعریف ( څرګندونه، د دوی د یوه توري یا سکالو تشریح کول)

د وی یا ویکیي له پامه نیمکۍ لنډۍ ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) هغې یوه سرې او دوې سرې ییپلې ته وایې چې د یوه سرې او دوې سرې لټکې سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري. او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېځو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ی او ... ،، څخه ورانديې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړې دي له لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ورسته. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلکیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ نیمکۍ لنډۍ د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباري، غونډلې یا کلمې دي چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږ وي، په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته راځي او لکه یوستووی اواز یوه وار پتلیز له خولې راوځي د یوه غبرګغږ لومړی ټوک یوه خپلواک او دویم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکي واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکۍ واله یې یا درنه یې ,,ی ،، او داسې نور. دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناترویيکي، ترویيکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیبجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای،. نو، الله، او، کنه، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه کربانه!، ای الکه! وروره! ، بخته میره!، اخلا وه! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نوموړي ټول د نیمکۍ لنډۍ توکي دي، چې کله د هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېری وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښېلې کلمې یا غونډلې لرې لري. خو تکراري لړونه ډېر لري، خو ډېری وخت د لومړی او دویمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. هره نیمکۍ لنډۍ باید د هـ ( زموږ خپله ,, هـ، ه یا هې ،، چې ورته وره هـ، روغه هـ، کوشنۍ هـ، لنډه هـ، دوې سترګې هـ ,هـ، دوې سترګې والا هـ، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,هـ، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېځې ده. په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، نیمکۍ لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دوېیمه مسره یې ۹ څپې وي له دفتنګونو پرته. د هرې نیمکۍ لنډۍ، د لومړۍ مسرې څلورمه، اتمه څپه او دوې لسمه او دوېیمې مسرې څلورمه او اتمه څپه، باندې زورنه وي، ځینې وخت دواړه غبرګغونډلې لومړۍ او دوېیمې مسرې دیارلس، دیارلس څپې وي، ځینې وخت نهه، نهه څپې وي، ځینې وخت، یوه غونډ، او یوه غونډله وي، چې څلور څپې، اته څپې، دوې لس څپې، شپاړس څپې او شل څپې پېیله وي او لږ وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي د غږ لوړوالي او ټیټ والي په بڼه ویل کېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا نیمکۍ لنډۍ مېچه د څپېزه او خجېزه ټولوالې سره سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ دیارلسمې او دوېښتمې څپې خوږغږي د نیمکۍ لنډۍ مېچه د څپېزه او خجېزه ټولوالې ترڅنګه د نیمکۍ لنډۍ یوه بل رغنده ټوک ګڼل کېږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پایني ټوکون په یوه پېر کې له دغو دربواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې دیارلسمې او دوېښتمې زورنې څپې له یوه څه اغېز سره نیمکۍ لنډۍ ته یوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کې دی شي. غوره سته د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نومړې مسره د نیمکۍ رغښت پنځه کوي، د ۱. نیمکۍ لنډۍ ۲. نیمکۍ ټپه ۳. نیمکۍ ټیکۍ ۴. نیمکۍ مصرۍ ( ۱. پام لنډۍ ۲. پام ټپه ۳. پام ټیکۍ ۴. پام مصرۍ یا ۱. سروکه لنډۍ ۲. سروکه ټپه ۳. سروکه ټیکۍ ۴. سروکه مصرۍ) غوره توک او منځې راځي، وار په وار سرباري، منځباري، ببخباري ( تکراري، مکرر) ډول له لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ سره ترښځي لږ کېږي.

په ټوله کې غوره نیمکۍ ( پام، سروکه) هغه دي چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکې نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې و لري، د دیفتنګونه او پارنویکي سره، خو له ایزې، انګۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کبسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پېیلې)، کبسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هایکویی، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلیزۍ، ناپېیلۍ او سلسلۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې ټولو پېيلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نی برخې،Dialogue ) له ستې بېلوالی و لرې، د دې له پاره چې دا ټول په ډېری بنه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوې، ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وې، پرې برلاسې وې، رټ بېلوالی یا ګړندی فرق پې و کولی شې، ورته ګنلې وې او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی وشې.

خو نیمکی لنډی چې درې سره لرې ۳۱ څپېزې وې او که په اوږدې مسرې باندې شې بیا نو ۳۵ څپېزې وې، څلور سره نیمکی لنډی ۴۴ څپېزې وې، پېنځه سره نیمکی لنډی ۵۳ څپېزې وې او که په اوږدې مسرې باندې شې بیا نو ۵۷ څپېزې وې، شپږ سره نیمکی لنډی ۶۲ څپېزې وې، اووه سرې نیمکی لنډی ۷۱ څپېزې او که په اوږدې مسرې باندې شې بیا نو ۷۵ څپېزې وې، اته سره نیمکی لنډی ۸۴ څپېزې وې، او نهه سرې نیمکی لنډی پې ۹۳ څپېزې وې او که په اوږدې مسرې باندې شې بیا نو ۹۷ څپېزې وې ( ۴ څپې ډېرېږي او که کوشنی مسرې باندې شې بیا ۴ څپې ترې کمېږي) او لس سره نیمکی لنډی ۱۰۶ څپېزې وې. چې تر ټولو غوره پې څلور سره نیمکی لنډی ۴۴ څپېزې رانښلولې لړی لرې او دولس دانې و ویل شې خوند رنګ او د نوې وخت او هندارو په ښکاروندو په ستېه ولاړ راځې، ډېرې ښې پې اته سره نیمکی لنډی ۸۴ څپېزې وې چې اووه دانې و ویل شې، ښې به بیا درې سرې نیمکی لنډی دې دولس دانې یا شپاړس و ویل شې، لږې ښې بیا لس سره نیمکی لنډی یا لسیزونې نیمکی لنډی دې چې پېنځه دانې و ویل شې ښې راځې، دا بیا له څلورو دانو شپږ سره نیمکی لنډی سره خوا په خوا ځای نیسې. د لیکوال ( زما ) نیمکی لنډی څپېزه ( څپه، سېلاب، هجا ,, سیلیبل Syllable،، د ابېڅو شمېرلو) - څجېزه ( زورنه، څج، اکسنټ ,, لفظ، د موسیقي نوټ: د څج نښه: د تورې په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او ټیټوالي زور، او ږدوالی، کیفیت ښيې،: ټینګه , لهجه ،: تاکید: بیلوونکی نښه: د وینا , ځانګړی، خاص او بېل ، ډول. :Accent, Morphemel ،،) جوړښت په دې ډول دی:

### ٤ .٨.٢.١١ د نیمکی لنډی څپیزې او زورنې

U-UUUU-UUUU

U-UUUU-UUUU

U-UUUU-UUUU-UUUU

U-UUUU-UUUU

U-UUUU-UUUU-UUUU

U-UUUU-UUUU

(c) ketabton.com: The Digital Library



هه - غه - چې - تو + لو - نه - دره - نه + وي
ما - ته - له - لغ + ما - نه - اوړی - را + وره

له - رنګ - ګه - سره + وي - چې - هه - مېش + مي - په - تن - وي + نه
ما - ته - له - لغ + ما - نه - اوړی - را + وره

د - سر - خه - کان + او - تیر - ګا - ړو + له - پلو - ور - وا + وره

ما - ته - له - لغ + ما - نه - اوړی - را + وره

.۱ -۲ -۳ -۴ -۵ -۶ -۷ -۸ ۹

.۱۰ .۱۱ -۱۲ .۱۳ -۱۴ .۱۵ .۱۶ .۱۷ ۱۸

.۱۹ .۲۰ -۲۱ .۲۲ -۲۳ -۲۴ -۲۵ -۲۶ -۲۷ -۲۸ -۲۹ -۳۰ ۳۱

.۳۲ .۳۳ -۳۴ .۳۵ -۳۶ .۳۷ .۳۸ .۳۹ ۴۰

.۴۱ .۴۲ -۴۳ .۴۴ -۴۵ -۴۶ -۴۷ -۴۸ -۴۹ -۵۰ -۵۱ -۵۲ ۵۳

.۵۴ .۵۵ -۵۶ .۵۷ -۵۸ .۵۹ .۶۰ .۶۱ ۶۲

## ۱۱.۲.۸.۴. ۱ د نیمکی لنډی ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت

ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت یې داسې دی:

الف.

______________

______________

___________________

______________

___________________

______________

ب. ______ ______ _____________ _____ _____________ _____ ______

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱.۲.۸.۴. ۲ د دي نیمکی لنډی سپړنه

د دي نیمکی لنډی سپړنه

لومړی مسره ۰+ ۹+ ۰ = ۹ څپي ده چي ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
دوېيمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپي ده چي ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
درېيمه مسره ۰+۱۳+ ۰ = ۱۳ څپي ده چي ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
څلورمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپي ده چي ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
پينځمه مسره ۰+۱۳+ ۰ = ۱۳ څپي ده چي ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.
شپږمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپي ده چي ،، دفتنګونه او پارنویکي نه لري.

دلته ټوله نیمکی لنډی ۶۲ څپي ده، دا پنځي شپږ سره نیمکی لنډی پارنویکي او غبرګ غږونه نه لري، که در لودلی نو د څپي په ګڼه ډېروالی راتله او ولس کي دغبرګغږونه او پارنویکي... . لرغن دود دی او د نیمکی لنډی برخه ده.

۱. لومړی مسره
۲. دوېيمه مسره
۳. درېيمه مسره
٤. څلورمه مسره
٥. پينځمه مسره
٦. شپږمه مسره
٧. ۱. ۲. ۳. ٤. ٥. او ٦. یوه نیمکی لنډی ده
٨. د اوازتیوالی او لوړوالی خطونه،اهنګ؛ ترنګتوک؛
٩. زورنه (خجنه) **بولډ**
١٠. دفتنګونه نه لري.
١١. تت اسماني رنګ يې د رنګ ښکاروندی دی.
١٢. ښځو ته منسوبي (اړوند)
١٣. څپي( سیلابونه)
۱. مسره ۹ څپي ده
۲. مسره ۹ څپي ده
۳. مسره ۱۳ څپي ده
٤. مسره ۹ څپي ده
٥. مسره ۱۳ څپي ده
٦. مسره ۹ څپي ده




د ټاټوبي سرغندوی هېښنده سندرغاړی باچا خان لغماني ویلي.
وخت: (شیبه، غوټه: مهال: دموسیقي شیبه: پرتاکلي وخت).
.: ۰۰:۰۰:۳۶:۵۹ (رپ: ثانیې: دقیقې: ساعت) په وخت کې ویلي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۵ .۸.۲.۱۱ لومړی ډله نیمګی لنډۍ : اي ,, ا ،،.:. د لیکوال ,زما، څرګندول چې روښوي کتنه داسې. د لیکول نیمګی لنډۍ ( پام لنډۍ، سروکه لنډۍ) په لاندې بڼه لوری موږ ته په لاس راکوي لکه:

۱. نیمګی لنډۍ له لنډۍ څخه رغښت مومي، نیمګی ټپه له ټپې څخه او نیمګی ټیکی له ټیکی څخه او نیمګی مصرۍ له مصرۍ څخه.

۲. نیمګی لنډۍ د لنډۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی، نیمګی ټپه د ټپې پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی، نیمګی ټیکی د ټیکی پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی او نیمګی مصرۍ د مصرۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی.

۳. تر ټول سرغندوي بڼه د نیمګی‌یو موږ ته په پوخ کې کوي چې شپږ سره لري.

۴. څومره والی د نیمګی‌یو موږ ته په پوخ کې کوي چې څلور دانې دي او هر یوه یې شپږ مسرې لري.

۵. ځینې زورنې یې لږه زورنه لري، ځینې یوه څه زیات، خو ټولیز پایخج یا پاینۍ زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې او د مخنۍ‌یو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې تر سیورې لاندې کمزوري پاتې شوي. دا نو یوازې په ساز او اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی (برجسته والی) مومي او له ژبنې ډګره نور راوځي.

۶. د نیمګی پېیلې پېنځګونې رغنده توکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله (احساس، عاطفه) په کې په نیمګی، پام او سروکه بڼه شتون لري.

۷. نیمګی لنډۍ مېچه د څپېزه او خجیزه تولوالې ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بڼه او لاړښوده مخبېلګه ده، له ژبنې پلوه لږ تر لږه شپږ یا زیاتې غونډلې را اخستې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هم یې ځپې له ټاکلي شمېر نه‌وي؛ او دیارلسو څخه ټېرې نه دي کړې او هم یې زورنې له ټاکلي شمېر څلورو څخه ټېرې نه دي کړې له دغو توکو پرته.

دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناټرویيکي، ټرویيکي، ستربل، اوستربل، پارنویيکي، بلنویيکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای،. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د نیمګی لنډۍ توکي دي، چې کله د هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېرې وخت په پای کې ویل کېږي او د ځپو په شمېر کې ډېروالی راولي.

د رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني دی (Color model: RGB, Red:۱۵۷, Green: ۱۹۵, Blue:۲۳۰) دی. ۸.۱۰ د پښتو پېیلو د رنګونو لښتیلیک (جدول) ۱.۲.۱ پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یو سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۲ ګڼه دی.

۸. د نیمګی پنځه له هغې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ، او مصرۍ کېږي چې منځه ( هسته) وي، چې ځانګړې ځانګړنې یې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او یا مصرۍ ته ورته وي، د نیمګی نومړې منځه موږ په خپل رنګ یې چې د نیمګی رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني دی، په تت اسماني یې ښکو او چې سرباري، یا بېخباري یا تکراري مسرې یې هم تت اسماني رنګ لري، د دې له پاره تر ډېره پورې دا سرک موږ ته په لاس راکوي چې د نیمګی پنځې منځه وي. او ګډولې بنه یا اونګ بنه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لنډۍ ته منسوبې وي، یا ټپې ته منسوبې وي، یا ټیکۍ ته منسوبې وي او یا مصرۍ ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې پاتې کېږي، له دې څخه یې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا نیمګی؛ نیمګی لنډۍ ده، که نیمګی ټپه ده، که نیمګی ټیکۍ ده او که نیمګی مصرۍ ده. له دې سره سم دا نیمګی لنډۍ ده.

۹. د نیمګی لنډۍ پېیلن لیکوال صفی الله فردوس خان ټولې په ګډولې بنه یا اونګ بنه جوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقي ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کېښلې دي، هره یوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې لنډۍ سکالو ځانګړنې او نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی، او هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوې، او د سکالو تسلسل (Continuity, Succession) سره لري، له لنډۍ یې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېیلو څخه روغې ګډوله شوې نه ده.

دا به داسې ښکارېږي چې پنځي , طبیعي، ده او مصنوعي, دیسي او شلخي، نه ده.

۱۰. د دې نیمکۍ لنډۍ پېیلن د پښتو لېوال دی، ځېک تن دی، د لغمان یوه ښه نیک نومه وګړی دی چې ډېری شعرونه یې په پښتو ادب پنځي , طبیعي، او یوه دمي پوښلې دي. د زهن د نیمکۍ لنډۍ زېږنده یې له مېنې سره لوړه لېوالتیا، د مینې وټېزه ارشه درشه، د ټاټوبي لاسي پیداوارو او دودیز زېرمو بډاینه او پښتونواله پاتې شونې پرېږ دي. بل لورې ته دا د دې له پاره نه بوږوم چې ځانمنې ستاین شي، په ټوله کې د دې له پاره ده چې د نورو پېیلنو د پېیلو له پاره ترې په لرلید ګټنې واخستل شي.

۱۱. د دې نیمکۍ لنډۍ د زوکړې موده لکه څنګه چې زه وایم داسې ده: د اېنجینېرۍ زده کړیال وم او د اېنجینېر دنده مې درلودله. د تخنیکي مرستیال په بڼه د نوې مخابرې او غوږکي ټولواله مو په ټول ټاټوبي کې د لومړي ځل له پاره نړۍوال د غوږکي نوې ټولواله یا جي ایس ایم رغوله، ۱۶ کڅېزه اېنجینېري او تخنکي ماهرینو مشري را پر غاړه وه، په دې وخت کې زه ۲۱ کلن وم څکه چې په ۱۹۸۶ زېږدي کې د مارچ په لسمه په پښتنه کورنۍ کې زوکړه شوی وم، زما ډېری شاعري له شلو کلو څخه په ټېټ عمر کې شوې چې ۱۹۹۷ زېږدي څخه تر ۲۰۰۶ زېږدي پورې مې په کې د پنځې پېیلن په بڼه مزل وهلی دی، پېیلې یې زما په لیکي خلېر کې د ددو دود کې شتون لري.

د فراه ولایت وطن ولسوالۍ کې مې په اوړی فصل کې د زمرې میاشت ورسته له وخته ۳ بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۲۰۰۶ زېږدي کې کښلی دی. لیکنی او کتابچه را سره نه وو، په ناساپي بڼه یا یودمي مې داسې پېیلې له خولې را وتلې چې ورځ یې راته په یاد کې نه ده پاتې. دا ده همغه چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځې زېږنده ده. د دې نیمکی لنډی له پاره کره بوروم چې همدا یې د پنځې (تخلیق) منځې (هستې) د زوکړې موده ده.

۱۲. د دې نیمکی لنډی د وخت موده چې باچاخان لغماني په کاستوري سور کې ویلې ده.

وخت: (وخت ټاکل، نېټه ایښودل: پر سور برابرول: وخت اندازه کول وخت، دوران، نېټه: ټیك وخت، ټایم، وخت، بیدو، موده، موکع: دم، وار، ځل: ګړی، ساعت، شېبه، غوټه: مهال: د موسیکي شېبه: پر وخت، پر ټاکلي وخت). :. ۰۰:۳:۳۰:۰۰ (رېه: ثانیې: دکیکې: ساعته) په وخت کې ویلې ده.

۱۳. د ژور پام کونکي په بڼه، زه د لیک دود نخښې لکه: د نیمکی لنډی، نیمکی ټپې، نیمکی ټیکی او نیمکی مصری په هره مسره کې د چپه پېښ ,, ،: Comma کامه، دغه (،) نښه چې جملې او کلمې سره بېلوې، ویرګول. ،،؛ ندایه ,, !Exclamation : چیغه، کریږه، د تعجب نه ډکه چیغه. که !! شي دوې برابره او که درې !!! شي درې برابره لوړه چیغه ،،؛ پوښتنې نخښه ,, ؟ Question Mark: تپوس نخښه: پلټنه یا اعتراض نخښه: شك نخښه: پیشنهاد نخښه: پوښتل نخښه، تپوس کول نخښه: شك کول نخښه: مناقشه کول نخښه، غوښتنې نخښه، وړاندیز نخښه. ،،؛ انډره ,, (:) colon: شارحې نخښه، د لوېې کولمې یوه برخه. ،،؛ ټکی لرونکې کامه ,, (؛)Semicolon : بېلوونکې نخښه، هغه نخښه چې د جملې فقرې سره جلاکوي. ،،؛ شمېره ,, (#) Number: ګڼه، عدد، ګڼ (= حساب)،،؛ را اخستنه ,, (,, ،،) : Right left double quotation mark را اخستنه، نقل، اقتباس. ،،؛ دوې لېندی ,, () : Superscipt right left parenthesis د پاسه لیکل، لکه د نامه، ادرس یا نور، اخځوک، معترضه جمله، دوه لېندی، قوسونه. ،،؛ د اتصال ,, - hyphen minus: ګډکېدو نخښه، یوه ځای کېدو نخښه. ،، او ټکی ,, . full stop: پنډول، پریږول. ډك، بشپړ، مفصل. اکثر حد، اعظمي حد. په بشپړه توګه. ،، کارونه اړینه بولم او په خپل لیکي کې کښم چې د سرلیک، غبرګغونډلو، پارنویکو، د هرې مسرې ښکاره کېدل څرګند کړي او بېلوالی یې سپیڼې ته راوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٦ .۸.۲.۱۱ دوېیمه ډله نیمګی ټپه:

د دې له پاره زما څېړنه دا سپینې ته را اوباسی چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله د څو سره نیمګی ټپه نوم باندې نوموم، چې دې پښتو څو سرې پېیلې له څو سره ټپ یا څو سره زخم یا څو زخمه یا څو ټپه، څو سره نیمګی ټپه، درې سره ټپ له درې سره نیمګی ټپې سره، څلور سره ټپ له څلور سره نیمګی ټپې سره، پېنځه سره ټپ له پېنځه سره نیمګی ټپې سره، شپږ سره ټپ له شپږ سره نیمګی ټپې سره، اووه سره ټپ له اووه سره نیمګی ټپې سره، اته سره ټپ له اته سره نیمګی ټپې سره، نهه سره ټپ له نهه سره نیمګی ټپې سره او لس سره ټپ له لس سره نیمګی ټپې سره... . ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لري. لکه:

۱ :- درد پیدا کوي، ۲:- د انسان په تن کې چې درد وي، نو بیا سم د کار نه وي، ۳:- خوښې له منځه وړي، ۴:- خفګان ډېره وي، ۵:- په هېڅ څه پام نه راوړي، ۶:- انسان په دردونو اړوي، ۷:- تاثیر یې د انسان په زړه ټپ جوړه وي، ۸:- پټ زخمونه د انسان په وجود کې جوړوي چې یوازې احساس یې کېږي، خو لیدل کېږي نه، ۹:- بې واکه کړنې په انسان کوي، بېواکه خوشحالي خرګندوي چک چک کوي، ۱۰:- تاثیر یې د انسان رنګ پرک زبړ اړوي، ۱۱:- غم ډېر وي، ۱۲:- د انسان سپېنې تختوې، ۱۳:- ولس پرې خبرېږي، رسوایي کوي، ۱۵:- کړو زیاتوي، ۱۶:- د ټپ باندنی برخه کوشنی وي او د ټپ دننی برخې رېښه اورده وي، ۱۷:- انسان رنځور وي، ۱۶. له ټپې یې کچه کمه ده، ۱۸:- د یوه ټپ څخه یې د درد زورنه لړه وي ځکه چې یوه ټپ په روغ بدن کې ډېر پیدا کېږي، ډېر او څو ټپونه په تن کې لږ پیدا کېږي، ۱۹:- نیمګی ( پام، سروکی) ټپ ځان ټپه وي، ۲۰. لږې دې خو شتون لري. ۲۱. د دروغو ټپ په هندارو کې د پردو له پاره جوړېږي او په زوره په تن پورې ټپول کېږي.

تاسو ته دا همداسې پرېږدم او په همدې بنه یې پوښ کې کوم.

هرې نیمګی لنډی، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری چې دغه پورته ځانګېړنې و درلودلې نو هغو ته نیمګی ټپه وایې. تاسو نیمګی لنډی، نیمګی ټپی، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری ته ښه غوړ و نیسئ !! پام ورته و کړئ! نو بیا یې پېژنی چې دا نیمګی ټپې دې چې د څو سره ټپ ځانګېړنې (خصوصیات) لري. نیمګی لنډی، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری دا پورته ۲۱ ځانګېړنې نه لری او نیمګی لنډی، نیمګی ټیکی او نیمګی مصری نه دي، بېلوالی یې پرهمدې کې دی.

د دې د بېلولو له پاره زه ( لیکوال ) یوه بېلګه تاسو ته له خپلې پېیلې څخه  په لاندې بنه کښم. روڼ بوږم چې داسې مې و کښل د نیمګی ټپې له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، پنځه ( تخلیق، رغښت، جوړولو ) منځه ( هسته ) یې نیمګی ټپې پېیلې له سکالو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا دی. هندسې او ښکاره بڼه یې له نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ سره ورته ده. زه نیمکۍ ټپ، نیمکۍ ټپه له یوه بڼه پېیلې سره تشبع کوم چې ورته نیمکۍ ټپه وایې او ټولې ځنګېړنې یې سره ورته دي.

## ۷ .۸ .۲ .۱۱ د نیمکۍ ټپه ( پام ټپه، سروکه ټپه) تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، د دوی د یوه توري یا سکالو تشریح کول)

د وی یا ویکیې له پامه نیمکۍ ټپې هغې خو سرې پېیلې ته وایې چې څو ټپو سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.

او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پرله پسې توبه ( تکراري، بیابیا کولې، واروار ترلې، ګرداني) پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ی او ... ،، ځخه وراندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړې دي؛ له لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ ځخه ورسته. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلجیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوښنی نیمکۍ ټپې د مسرو شمېر یې ۳، د ځپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې یا کلمې دي چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک:، یې لا خوږوي، په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایې چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته راځي. لکه یوستووی اواز یوه وار پتلیز له خولې راوځي د یوه غبرګغږ لومړی ټوک یوه خپلواک او دوېیم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکی واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکی واله یې یا درنه یې ,,ی ،، او داسې نور. دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناترویيکي، ترویيکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای،. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، فردوس خانه!، لغمانیه!، یه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته میره!، وی اه!، دغه راز کنه!، هو، نه، ښه، ځنګه، ولې...)، نومرې ټول د نیمکۍ ټپې توکي دي، چې کله هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېری وخت په پای کې ویل کېږي او د ځپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښېلې غونډ او پښېلې کلمې یا غونډلې لرې لري. خو ډېری وخت د لومړی، دوېیمې او درېیمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. تر ډېره (هره یوه نه) پښېلې باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، ه یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دو ي سترګې ه ,ه، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا ، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،ټهویشتم, ګنه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي، نیمکۍ ټپې د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړیږي. درېیمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته. د هرې نیمکۍ ټپې، د لمړۍ او دوېیمې مسرې ځلورمه او اتمه څپه او د درېمې مسرې ځلورمه اتمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي؛ ډېرى وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسیږي؛ په پیلنۍ، دوېیمې او درېیمې څپې د ځلورګونو څپو ټولوالې باندې یې زورنه راځي یا به د اوزونو ټېټوالي او لوړوالي په بنه څپه باندې زورنه حسکیږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کیږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا نیمکۍ ټپې مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې سره، سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، او یوه دېرشتمې څپې خوږغږي د نیمکۍ ټپې مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ترڅنګه د نیمکۍ ټپې یوه بل رغنده ټوک ګڼل کیږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پایني ټوکونه په یوه پېر کې له دغو درېواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې نهمې، اتلسمې او یوه دېرشتمې زورنې څپې له یوه څه اغېز سره نیمکۍ ټپې ته یوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کیږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کې دی شي. غوره سټه د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نومړې مسره د نیمکۍ رغښت پنځ کوي، د نیمکۍ غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره نیمکۍ هغه دي چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکې نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې و لري، د دیفتنګونه او پارنویکي سره، خو له ایزې، انګۍ، پتۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پېیلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، ځلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هایکویۍ، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلیزۍ، ناپېیلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پېیلو (شېرونو یا شعرونو)سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سکالو (موضوع، مسلې، دننه نی برخې، Dialogue) له ستې بهلوالی و لري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېرې بنه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نومړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رټ بهلوالی یا ګړندی فرک یې و کولی شي، ورته ګڼلی وي او د ټولو زهني پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی و شي.

خو نیمکی ټپه چې درې سره لري ۳۱ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۳۵ څپېزې وي؛ څلور سره نیمکی ټپه ۴۴ څپېزې وي؛ پېنځه سره نیمکی ټپه ۵۳ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۵۷ څپېزې وي؛ شپږ سره نیمکی ټپه ۶۲ څپېزې وي، اووه سرې نیمکی ټپه ۷۱ څپېزې او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۷۵ څپېزې وي؛ اته سره نیمکی ټپه ۸۴ څپېزې وي؛ نهه سرې نیمکی ټپه یې ۹۳ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۹۷ څپېزې وي (۴ څپې ډېرېږي او که کوشنۍ مسرې باندې شي بیا ۴ څپې ترې کمېږي) او لس سره نیمکی ټپه ۱۰۶ څپېزې وي. چې تر ټولو غوره یې څلور سره نیمکی ټپه ۴۴ څپېزې رانښلولې لړی لري، دولس دانې و ویل شي، خوند، رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکاروندو په ستهه ولاړ راځي؛ ډېرې ښې یې اته سره نیمکی ټپه ۸۴ څپېزې وي چې اووه دانې وویل شي؛ ښې به بیا درې سرې نیمکی ټپې دي چې دولس دانې یا شپاړس و ویل شي؛ لړې ښې بیا لس سره نیمکی ټپه یا لسیزونې نیمکی ټپې دي چې پېنځه دانې و ویل شي ښې راځي، دا بیا له څلورو دانو شپږ سره نیمکی ټپه سره خوا په خوا ځای نیسي؛ پرته له غبرګغړونو او پارونویکو... . د لیکوال (زما) نیمکی ټپه څپېزه (څپه، سېلاب، هجا ,, سیلیبل Syllable،، د ابېڅو شمېرلو) - خجیزه (زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسیکي نوټ: د خج نښه: د توري په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او ټېټوالي زور، اوږدوالی، کیفیت ښيي،: ټینګه , لهجه ،: تاکید: بیلوونکی نښه: د وینا , ځانګړی، خاص او بېل ، ډول. :Accent, Morphemel ،،) جوړښت په دې ډول دی:

## ۸ .۸.۲.۱۱ د نیمکی ټپې څپېزې او زورنې

U؛U-UUUU-UUUU

U-UUUU-UUUU

U؛U-UUUU-UUUU-UUUU

U-UUUU-UUUU

U؛U-UUUU-UUUU

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي - نم - په - اور + بان - دي - سو - زي + ږي؛- كنه
وا - يم - و - اف + غا - نس - تا - نه + كنه

وه - سه - مي - نه + شته - څه - كه - څم + تر - چر - ګی - يه + مه؛- كنه
وا - يم - و - اف + غا - نس - تا - نه + كنه

ما - ته - له - ځا + نه - ځي - ني - ګرا + نه؛ - كنه

وا - يم - و - اف + غا - نس - تا - نه + كنه

۱ـ ۲ـ ۳ـ ۴ـ ۵ـ ۶ـ ۷ـ ۸ـ ۹ـ؛۱۰

۱۱ـ ۱۲ـ ۱۳ـ ۱۴ـ ۱۵ـ ۱۶ـ ۱۷ـ ۱۸ـ ۱۹

۲۰ـ ۲۱ـ ۲۲ـ ۲۳ـ ۲۴ـ ۲۵ـ ۲۶ـ ۲۷ـ ۲۸ـ ۲۹ـ ۳۰ـ ۳۱ـ ۳۲ـ؛ ۳۳

۳۴ـ ۳۵ـ ۳۶ـ ۳۷ـ ۳۸ـ ۳۹ـ ۴۰ـ ۴۱ـ ۴۲

۴۳ـ ۴۴ـ ۴۵ـ ۴۶ـ ۴۷ـ ۴۸ـ ۴۹ـ ۵۰ـ ۵۱ـ؛ ۵۲

۵۳ـ ۵۴ـ ۵۵ـ ۵۶ـ ۵۷ـ ۵۸ـ ۵۹ـ ۶۰ـ ۶۱

### ۱۱.۲.۸.۸. ۱ د نیمکی ټپې څمککچپوهنې (هندسې) رغښت

څمککچپوهنې (هندسې) رغښت یې داسې دی:

**الف.**

______ ـ
______
__________ ـ
______
______ ـ
______

**ب.** ____ ـ ____ ______ ـ ____ ____ ـ ____ ____

### ۱۱.۲.۸.۸. ۲ د نیمکی ټپې سپړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې نیمکۍ ټپې سپړنه

لومړی مسره ۰+ ۹+ ۱ = ۱۰ څپې ده چې ,, کنه ،، چارتاکی کړ لري.
دوييمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده چې ,, ،، دفتنګونه او پارنويکي نه لري.
دریيمه مسره ۰+۱۳+ ۱ = ۱۴ څپې ده چې ,, کنه ،، چارتاکی کړ لري.
څلورمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده چې ,, ،، دفتنګونه او پارنويکي نه لري.
پينځمه مسره ۰+۹+ ۱ = ۱۰ څپې ده چې ,, کنه ،، چارتاکی کړ لري.
شپږمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده چې ,, ،، دفتنګونه او پارنويکي نه لري.

دلته ټوله نیمکۍ ټپه ۶۱ څپې ده، دا پنځې شپږ سره نیمکۍ ټپه چارتاکی کړ کنه (ومنه، باور وکړه) لري چې څپله یوه تړلې څپه ده لکه کال، مور، خور، کور، کټ او خپل یوه څپه دی او یوه وازه څپه لکه اکا ، ابا، زه، ته، بیا نه ده، ورسره دوې څپې هم نه دی، د څپې په ګڼه کې ډېروالی راوړی ولس کې د غبرګغږونه، پارنويکي... . لرغن دود دی او د نیمکۍ ټپې برخه ده.




۱. لومړی مسره
۲. دوييمه مسره
۳. دریيمه مسره
٤. څلورمه مسره
٥. پينځمه مسره
٦. شپږمه مسره
٧. ۱. ۲. ۳. ٤. ٥. او ٦. یوه نیمکۍ ټپه ده.
۸. زورنه (خجنه) **بولډ**
۹. د اوازټپوالي او لوړوالي خطونه،اهنګ؛ ترنګتوک؛
۱۰. دفتنګونه چارتاکی کړ کنه (ومنه، باور وکړه) لري.
۱۱. تت اسماني رنګ يې د ښکاروندی دی.
۱۲. نرانو ته منسوبې
۱۳. څپې( سیلابونه)
  ۱. مسره ۱۰ څپې ده
  ۲. مسره ۹ څپې ده
  ۳. مسره ۱۴ څپې ده
  ٤. مسره ۹ څپې ده
  ٥. مسره ۱۰ څپې ده
  ٦. مسره ۹ څپې ده

د لا ډېرو معلوماتو له پاره د لومړي ټوک ۱۱. څېړکی و ګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹ .۸.۲.۱۱ دوېیمه ډله نیمکۍ ټپه: اې ,, ا ،،:. د لیکوال شپړ سره نیمکۍ ټپې دي چې سرلیک یې دی اه؟؟.

- ما ته له ځانه! ځیني ګرانه!؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه

- وینم په اور باندي سوزېږي؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- وسه مي نه شته څکه څم تر چرګی یمه؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځیني ګرانه!؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه

- ستا مختورن ګاونډیان مره شه؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- اوبه بانه کړي جام د زهرو درکوینه؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځیني ګرانه!؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه به چمبېل ګولونه کښت کړم؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- هره نوده به يې په اوښکو اوبه کړمه؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه

- شپې په شپبو شپبو کړم تېرې؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- چې ارامی ساعت پر تا کله راځينه؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه

- چې درته سمه توجو کړم؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- هريوه خوسيس مې له چرې نه تېره وينه؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وایم وه افغانستانه! کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اذان ښادي باندي ولاړوم؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- تولي پښتي کي د بچو ويرونه و نه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

- ما د هيلمند سيند ته کتلي؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- په خاموشی کي مو له خنګه تېرېده نه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

- پرېږده چي مړ دلته ښېږم؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- په وينو رنګ مي ګاونډيانو کړه ځمه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- واړه د ستر ګوزړو له لاسه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- راته په زړه کې يې د وينو ځلېړ کړه نه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

- سور سمندر منځ کې روان يم؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- بې نومه خاځکی کجکي وګړو کړمه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

- هر بچي خپل مور ته ناري کړي؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- د کجکي سيند نه د وينو بوی راځينه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د دفاع بچي يې حلال کړه؛ کنه
وایم وه افغانستانه! کنه
چې کال کلو پوري يې اوبه په وينو شينه؛ کنه
وایم وه افغانستانه! کنه
ما ته له ځانه! ځيني ګرانه؛ کنه
وایم وه افغانستانه! کنه

ولې به نه ژاړم مورجاني؛ کنه
وایم وه افغانستانه! کنه
ځنګي يې رنګ په رنګ له تيغه تېروو نه؛ کنه
وایم وه افغانستانه! کنه
ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
وایم وه افغانستانه! کنه

ستا د بچو سرونه يې پرې کړه؛ کنه
وایم وه افغانستانه! کنه
ګولډان تحفه يې پنجابي ته ورکوونه؛ کنه
وایم وه افغانستانه! کنه
ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
وایم وه افغانستانه! کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پرېږده چي ښې بلا و کاندي؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- نادان بچي دي د دښمن په لمسون دينه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

- ځان سره تل په ژړا ژاړم؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- د يهودي لمسی د دين ټېکهدار شونه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

- خدايه اسلام دښمن برباد کړې؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- چي په هر رنګ جامه کې وي هلاک دې شينه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تول د فردوس ټيکهداران شو؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- جوړ ټيکټونه يې په رڼا ورځې پلورينه؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه
- ما ته له ځانه! ځيني ګرانه!؛ کنه
- وايم وه افغانستانه! کنه

د ازان غونډۍ په سر، د ازان دښته، د سنګين ولسوالۍ، هېلمند
Roshan BTS site HLM۰۱۰, ۱۸/ ۰۱/ ۲۰۰۷, pm ۳: ۰۰،،
(صفی الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۲۴ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸.۲.۱۱ ۱۰ دوېیمه ډله نیمګی ټپه: اې ,, ا ، .:. د لیکوال څرګندول چې رونږوي کتنه داسې. د لیکول نیمګی ټپه ( پام ټپه، سروکه ټپه) په لاندې بڼه لوری موږ ته په لاس راکوي لکه:

۱. نیمګی لنډۍ له لنډۍ څخه رغښت مومي، نیمګی ټپه له ټپې څخه او نیمګی ټیکۍ له ټیکۍ څخه او نیمګی مصری له مصری څخه.

۲. نیمګی لنډۍ د لنډۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ نیمګی ټپه د ټپې پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ نیمګی ټیکۍ د ټیکۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی او نیمګی مصری د مصری پیلنۍ او پاینۍ مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی.

۳. تر ټول غوره بڼه د نیمګی‌یو موږ ته په پوخ کې کوي چې شپږ سره لري.

۴. څومره والی د نیمګی‌یو موږ ته په پوخ کې کوي چې اته لس دانې دي او هره یوه یې شپږ مسرې لري.

۵. زورنې یې په څلورمه، څلورمه څپې دي؛ خو ټولیز پایڅخ یا پاینۍ زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې ده او د مخنیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې تر سیوري لاندې کمزوري پاتې شوي ده. د څلورکونو څپو ټولوالې څخه یې د هرې څلورو څپو کې په څلورمه څپه زورنه ده، لومړی مسره کې په څا او ګرا، دوېیمه مسره کې په اف او نه کې راغلې دي. بل لوري ته ,, نه او کنه ،، ترنګتوکونه دي، دواړه مسرې ۹، ۹ څپېزه دي لکه د ټپې لومړی مسرې په بڼه دي خو ټولې مسرې لکه د ټپې پیلنۍ مسرې په شان ترنګتوک ساتلی شي، اه – هه (هو) داسې روغ راځي، هن ( دا دی) چې په پیلنۍ مسره کې ,, کنه،، لارغه بڼه پیستون لري او په دوېیمه مسره کې د یوه وت په اندازه شتون لري؛ کنه د وینا و ابنتي او ټینګار وییکي په توګه کارول کېږي، خو د نورو وییکو په توپیر د غونډلې په سر کې نه، بلکې په پای کې راځي. که جلا ولیکل شي کړولې وګرنه ,, جاج،، ښندي چې د ګڼې ( لکه چارټاکی کړ: کنه ,, و منه، باور و کړه، که نه، ګڼې ) یوه مانا همداسې ده او بله یې ګونډي سره برابره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. د ټپې مسرې سره سرباري، منځ باري، بېخباري په لوړ غږ ساتل کېږي، دا نو یوازې په ساز او اواز کې څېړمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبنې ډګره نور راوځي.

۶. د نیمکۍ پېیلې پېنځګوني رغنده توکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې په نیمکۍ، پام او سروکه بنه شتون لري.

۷. نیمکۍ ټپه مېچه د څپېزه او څجېزه تولوالې ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بنه او لاربشوده مخبېلکه ده، له ژبنې پلوه لږ تر لږه شپږ یا زیاتې غونډلې را اخستي، خو څپې یې له ټاکلي شمېر ۹ څخه تېرې نه دی کړی او زورنې یې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېرې نه دی کړی؛ خو دغه توکي لري. دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناترویېکي، ترویېکي، ستربل، اوستربل، پارنویېکي، بلنویېکي، اندېښنې، هېبجاني چغې، چې په دې نیمکۍ ټپې کې شتون لري او په پام کې یې هم راولو. بېلابېل ویېکي لکه هن ( دا دی، ګوندې، کاشکې، ګنې)، چک ( نه)، هدو ( هېڅ ) کنه ( ګنه، ومنه، باور وکړه، که نه، ګنې) د چارټاکي کړ په بنه، دوېیم کنه (ګوندې) ټینګار ویېکي دی.

په پیلنۍ مسره کې کنه چې یوه ترلې څپه ده له مسرې سره بېخباري شوې او یوه څپه یې ډېره کړې ورته ۱۰ څپې شوې مسره؛ او په دوېیمه کې د کسر په بنه راغلې چې ماته شوې ده او ۹ څپې مسره ده چې ترنګتوک یې په څوږ دی، او هلته په لوړ دی.

چې په رښت کې لومړۍ مسره ۱۰ څپې کېږي او په لارغه ( پیوستون، مکث، مکثه) کېږي، بل لوري ته لارغه، وت او کسر درې واړه په کې راغلي، چې کسر ( ماتیدنه، درز، برخه، ډله، فراکسیون ,, په ګوند کی دننه کوچنۍ ډله،، Fraction, Deficit, Detraction, (Depreciation او مطلع ( Opening) وت ( واټن، فاصله pace, Interval, Distance, (Break, Ravine, Interstice, Chasm, Hiatus ته وایو، کنه اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي؛ پایني ۲ مسرې چې سروکۍ دی ۱۹ څپې، د نیمکۍ کسر (مطلع) یا یې وګنو چې لومړی یوه کسر ( مطلع) لري او ورپسې یې هره ټپه بندونه دي، کسر یې له دوې لنډو مسرو څخه جوړ دی، چې بیا د پښبله یې ترون له مخې له هر بند سره ځای، ځای یا تول تکرارېږي.

پورتنۍ دوې مسرې چې له ټپې ورسته راشي یا بېخباري شي نه سرباري نو غوره سپینې ته راوځي.

دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی چې دواړه پیلنۍ مسرې دوې تکراري لړ والې مسرې دي چې دواړه یې یوه لړ (ردیف)دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټول برابرې نه دي خو د پښتو خوږ وګړنې پېيله ده او خوږ غږ لري؛ تر ټولو همدا لړونه او بېخباري ویيکی د هرې ټپې له دواړو مسرو څخه ورسته تکرارېږي( منځباري او بېخباري کېږي).

لومړی بند یا رښته نیمکی ټپه شپږ سره لري؛ لومړی سر یې د ټپې د سره پیلنۍ مسره ده ۱+۹ څپې، دوېیمه مسره د نیمکی منځ باري ده ۹ څپې، درېیمه مسره د ټپې دوېیمه مسره ده ۱۳ +۱ څپې، څلورمه او شپږمه مسره بیا همغه دوېیمه مسره ده ۹ څپې د نیمکۍ بېخباري تشه یا خلاصه یا مطلع مسره ده او پينځمه مسره ۹+ ۱ څپې ده پارنویکي په بڼه راغلی. چې نومړې نیمکی ټپه شپږ لارغي لري، ۶۱ څپې ده، چې په ټوله کې ۱۸ دانې شپږ سره نیمکی ټپې (۱۸*۶۱+۱۹ = ۱۰۹۸ +۱۹= ۱۱۱۷) څپې کېږي.

د ورډ پوستکالي (New Microsoft Word Documents) له پامه نوموړې نیمکی ټپه، په ۵ چوپړو (Pages) کې ده، ۶۳۲ ویکي (Words) لري، ۲۶۹۱ دانې یې وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نیونه ,, د ابېڅو، اونورو، پرانټ،، ,,( no Spaces ،،Characters )، ۳۵۹۳ دانې منشوره یې له وت سره دي ,,( with Spaces ،،Characters )، ۱۱۰ پراګرافه (Paragraphs) دي او ۲۵۳ لینو (lines) کې کښل شوي دي له لیکي هرېی، لاندنی یادونې او پاینی یادونې سره، سره ( Include Textbox, Footnotes and Endnotes).

۸. د رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني دی ( Color model: RGB, Red:۱۵۷, Green: ۱۹۵, Blue:۲۳۰) دی. ده لښتیلیک (جدول) ۱ .۲ .۱ پينځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بیلا بیلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۲ ګڼه دی.

۹. د نیمکی پنځه له هغې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ، او مصری کېږي چې منځه ( هسته) وي، چې ځانګړې ځانګړنې یې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او یا مصری ته ورته وي، د نیمکۍ نومړې منځه موږ په خپل رنګ یې چې د نیمکۍ رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني دی، په تت اسماني یې ښکو او چې سرباري، یا بېخباري یا تکراري مسرې یې هم تت اسماني رنګ لري، د دې له پاره تر ډېره پورې دا سرک موږ ته په لاس راکوي چې د نیمکی پنځې منځه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ګډولې بنه يا اونګ بنه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې يا لنډۍ ته منسوبې وي، يا ټپې ته منسوبې وي، يا ټيکۍ ته منسوبې وي او يا مصرۍ ته منسوبي وي نو د همغو منسوبو شويو رنګ باندې پاتې کېږي؛ له دې څخه يې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا نيمکۍ؛ نيمکۍ لنډۍ ده، که نيمکۍ ټپه ده، که نيمکۍ ټيکۍ ده او که نيمکۍ مصرۍ ده. له دې سره سم دا نيمکۍ ټپه ده.

۱۰. د نيمکۍ ټپې پېيلن ليکوال صفی الله فردوس خان ټولې په ګډولې بنه يا اونګ بنه جوړې کړې ( مصنوعي: ديسي، شلخي، ګډول، ترکيبي، يوه ځای کول: فيصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو يا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی.

انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګۍ، چمبړ: مرکب) يا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلي دي؛ هره يوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې نيمکۍ ټپې سکالو، ځانګړنې، نخښې او بېلوالی يې ځانته غوره کړی دی.

او هره يوه مسره يې په ليکه کړې يا په ليکه برابرول (Alignment) شوي، او د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لري، له ټپې يې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېيلو څخه روغې ګډوله شوي نه دي. دا به داسې ښکارېږي چې پنځي , طبيعي، دي او مصنوعي, ديسي او شلخي، نه دي.

۱۱. د دې نيمکۍ ټپې پېيلن د پښتو ژبې لېوال دی، ځيک تن دی، د لغمان يوه ښه نيک نومه وګړی دی چې ډېری شعرونه يې په پښتو ادب پنځي , طبيعي، او يوه دمي پوښلي دي؛ د زهن د نيمکۍ ټپې زېږندې يې له ټاټوبي سره لوړه لېوالتيا حس، ټاټوبي ته رښتنيتوب، سوسيسی رېښې پرې کولو، خپلو ساتونکو روزنه او پالنه، زېمه، کهول او پښت ټاټوبي د سرغوندويتوب کېدلو، ټاټوبي ګالنه، د وګړو بويه او پښتونواله پاتې شونې پرېږ دي. بل لورې ته دا د دې له پاره نه بوروم چې ځانمني ستاين شي، په ټوله کې د دې له پاره ده چې د نورو پېيلنو د پېيلو له پاره ترې په لرليد ګټنې واخستل شي.

۱۲. د دې نيمکۍ ټپې د زوکړې موده لکه څنګه چې زه وايم داسې ده:

,, د ازان غونډۍ په سر، د موسا کلا، کجکي پای، سنګين ولسوالی، هيلمند ولايت کې ماسپښين ۳:۰۰، د ۲۰۰۷/۱/۱۸ لېږدي کې مې کښلې وې ،، ( صفی الله ، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۲۴ چوپړی )

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې نیمکۍ ټپې چې سرلیک یې اه؟؟ ده؛ داسې ده، بویه چې د تالبانو په غوښتنه موسا کلا، سنګین، کجکي، ناوې او نادالي د روښن غوړکي ټولوالي ښادو د ځای پرځای کولو او کټنې اخستلو له پاره غوښتي وو، تر څلوېښتو ورځو پورې هملته وو، یوه وار د موسی کلا، سنګین او کجکي ګډې ولسوالۍ کرښې څخه چې ازان غونډۍ ورته وایي. تر ډېره یې د سنګین ولسوالی پای بولي، د خپل کړنې (کار) له پاره د ملا باکي غونډۍ موسا کلا څخه لاړلو د ازان غونډۍ ته چې هلته مو ایچ ایل ایم ټکی لسمه ګنه ۶۰ متره ښادې سایت وو؛

الته مې یوه ضیاوالله ساپي نومي تخنیکي ماهر راته و ویل، راځه اېنجینېر صیب داسې تالب درته وښیمه چې ۱۵ تنه د افغانستان ملي اوردو ساتونکي یې په خپله چاړه حلال کړي دي؛ دغلته یې په تېرو باندۍ وینې اوس هم شته، ویډیو به یې هم درته وښایمه؛ راغلی دی وایي موږ سره پاتې شئ د ماذیګر چای به وڅښی او شپه به هم و کوئ، حاجي فیض محمد یې نوم دی.

ما ورته و ویل ضیا والله: ورته و ویه کار مو ډېر دی، بیا به و ګورو، و یې لېږه، خو شپه به ډاکټر ایمل دي کره و کړو د هغه په کلینیک کې چې د ازان ټیټنګ نه هغې لوري دی.

وې ویل یې سمه ده. ما ورته و ویل، چې ا.م.ا ساتونکي یې ولې وژلي؟ هغه راته ویل دا ټول ستاسو د ځای ول او لامبووهنکي وو، دوی دوې اختره کجکي ولسوالۍ بیس کې تېر کړي وو، درییم اختر ته یې هم رخست نه ورکوو، اېنګلېسان په کتار کې لاړه او تل او راتلل. دوی خو ترې بېل وو افغانان وو کنه.

دوی یې نه پرېښو دل ځان په سې، سل یا دوې سوه تنه وو، هغه ډډه کې په غره کې پټ شول اېنګلېسان او تالبانو ټول چې دوی پلی مزل کوو، خپلو ښتو کې وو، بې وسلو هم وو، له خپلې پوځې ځای څخه تښتېدل، تالبانو و نیول او دغو ۱۵ تنو لامبو هم زده وه چې د هیلمند له سین څخه دې غاړې را تېر شول، د ده کور ته یې پنا را وړه، هغه ټول هغوی الته د سین په غاړه کې ترې سرونه پرې کړه، او ویډیو ګانې یې پاکستان ته ولېږلې. ده دلته له دوی ۱۵ تنو څخه په خپلې چړې سرونه پرې کړه او ویډیو ګانې ترې و باستلې او پاکستان ته یې و لېږلې چې بیا د تن پر سر ورته وجوره ورکړي؛ چې په ثبوت ورته څه ورېاندې نه کړي، هغه لږې پیسې چې ور کوي هغه هم بیا نه ورکوي او باوري ملګري یې نه ګڼي کنه.

زه ترې ښادې ته پورته شوم او د ښادې ۳۰ متري لوړې ناسته کې یې کېښناستم او هغه لور دغه لور مې کتلې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درې واړو ولسوالۍ یو، هېلمند د غلي سين نداره مې کوله او دا نيمکۍ ټپې مې له زهن څخه تېرې شوې؛ په غلي غږ مې و ويلې او مغذو مې و بوږولې. دا د دغه چاپېريال او هواوېچې د تاثير پنځې زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې( تخليق،) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

۱۳. د ژور پام کونکي په بنه زه د ليک دود نخښې لکه: د نيمکۍ لنډۍ، نيمکۍ ټپې، نيمکۍ ټيکۍ او نيمکۍ مصرۍ په هره مسره کې د چپه پېښ ,, ،: Comma کامه، دغه (،) نښه چې جملې او کلمې سره بېلوې، ويرګول. ،،؛ ندايه ,, !Exclamation : چيغه، کريږه، د تعجب نه ډکه چيغه. که !! شي دوې برابره او که درې !!! شي درې برابره لوړه چيغه ،،؛ پوښتنې نخښه ,, ؟ :Question Mark تپوس نخښه: پلټنه يا اعتراض نخښه: شك نخښه: پيشنهاد نخښه: پوښتل نخښه، تپوس کول نخښه: شك کول نخښه: مناقشه کول نخښه، غوښتنې نخښه، وړانديز نخښه. ،،؛ انډره ,, (:) colon: شارحې نخښه، د لوېي کولې يوه برخه. ،،؛ ټکی لرونکې کامه ,, (؛)Semicolon : بېلوونکې نخښه، هغه نخښه چې د جملې فقرې سره جلاکوي. ،،؛ شمېره ,, (#) Number: ګڼه، عدد، ګڼ ( = حساب )،،؛ را اخستنه ,, (،، ,,) Right left : double quotation mark را اخستنه، نقل، اقتباس. ،،؛ دوې لېندۍ ,, ( ) Superscipt : right left parenthesis د پاسه ليکل، لکه د نامه، ادرس يا نور، اخځوک، معترضه جمله، دوه ليندۍ، قوسونه. ،،؛ د اتصال ,, - hyphen minus: ګډکېدو نخښه، يوه ځای کېدو نخښه. ،، او ټکی ,, . full stop: پنډول، پرېږول. ډك، بشپړ، مفصل. اکثر حد، اعظمي حد. په بشپړه توګه. ،، کارونه اړينه بولم او په خپل ليکي کې کښم چې د سرليک، غبرګغونډلو، پارنويکو، د هرې مسرې ښکاره کېدل څرګند کړي او بېلوالی يې سپينې ته راوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸.۲.۱۱. ۱۱ درېیمه ډله نیمکۍ ټیکۍ:.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپینې ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله، د څو سره نیمکۍ ټیکۍ ( سروکه ټیکۍ، پام ټیکۍ) نوم باندې نوموم، چې دې پښتو درې، څلور، پېنځه، شپږ، اووه، اته، نهه او لس سره پېیله له درې، څلور، پېنځه، شپږ، اووه، اته، نهه او لس سره نیمک ( سروکې، پام) ټیک، څو سره رټ رمټ نیمکۍ یا څو سره سم برابر پام او سورکه سره تشبې کوم، چې ورته نیمکۍ ټیکۍ وایې. په دغه ډول څېرې لرې: درې سره نیمکۍ ټیکۍ، څلور سره نیمکۍ ټیکۍ، پېنځه سره نیمکۍ ټیکۍ، شپږ سره نیمکۍ ټیکۍ، اووه سره نیمکۍ ټیکۍ، اته سره نیمکۍ ټیکۍ، نهه سره نیمکۍ ټیکۍ او لس سره نیمکۍ ټیکۍ ... په بنه مندل کېږي. د ټولو پام د ناوې ناوېتوب درناوې ته چې په همغه شېبو او چارپېریال کې ویل کېږي نوموم یې. ټولې ځنګېړنې یې د ښادۍ د دې شېبو سره ورته وي. هر څه د ناوې برابر وي سم برابر، یوازې د ناوې ستاینه په کې کوي همدغه چارپېریال سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لرې. لکه:

۱:- ناوې د ناوېتوب درناوې په کې وي، ۲:- د ټولو پام د ناوې سپېڅلتیا ته اړ وي، ۳:- رټې رمټې وي، ۴:- خوبنې ډېره وي، ۵:- ډېر خوږ تاثیر لرې، ۶:- ډېر پام د خلکو ورته اوړي، ۷:- تر ډېره ستایل کېږي، ۸:- تاثیر یې ټینګ وي، ۹:- مېرمنې یې لرېې وایې، ۱۰:- په ودونو کې لرېې اورول کېږي او یادول کېږي، ۱۱:- د پال په بڼه یې پېغلې وایې، ۱۲. له نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه او نیمکۍ مصرۍ یې کچه زیاته ده ځکه مېرمنې سر او کار کوراکور لورالور له ښادۍ‌یو، ودونو او محفلونو سره لرې، ۱۳:- په ګډه یې وایې سره، ۱۴:- پېغلو لاسونه سره یوه تر بل ورکړې وي ناوې یې په منځ کې وي، د لاسو نو په ټال سره په خوږو اوزو ناوې په ټال زنګوي، ۱۵:- ناوې پرې ډېره خوشحالېږي، ۱۶:- د ناوې ستاینه په کې وي.

تاسو ته دا همداسې پرېږدم، په همدې بڼه یې پوښ کې کوم.

هرې نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه او نیمکۍ مصرۍ چې دغه پورته ځانګېړنې و درلودلې نو هغو ته نیمکۍ ټیکۍ وایې. تاسو نیمکۍ لنډۍ‌یو، نیمکۍ ټپو، نیمکۍ ټیکۍ‌یو او نیمکۍ مصرۍ‌یو ته ښه غوږ و نیسئ!! پام ورته و کړئ! نو بیا یې پېژئ چې دا نیمکۍ ټیکۍ دي؛ چې سمې برابر وي، د ناوې ستاینه په کې شوې وي او د واده د شپې چارپېریال زوکړې خصوصیات لرې. نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه او نیمکۍ مصرۍ دا پورته ۱۶ ځانګېړنې نه لرې بېلوالی یې پرهمدې کې دی.

لکه دا لاندې زما نیمکۍ ټیکۍ دي چې په کابل کې مې په ۱۳۸۵/۰۵/۲۳ لېږدي کال کې کښلې وې.

دا زما خپلې نیمکۍ ټیکۍ دي، زه نر یم، خو ډېرو مېږو، مېرمنو به ویلې وې او دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲.۸.۲.۱۱ درېیمه ډله نیمکۍ ټیکۍ: اې ,, ا ،،:. د لیکوال اته سره نیمکۍ ټیکۍ دي چې سرلیک یې دی ,, ناوې،،

- بسم الله وایئ پرې کلونه و پاشئ یه
- ناوې جوړوئ یې ناوې یه
- د لالي خنک ته په رو، رو یې راولئ یه
- ناوې جوړوئ یې ناوې یه

- ناوې د ستا خاطر له پاره
- ناوې جوړوئ یې ناوې یه
- د هر یوه بڼ بوټي د نیسي لسپانی یه
- ناوې جوړوئ یې ناوې یه
- بسم الله وایئ پرې کلونه و پاشئ یه
- ناوې جوړوئ یې ناوې یه
- د لالي خنک ته په رو، رو یې راولئ یه
- ناوې جوړوئ یې ناوې یه

- ناوې لالی د لاس نه نیسه
- ناوې جوړوئ یې ناوې یه
- چې ننواتې ستا د زړه کور ته درکئ یه
- ناوې جوړوئ یې ناوې یه
- بسم الله وایئ پرې کلونه و پاشئ یه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ناوی جوړوئ یې ناوی یه
- د لالي خنګ ته په رو، رو یې راولئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه

- ناوی لالي سره جوړه شه
- ناوی جوړوی یې ناوی یه
- چې سپېلني لوګی کوي نظر نه شئ یه
- ناوی جوړوی یې ناوی یه
- بسم الله وایئ پرې ګلونه و پاشئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه
- د لالي خنګ ته په رو، رو یې راولئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه

- ناوی رو، رو کدم اخله
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه
- د ولس پېغلې په کتار درسره ځئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه
- بسم الله وایئ پرې ګلونه و پاشئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه
- د لالي خنګ ته په رو، رو یې راولئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پېغلو نمبر باندې پې ښکل کړئ
- ناوی جوړوئ پې ناوی یه
- د پیغمبر اومتی ډېره نازوئ یه
- ناوی جوړوئ پې ناوی یه
- د لالي څنګ ته په رو، رو پې راولئ یه
- ناوی جوړوئ پې ناوی یه

- پېغالو په خپل منځ کې اخته شئ
- ناوی جوړ وئ پې ناوی یه
- کړی دیندکونه چې ملګرې واده وئ یه
- ناوی جوړوئ پې ناوی یه
- بسم الله وايئ پرې کلونه و پاشئ یه
- ناوی جوړوئ پې ناوی یه
- د لالي څنګ ته په رو، رو پې راولئ یه
- ناوی جوړوئ پې ناوی یه

- ناوی ښایسته پې زموږ په زړه پې
- ناوی جوړ وئ پې ناوی یه
- ژړا، ژړا کې هسې مونږ ژړا کوئ
- ناوی جوړوئ پې ناوی یه
- بسم الله وايئ پرې کلونه و پاشئ یه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ناوی جوړوئ یې ناوی یه
- د لالي ښکنک ته په رو، رو یې راولئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه

- ناوی دنیا درله فردوس شه
- ناوی جوړ وئ یې ناوی یه
- دوې ورځې ژوند دی په خوښۍ یې تېروئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه
- بسم الله وایئ پرې کلونه و پاشئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه
- د لالي ښکنک ته په رو، رو یې راولئ یه
- ناوی جوړوئ یې ناوی یه

Kabul, K.P.U Apricots garden next to lwya jarga tent sniper screen fence in my study place On ۱۳۸۵ / ۰۵ / ۲۳, ٤:۰۰ Am.

کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون د زردالو باغ کې د لویې جرګې خیمې شنې جالۍ ترسېرمه، زما د مطالعې ځای کې،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۳۳۸چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳ .۸.۲.۱۱ د نیمکی ټیکی ( پام ټیکی، سروکه ټیکی) تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، دوی د یوه توري یا سکالو تشریح کول)

د وی یا ویکي له پامه نیمکی ټیکی هغې څو سرې پېیلې ته وایې چې د څو سره ټیک سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، څرنګوالی او څرګندوالی لرې.
په اصطلاح کې هغه وګړنی، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پرله پسې توبه ( تکراري، بیابیا کولې، وارواړ ترلې، ګرداني) پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ی او ...،، څخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي؛ له لنډۍ، ټپې، ټیکی او مصری څخه ورسته. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلجیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنی ټیکی ایزې د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنویکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې یا کلمې دې چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږوي. په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایې چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته راځي او لکه یوستووی اواز یوه وار پتلیز له خولې راوځي؛ د یوه غبرګغږ لومړی ټوک یوه خپلواک او دوېیم ټوک یې یوه نیم واک اواز وي؛ کله زورکی واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکی واله یې یا درنه یې ,,ی ،، او داسې نور.

دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناترویکي، ترویکي، ستربل، اوستربل، پارنویکي، بلنویکي، اندېښني، هیېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، کنه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای.. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، فردوس خانه!، لغمانیه!، یه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د نیمکی ټیکی توکي دي، چې کله هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېرای وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښېلي کلمې یا غونډلې لري لري. خو ډېرې وخت د لومړۍ، دوېیمې دریېمې، څلورمې او پېنځمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. تر ډېره ( هره یوه نه) پښېلې باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، ه یا هې ،، چې ورته وره ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,ه، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او څانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، نیمکۍ ټیکۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابې (تابع) ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. او دریېمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې نیمکۍ ټیکۍ د لومړۍ او دوېیمې مسرې خلورمه او اتمه څپه او د دریمې مسرې ( پاینۍ مسرې) څلورمه، اتمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېرې وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا نیمکۍ ټیکۍ مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې سره، سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمې څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، او یوه دېرشتمې څپې خوږغږي د نیمکۍ ټیکۍ مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ترځنګه د نیمکۍ ټیکۍ یوه بل رغنده ټوک ګڼل کېږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسکې پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي.

دغه پاینې ټوکونه په یوه پېر کې له دغو دریوارو څپو څخه هره یوه د ور مخکې وروستۍ نهمې، اتلسمې، یوه دېرشتمې (د لس سره نیمکۍ ټیکۍ یې نهمې، اتلسمې، یوه دېرشتمې، څلوېښتمې، دوې شپېتمې، پېنځه اویاومې او څلور اتیاومې ) زورنې څپې له یوه څه اغېز سره دوی ته یوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفونې (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمې توک کې دی شي.
غوره سته د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نومړې مسره د نیمکۍ ټیکۍ رغښت پنځ کوي، د نیمکۍ ټیکۍ غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره نیمکۍ هغه دي چې د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکې نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې و لري؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دیفتنګونه او پارنویکي سره. خو له ایزې، انګۍ، پتۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شپې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پیبلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پینځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هایکویې، مونډۍ ( سر پرېکړې)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلیزۍ، ناپیبلۍ او سلسلۍ.

دې ټولو پیبلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالۍ و لرې، د دې له پاره چې دا ټول په ډېرې بنه له درې مسرو څخه رغښت مونډلۍ دی او زوکړه شوې، ان له ساده درې غونډېله ایزه وینا او یادونې سره. نومړو ټولو ته پام وې، پرې برلاسې وې، رټ بېلوالۍ یا ګرندۍ فرق بې و کولۍ شې، ورته ګټلې وې او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولۍ و شې.

د نیمکۍ ټیکۍ د څپې شمېر بېلګه داسې ده چې درې سره لرې ۳۱ څپېزې وې او که په اوږدې مسرې باندې شې بیا نو ۳۵ څپېزې وې؛ څلور سره نیمکۍ ټیکۍ ۴۴ څپېزې وې؛ پینځه سره نیمکۍ ټیکۍ ۵۳ څپېزې وې او که په اوږدې مسرې باندې شې بیا نو ۵۷ څپېزې وې؛ شپږ سره نیمکۍ ټیکۍ ۶۲ څپېزې وې؛ اووه سرې نیمکۍ ټیکۍ ۷۱ څپېزې او که په اوږدې مسرې باندې شې بیا نو ۷۵ څپېزې وې؛ اته سره نیمکۍ ټیکۍ ۸۴ څپېزې وې؛ نهه سرې نیمکۍ ټیکۍ بې ۹۳ څپېزې وې او که په اوږدې مسرې باندې شې بیا نو ۹۷ څپېزې وې ( ۴ څپې ډېرېرې او که کوشنۍ مسرې باندې شې بیا ۴ څپې ترې کمېږې) او لس سره نیمکۍ ټیکۍ ۱۰۶ څپېزې وې.

چې تر ټولو غوره بې څلور سره نیمکۍ ټیکۍ ۴۴ څپېزې رانښلولې لړۍ لرې او دولس دانې و ویل شې خوند رنګ، د نوې وخت او هندارو په ښکاروندو په ستېه ولاړ راځې؛ ډېرې ښې بې اته سره نیمکۍ ټیکۍ ۸۴ څپېزې وې چې اووه دانې و ویل شې؛ ښې به بیا درې سرې نیمکۍ ټیکۍ دې چې دولس دانې یا شپاړس و ویل شې؛ لړې ښې بیا لس سره نیمکۍ ټیکۍ یا لسیزونې نیمکۍ ټیکۍ دې چې پینځه دانې و ویل شې ښې راځې، دا بیا له څلورو دانو شپږ سره نیمکۍ ټیکۍ سره خوا په خوا ځای نیسې، پرته له غبرګغبرونو او پارونیکو... . چې د څپو په ګټه کې منل شوی ډېروالۍ راولې او د منلو وړ پیبلې رښت دی.

د لیکوال ( زما ) نیمکۍ ټیکۍ څپیزه ( څپه، سېلاب، هجا ,, سیلیبل Syllable،، د ابېڅو شمېرلو) - څجیزه ( زورنه، څج، اکسنټ ,, لفظ، د موسیقي نوټ: د څج نښه: د تورې په سرنښه , چې د تلفظ د جګوالي او ټیتوالي زور، او ږدوالۍ، کیفیت ښیې،: ټینګه , لهجه ،: تاکید: بیلوونکی نښه: د وینا , ځانګړې، خاص او بېل ، ډول. :Accent, Morphemel ،،) جوړښت په دې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴ .۸.۲.۱۱ د نیمکۍ ټیکۍ څپېزې او زورنې

U-**U**UUU-**U**UUU

U-**U**UUU-**U**UUU

U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

U-**U**UUU-**U**UUU

U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

U-**U**UUU-**U**UUU

U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

U-**U**UUU-**U**UUU

د اته سره نیمکۍ ټیکۍ څپېز او زورنې جوړښت بڼه

نا - وی - د - **ستا** + خا - طر - له - **پا** + ره

نا - وی - جو - **ړه** + وئ - يې - نا - **وی** + يه

د - هر - یو - **بڼ** + بو - ټي - د - **ني** + سې - لس - پا - **ڼی** + يه

نا - وی - جو - **ړه** + وئ - يې - نا - **وی** + يه

بس - مېل - له - **وا** + يئ - پرې - ګو - **لو** + نه - و - پا - **شئ** + يه

نا - وی - جو - **ړه** + وئ - يې - نا - **وی** + يه

د - لا - لي - **خنک** + ته - په - رو - **رو** + يې - را — و - **لئ** + يه

نا - وی - جو - **ړه** + وئ - يې - نا - **وی** + يه

د اته سره نیمکۍ ټیکۍ څپېز او زورنې جوړښت بڼه په ابېڅو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. ۲- ۳- ۴- ۵- ۶- ۷- ۸- ۹

۱۰. ۱۱. ۱۲- ۱۳. ۱۴- ۱۵. ۱۶. ۱۷. ۱۸

۱۹-۲۰. ۲۱- ۲۲. ۲۳- ۲۴- ۲۵- ۲۶- ۲۷- ۲۸- ۲۹- ۳۰- ۳۱

۳۲- ۳۳- ۳۴- ۳۵. ۳۶- ۳۷. ۳۸. ۳۹. ۴۰

۴۱. ۴۲- ۴۳- ۴۴. ۴۵- ۴۶- ۴۷- ۴۸- ۴۹- ۵۰- ۵۱- ۵۲. ۵۳

۵۴- ۵۵. ۵۶- ۵۷. ۵۸- ۵۹. ۶۰. ۶۱- ۶۲

۶۳- ۶۴. ۶۵- ۶۶- ۶۷- ۶۸- ۶۹- ۷۰- ۷۱- ۷۲- ۷۳- ۷۴- ۷۵

۷۶. ۷۷- ۷۸. ۷۹- ۸۰. ۸۱- ۸۲. ۸۳- ۸۴

د اته سره نیمکۍ ټیکۍ څپېز او زورني جوړښت بڼه په ګڼه( شمېرو، عددونو).

### ۱۱.۲.۸.۱۵ د نیمکۍ ټیکۍ ځمککچپوهني (هندسي) رغښت

که پښتو په هره لهجه و ویل شي خو د سندرو روح او د افکارو کالب یې یوه دی، د یوه احساساتو او اهنګونو ښکاردويي کوي. هندسي رغښت یې داسې دی:

الف.

________________
________________
__________________________
________________
__________________________
________________
__________________________
________________

ب. _____ _____ ____________ _____ _____ ____________ _____ _____

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱.۲.۸.۱۵. ۱ د دې نیمکی ټیکی سپړنه

د دې نیمکی ټیکی سپړنه

لومړۍ مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده.
دوېیمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده.
درېیمه مسره ۰+۱۳+ = ۱۳ څپې ده.
څلورمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده.
پینځمه مسره ۰+۱۳+ = ۱۳ څپې ده.
شپږمه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده.
اووه مه مسره ۰+۱۳+ = ۱۳ څپې.
اته مه مسره ۰+۹+ ۰ = ۹ څپې ده.

دلته ټوله نیمکۍ ټیکی ۸۴ څپې ده، دا پنځې اته سره نیمکۍ ټیکی غبرګړونه یا دیفتنګونه نه لري.

۱. لومړۍ مسره
۲. دوېیمه مسره
۳. درېیمه مسره
۴. څلورمه مسره
۵. پینځمه مسره
۶. شپږمه مسره
۷. اووه مه مسره
۸. اته مه مسره
۹. ۲. ۳. ۴. ۵. ۶. ۷. او ۸. یوه نیمکۍ ټیکۍ ده
۱۰. زورنه (خجنه) **بولډ** شوي
۱۱. دفتنګونه نه لري.
۱۲. تت اسماني رنګ یې د ښکاروندی دی.
۱۳. څپې( سیلابونه)
۱. مسره ۹ څپې ده
۲. مسره ۹ څپې ده
۳. مسره ۱۳ څپې ده
۴. مسره ۹ څپې ده
۵. مسره ۱۳ څپې ده
۶. مسره ۹ څپې ده
۷. مسره ۱۳ څپې ده
۸. مسره ۹ څپې ده
۱۴. د اوازتیوالی او لوړوالی خطونه، اهنګ؛ترنګتوک؛
۱۵. ښځو ته منسوبې (اړوند)




د لا ډېرو معلوماتو له پاره د لومړي ټوک ۱۱. څېرکی و ګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶ .۸.۲.۱۱ څلورمه ډله نیمکۍ مصرۍ:.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپېنې ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله د څو سره یا څو مخه نیمکۍ مصرۍ نوم باندې نوموم؛ چې دې پښتو پینځه او شپږ سره پېیله له پینځه سره او شپږ سره نیمکۍ مصرۍ، مصرۍ توري او نیمکۍ مصرۍ سره ورته ډېرې ځانګړې ځانګېړنې لري چې ورته نیمکۍ مصرۍ وایي. په دغه ډول څېړې لري، درې سره نیمکۍ مصرۍ، څلور سره نیمکۍ مصرۍ، پینځه سره نیمکۍ مصرۍ، شپږ سره نیمکۍ مصرۍ، اووه سره نیمکۍ مصرۍ، اته سره نیمکۍ مصرۍ، نهه سره نیمکۍ مصرۍ او لس سره نیمکۍ مصرۍ... . په بنه مندل کېږي. او نیمکۍ مصرۍ ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې داسې دي.لکه:

۱:- ډېرې ښایسته وي، ۲:- ښه نادره توازن لري. (چې لومړی د لاسټي برخه یې لنډه او دوېیمه برخه یې چې تېره وي اوږده، د ثقل مرکز یې د مصرۍ دواړو مسرو ته ورته وي.)، ۳:- ډېر ژر تاثیر کوي، ۴:- انسان په یوه وار له منځه وړي، ۵:- یوه وار یې سرې ته بس دی، ۶:- بېلابېلې بڼې لري، ۷:- درې خواوې یې سرې پرې کوي، ۸:- په پام او ناپامۍ کې انسان نه کرېکې باسي، ۹:- ډېرې لرغونې دي، ۱۰:- لرغونې اندازه کړل شوي، ۱۱:- لرغونې څېړل شوي، ۱۲:- د مصر هرمو غوندې جوړونکی یې معلوم نه دی، ۱۳:- لکه هرم پوره برابر شکل لري چې د الله کوم مخلوق رغولې دي، ۱۵:- زوروړې دي، ۱۶:- په هر ځای کې ترې ګټه اخیستل کېږي، ۱۷:- د نندارو شیان دي، ۱۸:- وهم لري، ۱۹:- زور دی، ۲۰:- په مینه ساتل کېږي، ۲۱:- تل انسان سره وي، ۲۲:- مکارې وي لکه لنډې مصرۍ تورې، ۲۳:- د مېرمنو د مستۍ او د سړو د سرلوړی توکې دي، ۲۴:- درندې دي، ۲۵:- سختې دي، ۲۶:- جوړول یې ګران دي، ۲۷:- ډېر ارزښت لري، ۲۸:- نندار چیانو ته یوه ابلاغ وي، ۲۹:- مینه ناکې وي، انسان مینه پرې راځي، ۳۰:- په ډېره باریکۍ او مینه جوړول کېږي، ۳۱:- په خپل ځای کې کارول کېږي، ۳۲:- ډېرې اوږدې نه دي غېږې نیول ورسره سړی سترې کوي، په نیمکه بنه. ۳۳:- د میسو اونګ، وسپنې کړولې، د سروزورکړولې، د سپین زرو اونګ او لرګنې بنه اصلي او شلخي جوړېږي.

تاسو ته دا همداسې پرېږدم، په همدې بنه یې پوښ کې کوم.

هرې نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه او نیمکۍ ټیکۍ چې دغه پورته ځانګېړنې و درلودلې نو هغو ته نیمکۍ مصرۍ وایي. تاسو نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه او نیمکۍ ټیکۍ او نیمکۍ مصرۍ ته ښه غوږ و نیسئ!!؟ پام ورته و کړئ!؟ نو بیا یې پېژنۍ چې دا نیمکۍ مصرۍ دي؛ چې له مصرۍ سکالو سره برابرې وي او دغه خصوصیات لري. نیمکۍ لنډۍ، نیمکۍ ټپه او نیمکۍ ټیکۍ دا پورته ۳۲ ځانګېړنې نه لري بېلوالی یې پرهمدې کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱. ۲. ۸. ۱۷ څلورمه ډله نیمکۍ مصرۍ: اې ,, ا ،،:. د لیکوال شپږ سره ( شپږ مخه یا شپږ مسرېزه، شپږ مسرې لرونکې)، نیمکۍ مصرۍ دي چې سرلیک یې دی ,, نیمکۍ،،**

- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه

- خولګۍ ورځه خلک پوهېږي
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
- سینه، سینه باندې مې مه کوه خوبونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه

- سترګې مې سترګوته نږدې کړه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
- بیا مې څنګلو ځینې واړوه لاسونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- شونډې مې غاښ باندې سورې کړه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- چې ځپله ژبه باندې خپلې وینې څکمه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- ملګرې ما دې بېړۍ وان کړه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- د اکلیاټوریس نوکې لاندې، لاندې ځمه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- الله دې زما کړې زما یاره
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- ورځ کې پینځه ځله به زه غوسل کومه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- جانانه ښځو کې زه نر شوم
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- د هر شروار ننه توزې زه ورته کومه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- په خپلې ژمنې ټینګار و کړه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- ولس جرګې به ننه واتې درلېږمه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

- ربه له غیبو مې ثواب کړې
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- هغې دنیا کې مجردانو د صف شومه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې ځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ربه هغې دنیا مې خیر کړې
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
- بې پته یار مې د یهودو نوکر کړمه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه

- فردوسه! ځان سره مې ځان کړه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
- زما تټر کې جوړ د وینو ځلیر شونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه
- په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
- بیا دې شونډې راله راکړه چې څمه

کابل، د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ، دوییمه کوټه E۲۱٤، ۰٤:٤۰ pm، ۰۸ / ۰۱ / ۱۳۸۵،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۵۸ چوپړی )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۸ .۸.۲.۱۱ د نیمکۍ مصرۍ ( پام مصرۍ، سروکه مصرۍ) تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، د دوۍ د یوه توري یا سکالو تشریح کول)

د وۍ یا ویکیي له پامه نیمکۍ مصرۍ هغې څو سرې پیلې ته وایې چې د څو سره مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګړنې، څرنګوالۍ او څرګندوالۍ لرې.
او په اصطلاح کې هغه وګړنۍ، پیاوړې، غښتلې، هښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پرله پسې توبه ( تکراري، بیابیا کولې، وارواترلې، ګرداني) پیيله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ړ، ڼ، ۍ او ... ،، ښخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړې دي؛ له لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ ښخه ورسته؛ پښت یې هم کولۍ شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلجیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلۍ شي.

د کوشنۍ نیمکۍ مصرۍ د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دۍ. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې یا کلمې دي چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږوي. په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغبرونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایې چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته راځي او لکه یوستووۍ اواز یوه وار پتلیز له خولې راوزې د یوه غبرګغبر لومړۍ توک یوه خپلواک او دوېیم توک یې یوه نیم واک اواز وي، کله زورکۍ واله یې یا نرمه ,,ۍ،، او زرکۍ واله یې یا درنه یې ,,ۍ ،، او داسې نور. دیفتنګونه ,غبرګغبرونه، ناتروییکې، ترویيکې، ستربل، اوستربل، پارنوییکې، بلنوییکې، اندېښنې، هیبجاني چغې، لکه: الله وۍ!، وۍ، او، نو وۍ!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، کنه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای، نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، فردوس خانه!، لغمانیه!، یه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، ښنګه، ولې...)، نومرې تول د نیمکۍ مصرۍ توکي دي، چې کله د هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېرۍ وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېروالۍ راولې.

د پښلې غونډلې یا کافي کلیمې لرې لرې. خو ډېرۍ وخت د لومړۍ، دوییمې دریېمې، څلورمې، پینځمې او شپږمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لرې، چې دوۍ تول ترنګتوک بشپړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ډېره (هره یوه نه) هره نیمکۍ مصرۍ پښېله باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، ه یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,ه، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلې وي؛ نیمکۍ مصرۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي.

د شپږ سره نیمکۍ مصرۍ درېیمه او د پېنځمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې نیمکۍ مصرۍ، د لومړۍ او دوېیمې مسرې څلورمه او اتمه څپه؛ د درېمې مسرې څلورمه، اتمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېرې وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي؛ په پیلۍ، دوېیمې او درېیمې څپې د څلورګونو څپو ټولوالې باندې یې زورنه راځي او یا به د اوزونو ټېټوالي او لوړوالي په بڼه څپه باندې زورنه حسکېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا نیمکۍ مصرۍ میچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې سره سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې او یوه دېرشتمې څپې خوږغږي د نیمکۍ مصرۍ مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ترڅنګه د نیمکۍ مصرۍ یوه بل رغنده ټوک ګڼل کېږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسېکي ( ساز، ټنګټکور یا موسقي) پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي لکه په دوېیمه مسره کې دوې څپه ډېرې شوي دي او خوږ غږ یې ورته ځنډنی کړی دی. دغه پایني ټوکونه په یوه پېر کې له دغو درېواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې نهمې، اتلسمې، او یوه دېرشتمې زورنې څپې له یوه څه اغېز سره نیمکۍ مصرۍ ته یوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کېدای شي.

غوره ستېه د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نومړې مسره د نیمکۍ رغښت پنځ کوي، د نیمکۍ غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره نیمکۍ هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې ولري، د دیفتنګونه او پارنویکي سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له ایزې، انګی، پټی، لنډکی، بګتی، کېسی (شپې)، پاړکی، کاکړی، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتی، سپینی (ازادي پیپلي)، کېسه ګی، د اتڼ غبرګی، درې څپېزی، څلور څپېزی، پینځه څپېزی، شپږ څپېزی، اووه څپېزی، اته څپېزی، نهه څپېزی، لس څپېزی، هایکویی، مونډۍ (سر پرېکړی)، انځورګی، کېنتوزی (سانتی)، نامانېزی، زخی، بې تولی، تولونجی، نا پښیلېزی، ناپیلی او سلسلی؛ دې ټولو پیېلو سره د سکالو (موضوع، مسلې، دننه نی برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی و لري. د دې له پاره چې دا ټول په ډېری بڼه له درې مسرو څخه رغښت مونډلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسي وي، رټ بېلوالی یا ګرندی پرک (فرق) یې و کولی شي، ورته ګڼلي وي او د ټولو زهني پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی و شي.

خو نیمکی مصری چې درې سره لري ۳۱ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۳۵ څپېزې وي؛ څلور سره نیمکی مصری ۴۴ څپېزې وي؛ پینځه سره نیمکی مصری ۵۳ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۵۷ څپېزې وي؛ شپږ سره نیمکی مصری ۶۲ څپېزې وي؛ اووه سرې نیمکی مصری ۷۱ څپېزې او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۷۵ څپېزې وي؛ اته سره نیمکی مصری ۸۴ څپېزې وي؛ نهه سرې نیمکی مصری یې ۹۳ څپېزې وي او که په اوږدې مسرې باندې شي بیا نو ۹۷ څپېزې وي ( ۴ څپې ډېرېږي او که کوشنۍ مسرې باندې شي بیا ۴ څپې ترې کمېږي) او لس سره نیمکی مصری ۱۰۶ څپېزې وي.

چې تر ټولو غوره یې څلور سره نیمکی مصری ۴۴ څپېزې رانښلولې لړی لري او دولس داني و ویل شي، خوند رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکاروندو په سته ولاړ راځي؛ ډېرې ښې یې اته سره نیمکی مصری ۸۴ څپېزې وي چې اووه داني و ویل شي؛ ښې به بیا درې سرې نیمکی مصری دي چې دولس داني یا شپاړس و ویل شي؛ لړې ښې بیا لس سره نیمکی مصری یا لسېزوني نیمکی مصری دي چې پینځه داني و ویل شي ښې راځي او دا بیا له څلورو دانو شپږ سره نیمکی مصری سره خوا په خوا ځای نیسي. پرته له غبرګغرونو او پارونویکو....

د لیکوال ( زما ) نیمکی مصری څپېزه ( څپه، سېلاب، هجا ,, سیلیبل Syllable،، د ابېڅو شمېرلو) -، خجیزه (زورنه، خج، اکسنټ ,, لفظ، د موسېکي نوټ: د خج نښه: د تورې په سرنښه چې د تلفظ د جګوالي او ټېټوالي زور، اوږدوالی، کیفیت ښيي،: ټینګه , لهجه ،: تاکید: بېلوونکی نښه: د وینا , ځانګړی، خاص او بېل ، ډول. :Accent, Morphemel ،،) جوړښت په دې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸.۲.۱۱. ۱۹ د نیمکی مصری څپیزي او زورنې

U-**U**UUU-**U**UUU

UUU-**U**UUU-**U**UUU

U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

UUU-**U**UUU-**U**UUU

U-**U**UUU-**U**UUU-**U**UUU

UUU-**U**UUU-**U**UUU

خول - ګې - ور - **څه** + خه - لک - پو - **هې** + ږي

بیا - دې - شون - **دې** + را - له - را - **کړه** + چې - څه - مه

سي - نه - سي - **نه** + بان - دې - مې - **مه** + که - وه - خو - **بو** + نه

بیا - دې - شون - **دې** + را - له - را - **کړه** + چې - څه - مه

په - سرو - من - **ګو** + لو - مې - بس - **ته** + کړه - صه - ده - **فو** + نه

بیا - دې - شون - **دې** + را - له - را - **کړه** + چې - څه - مه

۱. ۲- ۳- ۴- ۵- ۶- ۷- ۸- ۹

۱۰- ۱۱. ۱۲- ۱۳. ۱۴- ۱۵. ۱۶. ۱۷. ۱۸- ۱۹- ۲۰

۲۱- ۲۲. ۲۳- ۲۴- ۲۵- ۲۶- ۲۷- ۲۸- ۲۹- ۳۰- ۳۱- ۳۲- ۳۳

۳۴- ۳۵. ۳۶- ۳۷. ۳۸. ۳۹. ۴۰- ۴۱. ۴۲- ۴۳- ۴۴

۴۵- ۴۶- ۴۷- ۴۸- ۴۹- ۵۰- ۵۱- ۵۲- ۵۳. ۵۴- ۵۵. ۵۶- ۵۷

۵۸- ۵۹. ۶۰- ۶۱. ۶۲. ۶۳. ۶۴- ۶۵. ۶۶- ۶۷- ۶۸

د دغې شپږ سره نیمکی مصری څپیز او زورنې جوړښت بنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لويه کې د شپږ سره نيمکی مصری ځمککچپوهنې (هندسې)  رغښت يې داسې دی:
غبرګغونډلو او پارنويکو چې ډېری وخت يوه څپه وي، دوې هم وي، درې لږې دي ببڅې او څلور څپې هم شتون لري لږ او ډېر. که نوموړي توکي شتون و لري، د هرې مسرې له دوه څخه يې په ټکي لرونکي کامه او ځينې وخت په کامه يا بېلونکې نخښې باندې ترې وړاندې ورسته، ان ځنې وخت په منځ کې هم کښو ( په ځينې پېر کې چې تړويکي په بڼه راشي، يا لارغه وي يا کسر و لري، يا سرليک ته چې ټکی او نخښې نه ورکوو د غبرګغونډلې په بڼه يې پرېږدو، پرته له نخښو څخه) او د هرې مسرې سره يې ښکاره کېدل څرګندوي کېږي. که شتون يې نه درلود بيا به هېڅ نه راځي ورسره لکه په لاندېنۍ بڼه کې خو چې شتون يې و در لود په همدې بڼه يې ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت دی.

## ۱۱.۲.۸.۱۹.۱ د نيمکی مصرۍ ځمککچپوهنې (هندسې)  رغښت

په لويه کې د شپږ سره نيمکی مصری ځمککچپوهنې (هندسې)  رغښت يې داسې دی:.

اې ( ا ).   (----)؛ ____________ ؛(----)
(----)؛ ____________ ؛(----)
(----)؛ ____________________ ؛(----)
(----)؛ ____________ ؛(----)
(----)؛ ____________________ ؛(----)
(----)؛ ____________ ؛(----)

بې (ب).   (----)؛ ______ (----)؛ (----)؛ ______ (----)؛
(- - - -)؛ ____________________ ؛(- - - -) (- - - -)؛ ______ (- - - -)؛
(- - - -)؛ ____________________ ؛(- - - -) (- - - -)؛ ______ ؛(- - - -)

د شپږ سره نيمکی مصری هندسې رغښت يې داسې دی:

پې (پ).

______________
__ ______________
_______________________
__ ______________
_______________________
__ ______________

تې (ت). ______ ______ __ _____________ ______ __ ____________ ______ __

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲.۱۹.۸.۲.۱۱ د دې نيمکۍ مصرۍ سپړنه

د دې نيمکۍ مصرۍ سپړنه

لومړۍ مسره ۰+ ۹+ = ۹ څپې ده.
دوېيمه مسره ۰+۹+ ۲ = ۱۱ څپې ده چې ،، څمه ،، دفتنګونه، کړ او پارنويکي... . لري.
درېيمه مسره ۰+۱۳+ ۰ = ۱۳ څپې ده
څلورمه مسره ۰+۹+ ۲ = ۱۱ څپې ده چې ،، څمه ،، دفتنګونه، کړ او پارنويکي... . لري.
پينځمه مسره ۰+۱۳+ ۰ = ۱۳ څپې ده.
شپږمه مسره ۰+۱۳+ ۰ = ۱۳ څپې ده.

دلته ټوله نيمکۍ مصرۍ ٦۸ څپې ده، دا پنځې شپږ سره نيمکۍ مصرۍ چارتاکۍ کړ څمه لري د څپې په ګنه کې ډېروالی راوړی ولس کې دغبرګغږونه او پارنويکي... . لرغن دود دی او د نيمکۍ مصرۍ برخه ده.

۱. لومړۍ مسره
۲. دوېيمه مسره
۳. درېيمه مسره
٤. څلورمه مسره
٥. پينځمه مسره
٦. شپږمه مسره

۷. ۲. ۳. ٤. ٥. او ٦. يوه نيمکۍ مصرۍ ده

۸. زورنه (خجنه) **بولډ** شوي
۹. دفتنګونه نه لري.
۱۰. تت اسماني رنګ يې د ښکاروندی دی.

۱۱. څپې( سيلابونه)
۱. مسره ۹ څپې ده
۲. مسره ۹ څپې ده
۳. مسره ۱۳ څپې ده
٤. مسره ۹ څپې ده
٥. مسره ۱۳ څپې ده
٦. مسره ۹ څپې ده

۱۲. د اوازتيوالی او لوړوالی خطونه، اهنګ؛ترنګتوک؛
۱۳. ښځو ته منسوبې (اړوند)

خولګۍ ورځه خلک پوهېږي
بيا دې شونډې راله راکړه چې څمه
سينه، سينه باندې مې مه کاوه خوبونه
بيا دې شونډې راله راکړه چې څمه
په سرو منګولو مې بسته کړه صدفونه
بيا دې شونډې راله راکړه چې څمه

د لا ډېرو معلوماتو له پاره د لومړي ټوک ۱۱. څېرکی و ګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۸.۲.۱۱. ۲۰ ځلورمه ډله نیمکۍ مصری: اې ,, ا ،،:. د لیکوال ځرګندول چې روڼوي کتنه داسې. د لیکول نیمکۍ مصری (پام مصری ، سروکه مصری) په لاندې بڼه لوری موړ ته په لاس راکوي لکه:

۱. نیمکۍ لنډۍ له لنډۍ ځخه رغښت مومي، نیمکۍ ټپه له ټپې ځخه او نیمکۍ ټیکی له ټیکۍ ځخه او نیمکۍ مصری له مصری ځخه.

۲. نیمکۍ لنډۍ د لنډۍ پیلنی او پاینی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ نیمکۍ ټپه د ټپې پیلنی او پاینی مسرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ نیمکۍ ټیکی د ټیکۍ پیلنی او پاینی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی او نیمکۍ مصری د مصری پیلنی او پاینی مسرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی.

۳. تر ټولو لږې ښې بڼې د نیمکۍیو موړ ته په پوخ کې کوي چې شپږ سره لري.

٤. ځومره والی د نیمکۍیو موړ ته په پوخ کې کوي چې لس دانې دي او هر یوه یې شپږ مسرې لري.

٥. زورنې یې په ځلورمه، ځلورمه ځپې دي، خو ټولیز پایخج یا پاینی زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې ده او د مخنیو غونډلو ښلابښل اهنګونه د هماغی وروستۍ غونډلې تر سیوري لاندې کمزوري پاتې شوي دي. د ځلورګونو ځپو ټولوالې ځخه یې په د هرې ځلورو ځپو کې په ځلورمه ځپه زورنه ده، لومړۍ مسره کې په ځه او هې؛ دوېیمه مسره کې په ډې او کړه راغلې ده؛ درېیمه مسره کې په نه، مه او بو راغلې ده؛ ځلورمه مسره کې په ډې او کړه راغلې ده؛ پینځمه مسره کې په ګو، ته او فو راغلې ده؛ شپږه مه مسره کې په ډې او کړه راغلې ده. په شپږ واړه مسروکې ترنګتوک په ځوړ دی چې په پیلنی مسره کې یې ,, ړې ،، او په دوېیمه مسره کې په نهه مه ځپه ترګتوک نه دی راغلی، هلته ټرویکی ,, چې ،، راغلی دی؛ اهنګ یې نه دی اخستی او په وت سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, څمه ،، کړ راغلی دی چې د مسرې په کچه کې یې ۲ څپې ډېروالی راوستی او بېخباري شوي ورسره. مسره یې له ۹ څپېزې څخه ۱۱ څپېزه کړې ده او د ۹ څپېزې خوند، خوږ غږ یې نه دی ساتلی او نیمګ شوی. په ۱۱ څپه یې ترګتوک راغلی دی، خوږ غږ ځای نیولی دی، چې په همدې څپه اواز په ځوږ شوی بېرته.

د غبرګغږونو او پارنويکو په شان څکه غوره نه دی راغلی چې په چې ټرویکي ټرل شوې غوندله او د هغو په شان یې ترنګ نه دی ساتلی، دلته دا باکه لري.

په درې یمه او پینځمه مسرې یې په ,, نه،، ترنګتوک راغلی دی. خو ټولې مسرې لکه د مصرۍ پیلنۍ او پاینۍ مسرې په شان ترنګتوک ساتلی دی؛ د مصرۍ مسرو منځ باري، بېخباري په نیمګۍ بڼه په ځور غږ ساتلی دی، دا نو یوازې په ساز او اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبني ډګره نور راوځي.

٦. د نیمګۍ پیېلي پینځګوني رغنده توکونه لکه: ژبه، تول، واند (خیال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې په نیمګۍ، پام او سروکه بڼه شتون لري.

٧. نیمګۍ مصرۍ مېچه د څپېزه او خجېزه تولوالي ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بڼه او لاربسوده مخبېلګه ده. له ژبني پلوه لږ تر لږه شپږ یا زیاتي غوندلي را اخستي، خو څپې یې له ټاکلي شمېر ۹ او ۱۳ څخه تېرې کړې دی او زورنې یې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېرې نه دی کړې؛ دغه توکي نه لري. دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناټروییکي، ټروییکي، سټربل، اوسټربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښني، هیېجاني چغې، چې په دې شپږ سره نیمګۍ مصرۍ کې شتون نه لري او په پام کې یې هم نه راولو.

چې په ربنت کې نومرې مسره ۱۱ څپې کېږي او په لارغه ( پیوستون، مکث، مکثه) کېږي؛ بل لورې ته لارغه، وت او کسر درې واړه په کې راغلي چې کسر ( ماتیدنه، درز، برخه، ډله، فراکسیون ,, په ګوند کې دننه کوشنۍ ډله،، (Fraction, Deficit, Detraction, Depreciation او مطلع ( Opening) وت

(c) ketabton.com: The Digital Library



pace, Interval, Distance, Break, Ravine, فاصله ،واټن ) (Interstice, Chasm, Hiatus ته وایو؛ په لومړی مسرې کې ړ ې له بیا سره لارغه دی، دوبیمه مسره کې مه له سي سره لارغه دی، دربیمه مسره کې نه له بیا سره لارغه دی.

بویمه، اړینه ده، په چار ده چې د لنډی، ټپه، ټیکی او مصرۍ له پیلنی او پاینی مسرې سره کسر څرګندیږي؛ برابر راځي او اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي. پاینی ۲ مسرې چې سروکی دی ۲۴ څپې، د نیمکی کسر (مطلع) یا یې وګڼو چې لومړی یوه کسر ( مطلع) لري او وریسې یې هره مصرۍ بندونه دي، کسر یې له دوې مسرو چې لومړۍ یې اوږد او لنډه مسرو څخه جوړ دی، چې بیا د پښپله یې ټړون له مخې له هر بند سره ځای یا ټول تکراریږي.

پورتنۍ دوې مسرې چې له مصرۍ ورسته راشي یا بېخباري شي نه سرباري نو غوره سپیني ته راوځي.

دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی چې دواړه پیلنی مسرې دوې تکراري لړوالې مسرې دي چې دواړه یې دوې لړه دي.

او تر ټولو همدا لړونه د هرې مصرۍ له دواړو مسرو څخه ورسته تکراریږي ( منځباري او بېخباري کیږي).

دوبیمه، دربیمه او لسمه ( پاینۍ) نیمکی مصرۍ بنځو ته منسوبې دي او پیلنی ( لومړنی )، څلورمه، پینځمه، شپږمه، اووه مه، اته مه او نهه مه نیمکی مصرۍ سړو ته منسوبې دي. چې لومړی بند یا رښته نیمکی مصرۍ شپږ سره لري، لومړی سر یې د مصرۍ د سره پیلنی مسره ده ۹ څپې؛ دوبیمه مسره د نیمکی منځ باري ده، ۱۱ څپې؛ دربیمه مسره د مصرۍ دوبیمه مسره ده ۱۳ څپې؛ څلورمه او شپږمه مسره بیا همغه دوبیمه مسره ده ۱۱ څپې؛ پینځمه مسره ۱۳ څپې ده چې له ۱۱ څپې لړ سره د نیمکی بېخباري تشه یا خلاصه یا مطلع مسرې دې چې نومړې نیمکی مصرۍ شپږ لارغې لري، ۶۸ څپې ده. چې په ټوله کې ۱۰ دانې شپږ سره نیمکی مصرۍ ( ۱۰ * ۶۸ + ۲۴ = ۶۸۰ + ۲۴ = ۷۰۴ ) څپې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ورډ پوستکالي (New Microsoft Word Documents) له پامه نوموړې نیمکۍ مصرۍ، په ۳ چوپړو (Pages) کې ده، ۴۲۰ ویکي (Words) لري، ۱۵۹۸ داني یې وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نیونه ,, د ابېڅو، اونورو،، پرانټ.،، ,,( Spaces no،، Characters )، ۲۱۳۸ داني منشوره یې له وت سره دي ,,( with Spaces ،، Characters )، ۶۲ پراګرافه (Paragraphs) دي او ۱۳۵ لینو (lines) کې کښل شوي دي. له لیکي هرېی، لاندنی یادوني او پاینی یادوني سره، سره ( Include Textbox, Footnotes and Endnotes).

۸. د رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني ( Color model: RGB, Red:۱۵۷, Green: ۱۹۵, Blue:۲۳۰) دی. د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پېنځه ځلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۲ ګڼه دی.

۹. د نیمکی پنځه له هغي لنډی، ټپي، ټیکی، او مصری کېږي چې منځه ( هسته) وي، چې ځانګړې ځانګړني یې لنډی، ټپي، ټیکی او یا مصری ته ورته وي، د نیمکی نومړې منځه موږ په خپل رنګ یې چې د نیمکی رنګونو ښکاروندی یې تت اسماني دی، په تت اسماني یې ښکو او چې سرباري، یا بېخباري یا تکراري مسرې یې هم تت اسماني رنګ لري. د دې له پاره تر ډېره پورې دا څرګ موږ ته په لاس راکوي چې د نیمکی پنځې منځه وي. او ګډولي بنه یا اونګ بنه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لنډی ته منسوبې وي، یا ټپي ته منسوبې وي، یا ټیکی ته منسوبې وي او یا مصری ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې پاتې کېږي. له دې څخه یې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا نیمکی؛ نیمکی لنډی ده، که نیمکی ټپه ده، که نیمکی ټیکی ده او که نیمکی مصری ده. له دې سره سم دا نیمکی مصری ده.

۱۰. د نیمکی مصری پیېلن لیکوال صفی الله فردوس خان تولې په ګډولي بنه یا اونګ بنه جوړې کړي ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافقې ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګړ، غولې، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبر: مرکب) يا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلي دي. هره يوه نوي ګډوله رغولې چې د نوي مصرۍ سکالو ځانګړني، نخښې او ښلوالی يې ځانته غوره کړي دی؛ هره يوه مسره يې په ليکه کړې يا په ليکه برابرول (Alignment) شوي او د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لري. له مصرۍ يې ځرګنديږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېيلو څخه روغې ګډوله شوي نه دي. دا به داسې ښکاريږي چې پنځې , طبيعي، دي او مصنوعي, ديسي او شلخي، نه دي.

۱۱. د دې نيمګې مصرۍ پېيلن د پښتو ژبې لېوال دی، ځېګ تن دی، او د لغمان يوه ښه نيک نومه وګړی دی چې ډېری شعرونه يې په پښتو ادب پنځې , طبيعې، او يوه دمي پوښلې دي؛ د زهن د نيمګې مصرۍ زېږندې يې له لېوالې سره لوړه د لېوالتيا حس ساتل، لېوالې (خپلې معشقې، مېرمنې، ښځې) ته د ودنې چمتوالی، خوشحالی ربښې رغول کولو، د ژوند شته، زېمه، ودانی او کهول او پېښت ټاټوبې د سرغوندويتوب کېدلو، خوږ ژوند ګالنه، لېوالتيا ته لوړ درناوی، يوازې او يوازې لېوال خپلې لېواله او لېواله خپل لېوال ته د کوروالې اتلان جوړېدل چې دا ترټول غوره پښتونواله په ډانګېلې ربښت دی. اسلامې ربښت هم دی، چې چارپېريال له خندونو څخه لرې ساتې، د پښتونواله او دودواله پاتې شونې پرېږ دي. بل لورې ته دا د دې له پاره نه بوږوم چې ځانمنې ستاين شې، په ټوله کې د دې له پاره ده چې د نورو پېيلنو د پېيلو له پاره ترې په لرليد ګټنې واخستل شې.

۱۲. د دې نيمګې ټپې د زوکړې موده لکه څنګه چې زه وايم داسې ده: ,, کره موده يې پلازمېنه کابل، د کابل پولې تخنيک پوهنتون شپه غاله، لومړی بلاک، لومړی پوړ، دوېيمه کوټه کې د مازيګر په څلور بجې او څلوېښتو دکيکو کې ۴:۴۰ د ۰۸/ ۰۱/ ۱۳۸۵ لېږدې کې مې کښلې وې ،، ( صفی الله ، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۵۸ چوپړی )

د دې نيمګې مصرۍ چې سرليک يې نيمګې ده، د مينې او مينې پالنې لوړ حس، ټاټوبې سوکاله او ودنې چارپېريال او هواويچې د تاثير پنځې زېږنده ده، د ناوی نيمګې مصرۍ له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳. د ژور پام کونکي په بڼه، زه د لیک دود نخښي لکه: د نیمکی لنډۍ، نیمکی ټپي، نیمکی ټیکی او نیمکی مصری په هره مسره کې د چپه پېښ ،، ، : Comma کامه، دغه (،) نښه چې جملې او کلمې سره بېلوې، ویرګول. ،،؛ ندایه ،، !Exclamation : چیغه، کریږه، د تعجب نه ډکه چیغه. که !! شي دوې برابره او که درې !!! شي درې برابره لوړه چیغه ،،؛ پوښتنې نخښه ،، ؟ Question Mark: ټپوس نخښه: پلټنه اعتراض نخښه: شك نخښه: پیشنهاد نخښه: پوښتل نخښه، ټپوس کول نخښه: شك کول نخښه: مناقشه کول نخښه، غوښتنې نخښه، وړاندېز نخښه. ،،؛ انډره ،، (:) colon: شارحې نخښه، د لويې کولمې یوه برخه. ،،؛ ټکی لرونکې کامه ،، (؛)Semicolon : بېلوونکی نخښه، هغه نخښه چې د جملې فقرې سره جلاکوي. ،،؛ شمېره ،، (#) Number: ګڼه، عدد، ګڼ ( = حساب ) ،،؛ را اخستنه ،، (،، ،،) : Right left double quotation mark را اخیستنه، نقل، اقتباس. ،،؛ دوې لېندی ،، ( ) Superscipt right left parenthesis : د پاسه لیکل، لکه د نامه، ادرس یا نور، اخځوک، معترضه جمله، دوه لیندۍ، قوسونه. ،،؛ د اتصال ،، - hyphen minus: ګډکېدو نخښه، یوه ځای کېدو نخښه. ،، او ټکی ،، . full stop: پنډول، پریړول. ډك، بشپړ، مفصل. اکثر حد، اعظمی حد. په بشپړه تو ګه. ،، کارونه اړېنه بولم؛ په خپل لیکي کې کښنم چې د سرلیک، غبرګونډلو، پارنویکو، د هرې مسرې ښکاره کېدل څرګند کړي او بېلوالی یې سپینې ته راوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹.۲.۱۱ لنډکۍ

لنډکۍ له لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ سره بېلوالی لري، د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۱۳، ه یې د پښلې ( قافيې ) توري دي، هره مسره یې د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ له دوېمې مسرې (پاینۍ مسرې، دوېیمې مسرې) سره برابر او ورته وي. بېلګه یې. د رنګونو ښکاروندی یې تت تورخکی شین دی ( Color model: RGB, Red:۳۵, Green: ۵٦, Blue:۸٦) دی. د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ ۱. پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په ستهه.

- ته چې جواري کرې مابه بایه کرې مینه
- مه راپسې ژاړه وورکیه نه مې درکوینه
- جګ کړه مروندونه جلی غېږې له درځمه

## ۱۰.۲.۱۱ انکۍ (چغیان)

انکۍ له لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ سره بېلوالی لري، د مسرو شمېر یې ۴، د څپو شمېر یې ۹، ه یې د پښلې (قافيې) توری دی. هره مسره یې د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ له لومړۍ مسرې ( پیلنۍ مسرې، اولې مسرې) سره برابر او ورته وي. بېلګه یې. د رنګونو ښکاروندی یې فیروزه یې دی ( Color model: RGB, Red:۰, Green: ۲۵۵, Blue:۲۵۵) دی. د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی (د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په ستهه ۳۰ ګڼه دی.

- شینکۍ کوتره وم شوریدمه
- نه چا نیومه نه چا کتمه
- په هر یوه ټکي به پریوتمه
- نن ناولده یې کېناستمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱.۲.۱۱ بګتۍ

بګتۍ ځانته د خوند او رنګ بېل بازار لري، پښتانه مجلسیان او سازیان یې له نیمکۍ، چاربیتې، او بدلو څخه کله ورسته او کله یې په منځ کې په یوه ګرم تال او وزن، خو په ورو، نزک اواز ( اهنګ ) د مجلس رنګ بدلولو، د اورېدونکو د خوښۍ او خوشحالۍ زیاتولو له پاره وایي. د بګتۍیو د اورېدلو پر وخت په مجلس کې ټول حاضر کسان په ولولو راځي، اتومات ټول ښورېږي او له مجلس نه خوند اخلي.

بګتۍ هم د بدلو او چاربیتو په څېر کسر لري، خو کسر یې په ډېره کچه یوه بیت دوه مسرې وي، بندونه یې هم ډېرې مسرې نه لري او په لویه کې د څلورو مسرو په شا او خوا کې وي. خو بیا هم د بګتۍیو د بېلابېلو بېلګو خپلمنځي توپیرونه ډېر دي. په بګتۍیو کې هم ډول، لېوالي، بېخلیکي، افسانوي، کېسي په لنډول بڼه بیانوي.

بګتۍ له لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ سره بېلوالی لري، په سر کې له یوې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ څخه رغېږي، ورپه سې دوې یې اهنګینه مسرې راځي ۱۳ څپېزې، بیا پاینۍ مصرۍ را ځي چې ۱۳ څپې لرې او خوږه سندرېزه څپه لري. لکه د مسرو شمېر یې۳، د څپو شمېر یې ۱۳، لومړۍ او دویمه مسره یې ورته پښېلې لري؛ هره مسره یې د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ له دویمې مسرې ( پاینۍ مسرې، اخېرې مسرې) سره برابر وي او ورته وي. په ټول کې یې هغه ټول او سندرېز غږ نه لري، لکه په کومه بڼه یې چې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ لري. د رنګونو ښکاروندی یې تېز نېلې دی (Color model: RGB, Red:٥١, Green: ٥١, Blue:٢٠٤ ) دی. د لښتیلیک (جدول) ۱.۲.۱ پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۱ ګڼه دی.

- وزیرستان باندې جنګونه
- انګرېزان وایي چې سبا به جنګ له ځونه
- انګرېز ویلي چې خاونده څه اسرار دی
- په سترګو نه وینم غازیان، په ما ډزهار دی
- نصیب مې نشته، برۍ، بند مې شو توپونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- غازي ویلي دا ستا لاس دې را دراز وي
- پاکه څښتنه ستا ملک دې زما همراز وي
- په شان د ختیو به یې بند کړمه بمونه

- وزیرستان باندې خو نن سبا جګړې دي
- غازیانو لاس کې پولادي توري تېرې دي
- ما شېر افضل یې په شعرو کړل صفتونه

## ۱۲.۲.۱۱ ساده ولسي نثر

چې کټ مټ د خلکو په ژبه، چې څنګه ویل کېږي هماغسې لیکل کېږي.

په ۲۰۱۷/۲/۲ زېږدي مې له لغمانه! سهار وختي څلور بجې د نقیب الله اوستاد، پشیو د کلي ډرېور راغلو، د خیل کور مخې د ډاکټر عبدالله لغماني د ښونځی مخې نه یې پورته کوږو او د پلازمېنې کابل په هوایې میدان یې د موټرو په تمځای کې کوز کړو، له بچیانو سره مې چې هغوی مې پلار کره په رخصتی بیول ازبېکېستان ته، شېر ځوکی مې نیولې وې.

په الوتکه کې له کابله تر بلخ پورې ( په دې وخت کې زما عمر ۳۰، د مېرمنې زېبنیساء فردوس ۳۰، د مشرې لور سارانیسا ۵، د ازلدا ۴، او د الیا زوی مې ۱.۵ کلن وو). لاړلو د الله په فضل له هغې لورې مې مېرمن ډېر تاکید و کړه چې په الوتکه کې بېر ته لاړ شه، نو زه چې راغلم د الوتنې وار نه وو، نو همغه محال مې له ۲۰۱۰ تو ډې تېز منده وهونکي کوشني موټر کې له اوستاد سره خبره و کړه؛ ما ورته و ویل یوه تن ځو افغانۍیو بیایې کابل ته؟ هغه راته ویل ۱۳۰۰ افغانی.,, دو نفر است همرایم شما سوم میشد،، دوې تنه ورسره ناست وو، زه دریيم شوم، چې کېناستلم دریيم تن هم راغلو. ګړندی او په منډه یې په کیسو، کیسو سالنګونو ته ورسولو او د حاجي حبیب الله هوټل کې دمه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سالنګ کې ډارونکی توپان وو، د سړي وېره يې راوستله، ډېر سخځهار يې کوه، ډېر ډارونکې اوزونه يې له ځان سره وړل دې توپان، لاره بنده وه، د واورېژونو، واورين موسم، سرک تړلی و، په هوټل کې مو شپه و کړه؛ ټولو ويل ګونديې سبا لاره خوشې شي، شپه مې د لين د ډريورانو ته چې کومه بېله کوټه هوټل والا د ښه خدمت له پاره تياره کړي وه، زه او بل ځوان ده چې حيرتانو کې منشي و؛ هغه هم ډريور و او همغه کوټې ته وړورو، دوی لس تنو قمارونه هم وهل او زه ترې کرار ويده شوم؛ سهار چې شو د لارې ساتونکو خبر راوړه چې د څلورو ورځو له پاره لار د ناولې ، ډارونکې توپان له پاره و تړل شوه؛ مسافر دې يا انتظار و کاږي او يا دې بېرته لاړ شي، نو ډېريو ډريورانو داسې و ويل؛ دوی ساتونکي هر وخت داسې وايي، بيا په سبا لاره خوشې کړي، سبا له خيره ډېر اټکل دی چې تر ۱۲ بجو پورې لار خوشې شي.

ډېری مسافرهم زړه نازړه وو، چې لاړ شي که پاتې، ما فکر و کړه که دوباره بلخ ته لاړ شم نو د الوتکې ټيکټ په لاس نه راځي او ورسيدی هم نه شم پرواز ته نو خامخا دربانديې بله شپه مزار شريف کې راځي، که سبا له خيره سره لار خلاصيږي، راځه همدا بله شپه هم ورته دلته تېره کړه اوس الله راپېخه کړي ده،
هغه ډريور راته و ويل چې تاسو څه کوئ. بېر ته بلخ ته ځي او که دلته پاتې کيږي، ما ويل چې زه کابل ته ځم، ويل يې موږ به لاړ شو بلخ ته هغه درې تنه مسافر بېرته بلخ ته ځي، نو دا اوس ښه نه ده چې د يوه تن له پاره هغوی درې واړه پرې ګدم، ما ورته و ويل سمه ده د پېسو پرېکړه څه ډول کوې؟

هغه و ويل چې دا ده دې لارې قانون دی چې دلته يې څوک راوړه نو ټوله بيعه پرې کوي، او که بېر ته ځي نو نيمه نوره کرايه به اضافه ورکوي او که صبر کوي چې لاره خلاصه شي نو کابل ته يې رسوي، په همغه بيعه که انتظار هم هر څو ورځې و شي. ما ورته و ويل چې دا خو انصاب او عدل نه دی چې تاسو بېرته مزارې ته ځئ زه به ټوله کرايه پوره درکوم، زه به تاته ټوله کرايه ۱۳۰۰ افغانی درکړم دلته خپل يوه ملګري ډريوار سره مې کېښنوه چې ما تر کابله و رسوي.

نو ويل يې نه داسې نه کوم. څکه په دې کې يې تاوان ګڼه ځان ته، چې يوه ډريور ورته و ويل چې زه يې بيايم ما سره موټر خالې دی، يوه تن مسافر لرم خو ۸۰۰ افغانی به ماته راکوي او که نه يې لرې نو همداسې يې بيايم که نه له ۵۰۰ افغانی‌يو يې يوه افغانی کمه کرايه نه جوړېږي، نه يې وړم. ما خپل ډريور ته و ويل چې داسې ده لږ به څه ښه شم لږ به ته ښه شې او هر سړی خپلې ګټې باندې ښه پوهېږي، پښتو کې يو هـ متل دی چې داسې کار به و کړو چې په هغه کې ستا ګټه هم وي زما ګټه هم وي، يانې ستا ګټه زما ګټه او زما ګټه ستا ګټه، نو ته زر ۱۰۰۰ افغانی واخله، زه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۰ نور هم تاوان و کړم او ۵۰۰ به هغه ته ورکړم کنه تاخو ماته ویلي وه چې تر کابله ۱۳۰۰ غواړم درځخه نو اوس دې په نیمه لار کې پرېښودم.

ما ورته و ویل یواځې ۱۰۰۰ افغانۍ درکوم، نو زما هم سفري چې د عطامحمد نور ملګری او ولسوال و، د شلګر ولسوالۍ، ما ته یې و ویل زه خیر دی ۱۱۰۰ افغانۍ ورکړه. ما ورته ویل چې نه دا حق یې نه کېږي، نو هغه راته ویل چې دا ۱۰۰ افغانۍ به زه ورکړم ما ویل چې نه ته یې ولې زما پیسې ورکوې، ما سره ډېرې پیسې دي خو زه یې نه ورکوم نورې، ته په کې کار مه لره زه پوی شه او ډریور ځکه زما او د ده شخړه ده، موږ یې خپله خلاص وو. د دې له پاره دی په سخته ولاړ دی او زور وایي.

او ما ولسوال څه موده مخکې ویلي و، که ته کابل ته ځې او کار دې اړین وي نو مزار کې به کوم دوست و لرې نو دوې د الوتکې ټیکټونه دې راونېسي، موږ چې ورغلو پیسې به یې ورکړو، خو هغه راته و ویل چې نه زه نه ځم دا مې مشرانو پورې اړه لري. ( دی , ده نو یوه ځما په عمر یوه الک هم ساتلی، ور سره هم وو، نو نور غوښتی دی کابل ته چې ولسوال یې کړي، عطامحمد نور خو ځان د بلخ باچا بولي بلکې د ټولو شمالي ولایتونو ځکه زور لري، له دې ولایت د والیتوب د بدلېدو پر سر له ولس مشره، ۱۵ وزارتونه، ۱۵ سفارتونه او ۳۰ ولسوالۍ او ۱۵ انتصابي وکیلان غواړي).

نو ځکه مې لرې و شړه او رټلی ځواب مې ورکړه. ډریوار هغه زر ۱۰۰۰ افغانۍ واخستې او یوه ساعت نور هم کونه، کونه کېده هوټل کې. اوس نو څه د ډریورانو سره چای او توتان خورم او دې ډلې یوه ډریوار یوه هزاره ډریور ته په غوصه دی، وایې چې زما سورلۍ ته لربیادی او غلته وي یې، چې تاسې به د بامیانو شیبر غوربند په لار په ۲۵۰۰ افغانۍ یو بوځم، هغه زما خواکې هغه ډریوار راته کړه چې هغه هم ستا افغانان دي، زه تاسو خو یوه ژبي یئ. پوی یې کړه چې په هغې لار کې غله هم دي او طالبان هم دي، دواړه د زړه رحم نه لري، په هغه لاره له ده سره لاړ نه شئ او زه هم نه ځم.

چې ور ځخه لاړم که ګورم چې درې واړه کندهاریان دي، په منظرو راغلي او کندهار ته ځي، یوه یې رحمت الله شاهي، بل یې منان، بل یې عتیق الله نومېږي. عتیق الله ته نو دوی نانی وایي، منان یې د بنې زوی دی یا د بلې مور زوی، منان د پلار د کنداهاری زوی دی او عتیق الله یې بیا د کوشنۍ مزاری زوی دی. نو نانی نو ښه نانی دی، الله ډېر ښکلی او زړه راښکونکی مینه ناک، ډېر ښایسته پیدا کړی دی، چې څه ګورم چې ټول خلک هم ده ته ګوري، زما د ښکلو چې الکان وي ورسره نه لرېږي، خو دی ډېر ښایسته و، ډېر بلکې بېخي ډېر زړه کشکونکی و، هغه ارواښاد ملا اوستاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرۍ چې څلوېښت کاله وړاندې یې له موسیکۍ سره ویلې ده او د لغمان پخوانی اهنګین ترز کې ده، چې و ویلې یې دي:

یا خو به ماته ښه ښکارېږي
یا دې په ټول عالم کې ساری نه وینمه

عتیق الله به یا ماته ښه ښکاره شوی و او یا به ما هسې تن هېڅ لیدلی نه و، ځکه ما په اته کلونو کې داسې الک په لوی ننګرهار، لوی کابل، لوی بلخ، اوزبېکستان، او په همدومره کلونو کې مې کېدی شي ډېری روسي، تورکي، امریکایي، انګلیسي، هندي او فرانسوي د ننداړې ستېډیو ګانو خپاره شوي فلمونه ننداره کړې وي، خو مبالغه نه ده، دا نانی چې دوی له مزارې څخه کندهار ته وړه ډېر زړه کشکونکی او ډولې و.

په لار یې را څخه پوښتنې کولې، ما به کم او لږ ځوابونه ورکول ډېر پام مې خپلو بچیانو لوري ته وو، نو پلې په مزار شریف ښار کې واوره ورېدله د شپې روان وو، د هوټل په لور، ما ته یې و ویل: ګرانه!

خدای به مو بیا سره یوه ځای کړي
د سمال را واخله اوښکې پاکې کړه مینه

دې لنډۍ یې بارا ډېر خوند را کړه، همدا د ژوند یوه رښت دی، د دې له پاره زموږ د ټاټوبي هر الک ښکلی وي؛ د ژوند په ماحول کې ورته غوره لاس رسی ورکړئ؛ لوړ د لېوالتیا حس ور ورسوئ، روغې لارې ته یې برابر کړئ، چې تل په خوښئ د ټاټوبي له هواوېچې څخه خوند واخلي، هغه لارې چارې ور په ګوته کړئ چې د ژوند د اوږدېدو او ژوندي پاتې کېدو سبب یې شي، ځان او ټاټوبي ته سوکالي، بډاینه او ودنه راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳.۲.۱۱ ایزې

ایزې له ایز څخه اختسل شوي دي، ایز:- په پښتو کې شنډ، بې ثمره، د نر او ښځې په منځ کې، هغه نوم یا ستاین (صفت) چې مذکر او مونث و نه لري، بې جنسه، خصي، اشکي ( لېوالي یا عشقي)، بې لورې، بې زوره، Genderless, Hermaphrodite، ځینې ځانګړنې د مېرمنو لري او ځینې د سړو یا نورې وی. کره وره یې چې نر وي، له سلو ۵۰٪ څخه ډېر اولیک شهم و لري، چې منځی کچه یې د نرو له پاره له سلو ۴۰٪ ټېټ او په مېرمنو کې له سلو ٪ ۶۰ پورته دی. چې د لاس وجود یې نرم وي، که د نر لاس ډېر نرم وي په هغو کې د اولیم شهم له سلو ۵۰٪ پورته وي او د مېرمنو له ځانګړنو سره ورته والی پیدا کوي؛ اواز یې نازک کېږي، یا هغه ماشوم چې ډېر وخت یې له خویندو او مېرمنو سره تېروي، د هغوی کره وره او سلوک یې خپل کړي وي او دوی پرې پوهېږي هم نه، ښځونک کېږي، د ښځو او مېرمنو ځانګړنې په کې ډېرې وي.

کوی شي چې دواړه لوري ډېری شیبې له خپل بنسټ سره ګډ تېر کړي، الک له الکانو سره، لوبې و کړي لکه :- لاټو، تشلې، پټ پټونی، ډنډه او کلک، ډباډب، تېره وارول، غېږې، غوځان، دوې کړ، پرګي، له ویالې توپ، لامبو، منډه، جوړه او په ګډه، ډبلی، زده کړې، ټیکنالوژي کارونه او موندنه، د کوران (قران) ژباړه، حدیثو ګردان، د اسلام ارکان و کړي.

انجونې دي :- چندری، پټپټنې، بنګړي، ګاټي، ګوډی، پرګي، جوړه او په ګډه، بیاتي- ډال- ټېګه د ګوتو لوبې، زده کړې، ټیکنالوژي کارونه او موندنه، د کوران (قران) ژباړه، حدیثو ګردان، د اسلام ارکان و کړي. که په دوی کې یوه له بل کسه او کسې سره چې ډېر وخت تېر کړه او د دوی ځانګړنې او خصوصیات ځان کې پیدا کېدو سبب کېږي.

چې بیا د مېرمنو په شان په ناز ناز خبرې کوي، پیکی اړوي، ژر، ژر پیکی په لاس سم وي، وېښته ډېر خوځوي، لاسونه ډېر خوروي ځیک، ځیک؛ د شونډو غوړ او رنګ وهي، سپین پوډر وهي، د مېرمنو ختې او سینګار کوي، داسې کړنې ډېری کسه! کوي او کسې بیا د نرانو په شان کړنې کوي. ځینې یې خدایي ایز وي. ښځه وي خو د نر زردهکه یا د نر لمن لري؛ نر وي خو د ښځې خوړلن یا مندکه لري. پنځې ( طبیعي) ورته وایي، ځینې وخت ځنې غړي لکه سینې، تي، شونډې، د مخ ژی، زردهکه او مندکه له پلاستیکونو په روغمنو (ډاکټرانو) رغوي ځان ته. سوېې پنځې (مصنوي) ورته وایي.

په ورته بڼه ایزې هم دي لکه لنډی ایزې( لنډۍیزې) ټپه ایزې (ټپیزې) ټیکی ایزې ( ټیکیزې) او مصری ایزې ( مصرۍیزې) خپل کره وره له لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصری یو څخه را خپل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱.۲.۱۳. ۱ اي (ا):. لنډۍ ايزې

د دې له پاره زما څېړنه دا سپيني ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې يوه څو سره پېيله د څو سره لنډۍ ايزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو درې سرى پېيرن له درې سرې لټکې يا درې سرې لنډۍ ايزې، څلور سره لټکې له څلور سره لنډۍ ايزې سره، پينځه سرې لټکې له پينځه سرې لنډۍ ايزې سره، شپږ سره لټکې له شپږ سره لنډۍ ايزې سره، اووه سرې لټکې له اووه سرې لنډۍ ايزې سره، اته سرې لټکې له اته سرې لنډۍ ايزې سره، نهه سرې لټکې له نهه سرې لنډۍ ايزې سره او لس سره لټکې له لس سره لنډۍ ايزې سره... . ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لري. لکه:

## ۱۱.۲.۱۳. ۲ د لنډۍ ايزې ځانګړې ځانګېړنې

۱ :- ښه ډول لري، ۲:- بند بند دي، ۳:- ګړندى حمله کوي، ۴ :- تېز زهر لري، ۵:- تېز زورور زهر شيندي، ۶:- اوږد عمر لري، ۷:- ښه غږ يا پشهارى کوي، ۸:- په حيرانونکي بڼه دې خوښ راځي چې وې وينې، ۹:- د ليدلو تلوسه پيدا کوي، ۱۰ :- سالم بچيان راوړي، ګڼه يې ډېرېږي، ۱۱:- هر سر يې ښه فکر کوي او د بل اوز اوري، ۱۲:- د هر سر دوې د لنډى ژبې پر دوښمن وېره اچوي، ۱۳:- د تنې هر سر يې دوې سترګې وي (هر څه رانه ويني)، ۱۴:- چالباز وېشتونکي ,, د زهرو سرونه يې پيل کېږي د دې چې سيالې کوي د هر ډول جګړې له پاره چې پاېښت و کړي،، (ادمين، ۲۰۱۰ زېږدى، ۱ چوپړى)، ۱۵ :- عجيبه احساساتي، ۱۶. له لټکو يې کچه کمه ده، ۱۷:- د دوې سرو لټکې يا لنډى په کچه ګړندى نه دي، ۱۸:- لرې دې خو شتون لري.

په همدې بڼه يې همداسې پرېږدم او په همدې بڼه يې پوښ کې کوم.

هرې ټپې ايزې، ټيکى ايزې او مصرى ايزې چې دغه پورته ځانګېړنې و درلودلې نو هغو ته لنډۍ ايزې وايي. تاسو لنډۍ ايزې، ټپه ايزې، ټيکى ايزې او مصرى ايزې ته ښه غور و نيسئ!! پام ورته و کړئ! نو بيا يې پېژنى چې دا لنډى ايزې دې چې د څو سره لټکې ځانګېړنې (خصوصيات) لري. ټپه ايزې، ټيکى ايزې او مصرى ايزې دا پورته ۱۸ ځانګېړنې نه لري او ټپه ايزې، ټيکى ايزې او مصرى ايزې نه دي، بېلوالى يې پرهمدې کې دى. د دې د بېلولو له پاره زه (ليکوال) يوه بېلګه تاسو ته له خپلې پېيلې څخه کښم.

- دا به په څه جوړېږي ياره
- دا وطن نه جوړېږي ياره

غټ او واړه يې بلواکر جوړ شوي دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ .۱۳.۲.۱۱ د لنډۍ ایزې انځورونه

: دا لاندې د لنډۍ ایزې انځورونه مې د جنوري په ۳ درېیم، ۲۰۱۱ زېږدې کال کښته کړي وو.



۱۹.: درې سرې لټکه، درې سرې لنډۍ یا درې سری مار، درې سرې لنډۍ ایزه چمتو ده، ځارنې کوي. (# ۵۵ انځور )



۱۸.: پېنځه سرې لټکه، پېنځه سرې لنډۍ یا پېنځه سری مار، پېنځه سرې لنډۍ ایزه چمتو ده، ځارنې کوي. (# ۵۴ انځور )



۲۱.: پیاوړې او غوره پېنځه سرې لټکه، پېنځه سرې لنډۍ، پېنځه سرې لنډۍ ایزه چمتو ده، ځارنې کوي، روڼ بورېم چې داسې مې و کښل د لنډۍ ایزې له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زه لس سره لټکه له یوه بنه پېیلې سره تشبې (تشبع) کوم. چې ورته لس سره لنډۍ ایز یا لس سره لنډۍ ایزه وایي او تولې ځنګېړنې یې سره ورته دي. (# ۵۷ انځور )



۲۰ .: ښکلې او خوږه لټکه، لنډۍ یا لس سره مار، لنډۍ چمتو ده، ځارنې کوي، روڼ بورېم چې داسې مې وکښل د لنډۍ ایزې له پاره، کټ مټ یې همدا فلسفي اړخ وندی دی، زه لیکوال لس سره لټکه له یوه بنه پېیلې سره تشبې کوم. چې ورته لس سره لنډۍ ایز یا لس سره لنډۍ ایزه وایي او تولې ځنګېړنې یې سره ورته دي. (# ۵۶ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳.۲.۱۱ .٤ لنډۍ ایزې تعریف ( څرګندونه، ښکارونه، د دوی د یوه توري یا سکالو تشریح کول)

د وی یا ویکیي له پامه لنډۍ ایزه هغې درې سرې پېیلې ته وایي چې د لټکې سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري.

او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ی او ... .،، څخه وراندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پیدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلجیارېزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنۍ لنډۍ ایزې د مسرو شمېر یې ۳، د څپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوستریاري، غونډلې یا کلمې دي چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږوي. په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته رازې؛ لکه یوه ستووی اواز یوه وار پتلېز له خولې راوزې؛ د یوه غبرګغږ لومړی توک یوه خپلواک او دوېیم توک یې یوه نیم واک اواز وي. کله زورکی واله یې یا نرمه ,,ی،، او زرکی واله یې یا درنه یې ,,ی ،، او داسې نور. دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناترویيکي، ترویيکي،ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای.. نو، الله، او، کنه!، یه کربانه!، یه پښتیانه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه کربانه شمه!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه او ولې...)، نومرې تول د لنډۍ ایزې توکي دي، چې کله د هرې مسرې پیل کې، کله منځ، ډېری وخت په پای کې ویل کېږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښېلې کلمې یا غونډلې لرې لري. خو ډېری وخت د لومړی، دوېیمې او درېیمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی تول ترنګتوک بشپړ وي. هره لنډۍ ایزه باید د ه ( زموږ خپله ,, ه، ه یا هې ،، چې ورته وره ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,ه، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وایو) چې د پښتو ژبې ,,ہویشتم،، ګڼه ابېڅې ده. په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، لنډۍ ایزه د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. او درېیمه مسره یې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرې لنډۍ ایزې، د لومړۍ او دوېیمې مسرې څلورمه او اتمه څپه؛ د درېمې مسرې څلورمه اتمه او دولسمه څپه باندې زورنه وي او ډېرې وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسېږي.

له سیمه ییزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا لنډۍ ایزې مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې سره، سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، یوه دېرشتمې څپې خوږغږې د لنډۍ ایزې مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ترځنګه د لنډۍ ایزې یوه بل رغنده ټوک ګڼل کېږي. نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمېږي او له موسیکي (موسیقي) پلوه خوږ غږ له لاسه ور کوي. دغه پاینې ټوکون په یوه پېر کې له دغو درېواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې نهمې، اتلسمې، یوه دېرشتمې زورنې څپې له یوه څه اغېز سره لنډۍ ایزې ته یوه خوږغږې وربخښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کې دی شي. غوره سته د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د ایزې رغښت پنځ کوي، د ایزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ایزې هغه دي چې د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکې نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې و لري، له دیفتنګونو او پارنویکي سره. خو له نیمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شپې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پېیلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپیزۍ، څلور څپیزۍ، پینځه څپیزۍ، شپږ څپیزۍ، اووه څپیزۍ، اته څپیزۍ، نهه څپیزۍ، لس څپیزۍ، هایکویۍ، مونډۍ (سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ (سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلیزۍ، ناپېیلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پېیلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی و لري؛ د دې له پاره چې دا ټول په ډېرۍ بنه له درې مسرو څخه رغښت مونډلی دی او زوکړه شوي؛ ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رټ بېلوالی یا ګرندی فرق یې و کولی شي، ورته ګڼلې وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی و شي.

د ایزې رنګونو ښکاروندی یې شپټلي ( Color model: RGB, Red:۰, Green: ۱۵۳, Blue:۰ ) دی. د لښتیلیک (جدول) ۱ .۲ .۱ پینځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یوه سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سته ۳۶ ګڼه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایزې د غونډلې پوهې یا نحوې له پلوه د شنني وړ دي، د پښتو هره غونډله خبرې دي یا وینا ده، چې په کې له اوریدلو سره یې غوږونو ته د غږ یا اواز په لوړوالي او ټیټوالي بڼه رسېږي، غونډله ییز زورنه یا خج د غونډلې دننه یوه غونډ یا وی تر نورو په زیاتې زورنې او لوړوالي و ویل شي. په دې توګه د غونډلې بېلا بېل مانیز ( بیاني، امري، پوښتني... ) سره و نومېږي او جوت کاندې. پورتني درېګونې زورنې تر خپل سیورې لاندې راولي او کمزوري کېږي، خو کړ سره له منځه نه ځي؛ د هماغه اړوند توک (ویې، ویېغونډ) مانیز او پښویز چار خوندي ساتي.

یوه نیم یې بیا د غونډلې د دوېیم یا درېیم درجه زورنې استازې هم کوي، بې له دې چې مانیز اغېز وربانديې واچوي، په دې توګه غونډله زورنه په عادي غونډلو یا شعري مسرو کې پر درو څېلونو یا کالبونو یا ژانرونو وېشل کېږي؛ لکه په لاندې غونډله کې: مېرمنې له تا کربان شم ( مېر-مه- `نې- له 'تا – کر-بان - ´شم)، دغلته ( ` ) د رومبې درجه ډېر زورور ( درانه، ډېنامیکه) زورنې نښه ده، ( ' ) د دوېمې درجه لږ زورور او ( ´ ) درېیمه درجه کمزوره د زورنې نښه ده، ابېڅې یې لږ ډبل یا پېړ شوي دي چې د غږ زورنه پرې شوي دي. هر کوره په غبرګغونډله، ګډغونډله او ګډولېغونډله کې دغه درې سره زورنې ښه ترا نومېږدی شي.

ځینې ژبپوهان زورنه یوازې د وړو توکونو اړوند بولي، خو د دې له پاره چې د غونډلې دننه له دغو توکو څخه یوه زورنه ډېر دروندوالی مومي او ور سره یې بېلا بېل ډولونه توپیر مومي، نو همدغه غونډله ییز، غونډله پوهیز (نحوي) یا منطیقي زورنه نومېږي.

په یوه سندرېزه ټوټه (مسره) کې درې واړه په ټېره موزیکال زورنه له موزیکال اهنګ سره اړخ بدلوي، په هره توګه له ځان سره غونډله ییزه زورنه هم ښه برجسته کوي.
,, دلته اهنګ د وزن یا ریتم په مانا نه، بلکې د ټون په مانا دی. دا چې اسماعیل خو یې ,, اهنګ ،، د شعر له رغندو ټوکو څخه ګڼلی، موخه یې ترې ,, وزن، ریتم ،، دی او له ورسره تړلې ستاینوم ,, آهنګین ،، څخه هم موخه ,, موزون،، نه ټوننیک دی، لکه نجیب منلې چې په تېر کې د خجن د ,, ټونیک ،، په مانا کارولی او زورنه څپه یې د ,, ټونیک سېلاب،، په مانا بللې ،،
( مجاویر، ۱۳۸۸ ل، ۲۹ چوپړی)

(Tone, Intonation) په هر ډول، غونډله ییز اهنګ چې کښته پورته او یا هوار یون وخوځون و مومي؛ خبرې او نا خبرې (انشائیه) یا امري غونډلې سره سره توپیر وي، هممهال شعري اهنګ هم دی. ځکه شعر هم له غونډلو او له اړوند زورونو او اهنګونو سره تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله چې شېر د موسيکۍ ډګر ته ور ګډېږي، نو بيا يې هغه زورنې( خجونه) او اهنګونه نور له ژبني، شعري چار پېريال را وځي او ,, موزيکل،، کېږي. په دې ترڅ کې د دغه دواړو توکونه اهنګونه بلل کېږي: کمزورې زورنې ته يې ټېټ اهنګونه وايي؛ اهنګونو ته يې لوړ اهنګونه؛ هغه بيا ,, زېر او بمې: Pitch له پر له پسېوالي، ډېر پېښې او د رېږدا له پلوه له پراخوالي څخه منځ ته راځي. هر څومره چې پېښې يا تواتر شمېر زيات وي، غږ همغومره زېر او هر څومره چې لږ وي، غږ همغومره بم اوربدل کېږي. له بل پلوه که د رېږدا لمن هر څومره پراخه شي، غږ هغومره رسا او هر څومره چې لنډ تنګه شي، غږ هغومره نا رسا اورېدل کېږي.

په دې توګه غږ يا زېر وي يا بم؛ که منځنی، ولېدونکی يا جګېدونکی او داسې نور دي، اهنګ يا Intonation د زېر او بم يوه ډول دی؛ دا مانا کله چې د ګړهار په بهېر يا اوږدوکې د زېر او بمې پراختيا لمن د غونډلې په کچه وي هغه زېر او بمې اهنګ بلل کېږي. اهنګ په پښتو کې ژبني ارزښت لري، د سارې په توګه خبري او ناخبري غونډلې سره توپير وي؛ د خبرې هغې اهنګ ولېدونکی او د پوښتنې هغې جګېدونکی ... . دی،،. غاړې ,, لحنونه،،. ,, غږيز تارونه: د سا (وچې) مرۍ په لوړه برخه کې حنجرې ( چنغرک) دواړه دننه دېوالونو ته څلورو يا دوو جوړو مرغېړيو ( عضلاتو) ځای نيولی دی چې له ډېرو ارتجاعي او نرۍ يو تارو څخه جوړ شوي دي. دغو تارو ته غږيز تارونه وايي، د غږونو د جوړېدو پر وخت سا (هوا) د حنجرې له تشې نه د غږېزو تارونو له منځه تېرېږي.

که د سا (هوا) د تېرېدو پر وخت چې د غږ زېږ له پاره پر کار و لېږي، غږېز تارونه په عادي بڼه وي، په بله وينا ي،ه له بله سره لرې وي، هوا له تارونو سره بې له کوم ټکره تېرېږي او تارونه نه رېږدي. نو داسې غږونه منځته راځي چې هېڅ راز بنګهار او موسکيت نه لري، دا راز اوازونو ته ,, ناغږن اوازونه،، وايي. که د غږ د زېږ پر وخت غږيز تارونه سره نږدې راوړل شي، په بله وينا، د حنجرې تشه سره ورشي، د هغو مرغېړي سره راکېښکل شي، په دې توګه سا (هوا) تارونه پر رېږدا راوړي، داسې غږونه رامنځته کېږي چې بنګهار او موسکيت لري؛ دا راز اوازونو ته ,, غږن اوزونه ،، وايي.

دا چې ټول پښتو خپلواک اوازونه د پيدايښت پر وخت غږيز تارونه رېږدوي، نو له دې کبله ټول غږن او خواږه دي،، ( محمد رحيم، ۱۳۴۹ ل، ۵۲ چوپړی) داسې نورې رنګارنګی او ځانګړتيا وې راخپل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ,, موزیکال اهنګ،، نومونه د چا خبره د دغو ګردو توکو یا رنګا رنګیو یوه ټولګه ده. یوازېنی شعر کې دی شي، بېلا بېل اهنګ رغونکي( Componists) ورته بېلا بېل اهنګونه ور جوړ کړي. د نا زنځیري توکو ( اهنګ، لحن، زېر او بم) څه د موزیکل هغه په مټ، نه یوازې زیاته پیاوړتیا ورکوي، بلکې ور سره ورسره انګازور کوي یې هم، پر پوښتنوییکي یا استفهامیه ادات ,, ولې،، باندې؛ هرګوره، په موسیکي نوټېشن کې د دغو نښو پر ځای له ځانګړیو لیکو یا سمبولو څخه کار اخلي.

غوره لنډۍ ایزې په خپله (لومړۍ) وګړنې ډله کې تر بل هر ځېل ( ژانر، کالب) لنډۍ ته نږدې د پښتو مېچه څپېزه – زورنه ټولواله یوه ټیپیکه او لاړښوده مخبېلګه ده. له ژبنې پلوه لږ تر لږه درې یا زیاتې غونډلې را اخلي، خو هم یې څپې له ټاکلي شمېر ( دیارلسو) ټېرې نه کوي او هم یې زورنې له ټاکلي شمېر ( څلورو) ټېرې نه کوي.

ځینې زورنې یې لږه زورنه لري، ځینې یوه څه زیات، خو ټولیز پایخج یا پایۍ زورنه یې ترټولو پیاوړې راځي او همداسې یې د هرې څېرمه ( فرعي) غونډلې اهنګ ټولیز اهنګ هومره زور نه لري. په بله وینا، د مخنۍ یو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې تر سیوري لاندې کمزوري پاتې کېږي. دا نو یوازې په ساز او اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبنې ډګره نور را وځي.

په هر ډول د لنډۍ ایزې بېلابېل موزیکال اهنګونه او اړوند طرزونه په ولسي پرګنو کې شتون لري. یوازې د خالي اواز له پلوه یې د پښتو ګړودونه هومره له یوه ټېره بل او له یوې سېمې بلې ته رنګارنګي توپیر مومي. کوچیان او پوونده یې یوه شان را انګازه کوي، کلیوال یې بل راز او همداسې پسې نور. له آره همدغه ولسي اهنګونه او طرزونه دي چې ساز او اواز یا ټنګټکور ته له هاغو رنګارنګۍ یو سره لار موندلې ده.

نا ویلې دې پاتې نه شي، دغه رنګارنګۍ یې هله څو، څو ګرایه پراخوالی مومي چې له بېلابېلو وګړنۍ یو ځېلونو، لکه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ، مصرۍ، سروکیو، ببولالو، شین خالۍ یو، کاکړۍ یو، نارو او نورو سره وراندې ورسته و ویل شي.

مانا دا چې د همدغو بېلابېلو ځېلونو له طرزونو اهنګونو سره بېلابېل موزیکال ډولونه راخپلوي. لنډۍ ایزې ډولونه دومره یې کچ و مېچه شونتیاوې نه لري؛ نه دومره سرا سري منښت او ګرانښت لري. لکه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ، مصرۍ یې چې لري.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایله دا چې، شعري غونډلې د خج یا زورنې او نورو نازنځیري توکو په کارونه کې تر هغې پورې له نورو ګړنی یو  غونډلو سره کوم توپیر نه لري. ترڅو کمپوز او موزیکالې شوې نه وي، په دې لړ کې ساز، اواز، زمزمه او ترنم هر یوه راتلی شي. موزیکال زورنه د ( غونډله ییز) ډینامیکې زورنې پر خلاف تر جګېدا زیاته غځېدا او پراخېدا راخپل وي.

د نا زنځیري توکونو یا فونیمونو په لړ کې زورنه نه یوازې د ناپیلې، بلکې د پیلې (شعري) وینا له بنسټیزو توکو څخه ګڼل کېږي. لکه چې پرې پر له پسې ټینګار شوی، د پیلې په دوې ګونو بنسټیزو رغنده توکونو جوړښته برخو کې راځي. په بله وینا د ,, څپې،، تر څنګ ټیکاو لري. ان تر دې چې تر څپې هم زیات اړین بلل کېږي او هغه دا چې په یوه شعري چاپېریال کې د څپې دود کمی زیاتی شعر دومره نه زیانمنوي؛ ببخونده کوي یې لکه د یوه خج یا زورنې کمی زیاتی یا ادلون بدلون یې چې تاواني کوي او پیکه کوي. پښویېزې سرغړونې یا تېروتنې کې دی شي د تول او تال یا په دوده وینا د ,, شعري اړتیا،، په پلمه دومره نا بښنوړه ګناه و نه شمېرل شي، خو د زورنې ,, خج،، دا کمی او ویار هېڅکله نه بښل کېږي.

بل لورې ته زورنه یون نه لري، بلکې ځای پر ځای د بېلا بېلو توکو په لړ کې پر یوه ټاکلي توک ,, څپې، وی، غونډ، غونډلې،، او بیا یې پر یوه ټاکلې برخه زور اچوي. په دې ډول یې وینګ تر نورو توکو ښه ترا برجسته کوي، چې په ابېڅو کې مو د زورنې برخې ابېڅې ډېل، بولټ کړي دي چې ویکي لوستلو کې نومړې برخه کې زورنه راځي یادونه کړې او په ډاګه شوي دي. خو اهنګ یوه خوا یوازې له هماغه لویترین او بشپړترین وینایېز توک ,, غونډلې،، سره کار لري او بلخوا یون او خوځون مومي. کښته پورته یا هوار ځي او راځي، په دې توګه یې ببلا ببل ډولونه ,, خبري ، ناخبري، امري، هېښني، ارماني... ) سره نومیري ,, تشخیصوي،، چې له پاسه یې ختونه کش شوي دي.

آر (اصل) د پښتو پیېلې درې ډوله دی؛ ګړنی ,, ولسي یا وګړني،، لیکني ,, دیواني او نادېواني،، او نوي ,, ازاد،، پیېلي یا شعر بنسټ پر څپه او خج ولاړ دی. داسې چې له بېلابېلو غونډو ,, رکنو،، څخه رغېدنه مومي، یوه غونډ بیا درې ناخجنې او یوه خجنه ,, زورنیزه یا فشار لرونکې،، څپه لري. د دې زباد پر بنسټ چې د پښتو پیېلې ادانه پر څپه او خج ولاړه ده او له دې سره څې هر یوون ,, واحد،، یا ټوټه او مسره د څلورو څپو په لړ کې یوه خجنه راځي، نو د دغې اړینتیا او ورسره، ورسره د کار اسانتیا له پاره غواړو هره ټوټه، مسره په همداسې څلور څپیزو زورنو یوونونو و ویشو او غونډونه ,, رکنونه،، یې و نوموو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نا ویلې دې پاتې نه شي، کوم خج یا زورنه چې د یوه غونډ له څلورګونو څپو څخه یوه زورنه نه وي، د اړوند ویي زورنې په توګه خپل ټاکلی ځای لري، که هغه د غونډ له لومړۍ څپې سره سمون و لري، یا له دویمې، دریيمې او یا له څلورمې څپې سره. په دې ډول یوه شاعر نه شي کولی، هغه د خپل تول او تال د برابرونې په موخه له یوې څپې بلې ته و لېږد وي.

یوه غونډ بیا درې نازورنه ,, ناخجنې،، او یوه زورنې ,, خجنه یا فشار لرونکي،، څپه را اخلي. په پای کې یوه یا دوې یا درې څپې سر بارې راتللی شي، چې پر هغې پاینی رښت د منلو وړ دی. د پښتو له درې ګونه شعري ډولونو ,, ګړنۍ یو، لیکنۍ یو او اوسنۍ یو ازادو،، څخه یوازې لومړی هغه د سپلابوټونیک تول په کارونه کې لرﺑ او ډېر نانډولې لري، مګر په دغو نورو دواړو ډولونو کې یوه راز دویمند,, باقاعده،، سیستم یا ټولواله شتون لري او هغه دا چې له هرو څلورو څپو څخه یوه خجنه راځي. هغه هم په دې ډول چې یا یې لومړۍ څپه خجنه وي، یا یې دوېیمه یا یې دریيمه او یا یې څلورمه. په دې توګه هر ګړنی ,, شفاهي،، دیواني ,, لیکني،، او یا اوسني ,, ازاد،، شعر له دغه راز څپېزو غونډونو ,, رکنونو،، څخه رغېدنه موموي. له آره همغه غونډونه د پښتو ټولیز شعر کوشنۍ ترینې ټوټې ,, مسره،، دي؛ خو د دود له مخې کوشنۍ ترینه دیواني مسره اووه څپېزه ,, یوه غونډ او درې ناخجنې سرباري څپې چې بل رکن نه پوره کوي،، ده؛ ګړنی شعر یوه غونډېزه یا څلور څپېزه کوشنۍ ترینه مسره لري، د اوسني ازاد شعر کوشنۍ ترینه هم هغه یوه غونډیزه راځي، په ځینو ځانګړیو اکره ( حالتو) کې تر درې څپېزې، دوه څپېزې او ان یوه څپېزې پورې وره کې دی شي.

د زورنې دریځ ( ځای یا موقیعت) له مخې شعر څلور ډوله غونډونه یا کوشني واحدونه لري. چې زورنه څپه په ( ` ) او نا زورنه څپه په (.) ښول کېږي:

۱. هغه غونډ چې له څلورګونو څپو څخه یې لومړۍ څپه خجنه ( څپې باندې زورنه) وي، په دې ډول :.` ...

۲. هغه غونډ چې له څلورګونو څپو څخه یې دوېیمه څپه خجنه ( څپې باندې زورنه) وي، په دې ډول :..` ..

۳. هغه غونډ چې له څلورګونو څپو څخه یې دریيمه څپه خجنه ( څپې باندې زورنه) وي، په دې ډول :...` .

۴. هغه غونډ چې له څلورګونو څپو څخه یې څلورمه څپه خجنه ( څپې باندې زورنه) وي، په دې ډول :....`

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دروګونو پښتو شعرونو کې تر اوسه داسې بېلګې نه دي لیدل شوي چې لومړۍ څلور څپې یې بې زورنه وي یا په بله وینا یوه غونډ یې نه وي جوړ کړی او پېنځمه زورنه څپه یې پېل موندلی وي. مانا دا چې زورنه هېڅکله له څلورمې څپې تېرۍ نه کوي او که نه هغه شعر به هرو مرو بې تول او تاله ,, بې وزنه ،، وي. دهمدغه آر ( اصل) له مخې ځینې اوږده پور وییونه په پښتو شعر کې هډو هېڅ راتلای نه شي، لکه اهورامزدا یا نیکاراګوا چې د پښتو زورنپوهنې (خجپوهنې یا اکسنتولوجي) له پامه یې منطیقي یا عادي زورنه پر ورستۍ څپه راځي، حال دا چې دغه څپه پېنځمه ده او تر څلور څپېز غونډ وتلې ده، له ,, لارغه یې شعر،، پرته پر بله هر ,, پېنځمه شپږمه... .) څپه یې زورنه راوړل له پښتو وینګ سره اړخ نه لګوي.

د مسرې کچې له مخې د لیکني او دېواني پښتو شعر لنډترینه مسره اووه څپېزه او اوږده ترینه یې شپاړس څپېزه ده؛ هر ګوره نن سبا په نوي غزل کې تر دوې څپېزه او په اوسني ازاد شعر کې هره ټوټه د آر له مخې تر یوه غونډ( څلورو څپو) پورې کوشنۍ کېدای شي او په ځانګړیو آکرو( حالتو) کې تر درې څپېز، دوې څپېزه او یوه څپېزه هم را لنډېدای شي؛ اوږدوالی یې هم تر ۲۸ څپېزو ازمایل شوی دی. نور پورته کېدون یې ځکه ناشته چې په خپله شاعران او بل هر لوستونکی ( سندرغاړی) یې نور په یوه سا او بې لارغې ( وقفې) د لوستلو او ویلو توان نه لري، سمې غېږې نیول دي ورسره ځان پرې غوره ستړی کوي. د چا خبره سا یې په کې سوځي. په ازاد ( ناپښېلیز ) پېیلې ( شعر) کې یې هر ګوره تر ۵۲ څپېزې بېلګه ترلاسه شوې.

